د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز مطالعات منطقه‌یی

# سیمه ییز مطالعات

## فصلنامه مرکز مطالعات منطقه‌یی افغانستان

افغانستان او سیمه ییز اتصال
ځانګړې ګڼه



**۱-۲**

- دوره: اول
- سال: ۱۴۰۱ هـ.ش
- ربع: ۱-۲
- شماره مسلسل: ۶۴-۶۵
- سال تأسیس: ۱۳۸۵ هـ.ش
- کابل - افغانستان

**په دې ګڼه کې:**

- په افغانستان کې د یوه کمربند یوې لارې پروژې ...
- بررسی جایگاه جیوپولیتیک افغانستان
- د افغانستان سیمه ییز اتصال په اړه د فرصتونو ...
- نقش سیاست خارجی بی طرف و متوازن افغانستان...
- په سیمه ییز اتصال کې د افغانستان ځای او رول

سیمه ییز مطالعات
شماره: ۶۴-۶۵ ، سال ۱۴۰۱ هـ.ش

# REGIONAL STUDIES
## Quarterly Journal

Establishment: 2006
Academic Publication
Afghanistan Science Academy
Serial No: 64-65

Address:
Afghanistan Science Academy
Sherpoor Square, Kabul-Afghanistan
Tel: 0202201279

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز مطالعات منطقه‌یی

# سیمه‌ییز مطالعات

## افغانستان او سیمه ییز اتصال ځانګړې ګڼه

(لومړۍ برخه)

مجلهٔ علمی- تحقیقی
مطالعات سیاسی، اقتصادی و فرهنگی منطقه‌یی. معرفی، بررسی و تحلیل سازمان‌ها، کنفرانس‌ها و نهادهای منطقه‌یی

سال تأسیس: ۱۳۸۵ هـ.ش
شمارهٔ مسلسل: ۶۴- ۶۵

**یاداشت:**

- مقاله رسماً از آدرس مشخص با ذکر نام، تخلص، رتبه علمی، نمبر تیلفون، و ایمیل آدرس نویسنده به ادارۀ اکادمی علوم فرستاده شود.
- مقالۀ ارسالی باید علمی – تحقیقی، بکر و مطابق معیارهای پذیرفته شدۀ علمی باشد.
- مقاله باید قبلاً در جای دیگری چاپ نگردیده باشد.
- عنوان مقاله مختصر و با محتوا مطابقت داشته باشد.
- مقاله باید دارای خلاصه و حداقل حاوی ۸۰ الی ۲۰۰ کلمه بوده، گویای اصلی پرسشی باشد که مقاله در پی پاسخ‌دهی به آن است. همچنان خلاصه باید به یکی از زبان‌های یونسکو ترجمه شده باشد.
- مقاله باید دارای مقدمه، اهمیت، مبرمیت، هدف، سؤال تحقیق، روش تحقیق، نتایج به دست آمده و فهرست منابع بوده و در متن به منبع اشاره شده باشد.
- مقاله باید بدون اغلاط تایپی با رعایت تمام نکات دستور زبان و تسلسل منطقی موضوعات در یک روی صفحۀ کاغذ A4 در برنامۀ word تنظیم شده باشد.
- حجم مقاله حد اقل ۷ و حد اکثر ۱۵ صفحه معیاری بوده، با فونت سایز ۱۳ تایپ شود، فاصله بین سطر ها واحد (Single ) باشد و به شکل هارد و سافت کاپی فرستاده شود.
- هیأت‌تحریر مجله صلاحیت رد، قبول و اصلاح مقالات را بادرنظرداشت لایحۀ نشراتی اکادمی علوم دارد.
- تحلیل‌ها و اندیشه‌های ارائه شده بیانگر نظریات محقق و نویسنده بوده، الزاماً ربطی به موقف اداره ندارد.
- حق کاپی مقالات و مضامین منتشره محفوظ بوده، فقط در صورت ذکر مأخذ از آن استفاده نشراتی شده می‌تواند.
- مقالۀ وارده دوباره مسترد نمی‌گردد.

بسم الله الرحمن الرحيم

خپرندوی: د افغانستان علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسؤل مدیر:** څېړندوی محمد طاهر شرر ساپی

**مهتمـــــــم:** څېړندوی محمد شفاء مشفق

**کتنپلاوی:**

څېړنوال دکتور رفیع‌الله نیازی

څېړنوال عبدالشکور سالنگی

څېړندوی عبدالصبور مبارز

څېړندوی عمران زکریا

**پته:** د افغانستان د علومو اکاډمي د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، د شېرپور ځلور لارې، شهر نو، کابل.

**مطبعه:** شرکت طباعتی و بسته بندی بهیر.

**د اړیکو شمېرې:**

+۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹۹۳ - +۹۳۷۸۸۰۰۰۰۴۴

**د افغانستان د علومو اکاډمي برېښلیک:** Info@asa.gov.af

**د مجلې برېښلیک:** simayiz.mujala@yahoo.com

**کالنی ګډون بیې:**

په کابل کې: ۳۲۰ افغانۍ

په ولایتونو کې: ۳۴۰ افغانۍ

په نورو هېوادونو کې: ۲۰ امریکایي ډالر

**په کابل کې د یوې ګڼې بیه:**

- د علومو اکاډمۍ د څېړونکو او استاذانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

## فهرست مطالب


| عنوان | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱- د افغانستان اسلامي امارت د رئیس الوزراء ... | الحاج ملا محمد حسن آخند | ۱ |
| ۲- د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز یادښت | څېړنپوه دکتور عبد الظاهر شکیب | ۳ |
| ۳- د بهرنیو چارو وزارت پیغام | مولوي امیرخان متقي | ۵ |
| ۴- د اوبو او انرژۍ وزارت پیغام | ملا عبدالطیف منصور | ۹ |
| ۵- پیام وزارت اقتصاد | قاری دین محمد حنیـف | ۱۱ |
| ٦- پیام وزارت تحصیلات عالی | الحاج مولوي عبدالباقي حقاني | ۱۵ |
| ۷- پیام اطاق تجارت و سرمایه گذاری افغانستان | اطاق تجارت و سرمایه گذاری افغانستان | ۱۷ |
| ۸- پیام پوهنتون پولیتخنیک کابل | پوهنوال دیپلوم انجنیر عبدالرشید | ۲۱ |
| ۹- پیام وزارت معادن و پترولیم | شیخ الحدیث شهاب‌الدین دلاور | ۲۳ |
| ۱۰- په افغانستان کې د یوه کمربند او یوې.... | څېړندوی عمران زکـریا | ۲۵ |
| ۱۱- بررسی جایگاه جیوپولیتیک افغانستان | محقق زهره محمدزی | ۵۱ |
| ۱۲- د افغانستان د سیمه ییز اتصال د ... | څېړندوی عبدالصبور مبارز | ۷۷ |
| ۱۳- نقش سیاست متوازن و بی طرف در.... | معاون سرمحقق عبدالشکورسالنگی | ۱۰۵ |
| ۱۴- په سیمه ییز اتصال کې د افغانستان... | څېړندوی احسان الله احسان | ۱۲۱ |

## افغانستان او سیمه ییز اتصال: فرصتونه او ننگونې علمي - څېړنیز سیمینار ته د افغانستان اسلامي امارت د قدرمن رئیس الوزراء پیغام

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الحمد لله وکفی والسلام علی عباده الذین اصطفی امابعد:

عزیزانو پکار دی موږ ټول د خدای تعالی شکر اداء کړو چې د موقعیت او پرېمانه طبیعي زېرمو، کانونو، غرونو، خوږو اوبو او سیندونو له پلوه یې د افغانستان غوندې هېواد پر موږ لورولی دی.

دا هم د لوی رب فضل او کرم دی چې موږ ته یې له یرغلگرو او اشغالگرو څخه د گران افغانستان د ساتلو وس او توان راکړی. د افغانستان د مجاهد او مبارز ملت د بې دریغه مبارزو او قربانیو قدرداني کوم.

افغانستان د اسیا د زړه او د مرکزي او جنوبي اسیا د وصلولو له پلوه په سیمه کې ځانگړې ارزښت لري. د افغانستان ثبات او پرمختگ د گاونډیو او سیمې هېوادونو د امنیت او ثبات لپاره هم گټور دی، نو پکار دی چې دنیا د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپېژني، مسایل د تفاهم او تعامل له لارې مطرح کړي، فشار، محدودیتونه او بندیزونه د حل لاره نه ده.

موږ له ټولو سره د ښو اړیکو او تعامل غوښتونکي یوو، هیچا ته مو د افغانستان له خاورې څخه نورو ته د خطر پېښولو اجازه نه ده ورکړې او نه به یې په راتلونکي کې ورکړو. دنیاوالو ته دا وایو چې افغانستان ته د خطر نه بلکې فرصت په سترگه وگورئ او راځئ په دې خبره سره وکړو چې د افغانستان له ستراتیژیک موقعیت څخه زموږ ملي گټو ته په پام د گاونډیو او سیمې هېوادونو او ملتونو د هوساینې او سوکالۍ لپاره استفاده وشي.

د افغانستان د علومو اکاډمي ټولو درنو مسوولینو او غړو ته دې خدای پاک اجرونه او خیرونه ورکړي، چې د افغانستان او سیمه ییز اتصال: فرصتونه او ننګونې علمي - څېړنیز سیمینار یې جوړ کړی. استادان او متخصصین به د افغانستان او سیمه ییز اتصال، ننګونو او فرصتونو په اړه بحثونه او تمرکز وکړي.
ددغه مهم سیمینار له ټولو متخصصینو او پوهانو څخه هیله لرو چې د سیمه ییز اتصال په برخه کې د سمو پالیسیو د تطبیق او اهدافو په اړه لازمې مشورې شریکې کړي ، د افغانستان اسلامي امارت دغې مهمې موضوع ته متوجه دی او په دې برخه کې د هر ډول لازمې همکارۍ او اقداماتو تعهد کوي.
اسلامي امارت د سراسري امنیت او ټولنیز عدالت تامین او د فساد له منځه وړلو سره تر بل هر وخت د سیمه ییز اتصال لپاره د افغانستان له موقعیت څخه د ښې استفادې لازم شرایط برابر کړي. یو ځل بیا د سیمینار جوړوونکو او ګډونوالو ته د خیر او فلاح دعا کوم. ومن الله توفیق

والسَّلاَمُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ.

الحاج ملا محمد حسن آخند

د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء

ورځ چهارشنبه ۱۶/ ربیع الاول/ ۱۴۴۴هـ ق

## د مرکز یادښت

د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز د علمي – څېړنیز مرکز په توګه د علومو اکاډمۍ په چوکاټ کې په سیاسي، اقتصادي، کلتوري، ټولنیزو او تاریخي برخو کې د بنسټیزو هدفونو د تطبیق او د هېواد جیوپولیټیک او جیوسټراټیژیک موقعیت په پام کې نیولو سره په سیمه کې د افغانستان له امکاناتو او ظرفیتونو څخه د غوره ګټې اخیستنې لپاره علمي څېړنې ترسره کوي او لاسته راغلې پایلې د دولتي ادارو او علمي بنسټونو په واک کې ورکوي. دا چې د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز د مهمو سیمه ییزو مسایلو د شننې او مطالعې په موخه او همدارنګه له سیمه ییزو حکومتونو سره د هیواد اقتصادي او سیاسي اړیکو د پراختیا لپاره رغنده او عملي حللارې وړاندې کوي، نو کولای شو چې له دغه ظرفیت څخه د اړتیا وړ سیمه ییزو همکاریو او همغږیو په رامنځته کولو کې اغېزمنه ګټه واخلو. له همدې امله دا ځل د علومو اکاډمي د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز د "افغانستان او سیمه ییز اتصال: فرصتونه او ننګونې" تر عنوان لاندې دا علمي - څېړنیز سېمینار د ارګ په سلام خانې ماڼۍ کې دایر کړی وو، چې د افغانستان اسلامي امارت د چارواکو او لوړو مقاماتو تر څنګ د علومو اکاډمي ، پوهنتونونو او علمي ادارو نماینده ګانو او علمي اشخاصو په کې ګډون کړی وو. چې په دې سیمینار کې د سیمه ییز اتصال پر بېلابېلو موضوعاتو علمي څېړنیزې مقالې وړاندې شوې.

سیمه ییز توب او د اقتصادي اړیکو پراختیا په بهرني سیاست کې مهم ځای لري او دا چې افغانستان د جنوبي اسیا، مرکزي اسیا، منځنی ختیځ او ختیځې اسیا په منځ کې پروت هېواد دی، نو سیمه ییز تمایلات او همکارۍ د هېواد په بهرني سیاست کې یوه سټراټیژیکه اړتیا ګرځېدلې. افغانستان د اسیا د څلورلارې په توګه په سیمه ییز اتصال کې له ځانګړي رول او ځای څخه برخمن دی چې د سیمه ییزو پروژو لکه چابهار، کاسا زر، ټاپي، د لاجوردو لار او د یوه کمربند یوې لارې پروژه به د سیمه ییز اتصال په برخه کې له مهمو ګامونو څخه وي. همدارنګه افغانستان د سیمې د رېل پټلۍ له شبکې سره نښلېدل لکه د درېیو هېوادونو (تاجکستان، افغانستان او ترکمنستان) رېل پټلۍ، د پنځو ملتونو (تاجکستان، ایران، افغانستان، چین او قرغېزستان) رېل پټلۍ، په ایران کې د خواف رېل پټلۍ پروژه او افغانستان ته د هغې پراخول او همدارنګه هوایي او ځمکني دهلیزونه د

سیمه ییز اتصال د مهمو فکټورونو په توګه پېژندلای شو ، چې له یادو فرصتونو څخه د ګټې اخیستنې لپاره مطالعات او څېړنیزې ناستې مهمې ګڼل کېږي.

دا چې اوسمهال د جیو اکونومېک بحث د مخ پر ودې هېوادونو په بهرنې سیاست کې مهم ځای لري، نو له همدې امله د دغه سېمینار هدف د افغانستان او سیمه ییز اتصال موضوع مطالعه او څېړل دي؛ ځکه پر اقتصاد ولاړو سیاستونو ټینګار کولای شي چې د افغانستان او سیمې همغږي زیاته کړي او د ټرانزیټي لارو د پرانېستلو او په ځانګړي ډول د مرکزي او جنوبي اسیا د لویو سیمه ییزو اقتصادي پروژو د پرانېستلو لامل شي. له بلې خوا د ټرانزیټ او سوداګرۍ پروژو په تطبیق سره به زیات شمېر ځوانانو ته د کار زمینه برابره او د خلکو د اقتصادي، ټولنیز او کلتوري ژوند په ښه کولو کې به ګټور رول ولوبوي.

د یادونې وړ ده چې د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان جیوپولیټیک هویت او موقعیت کله ناکله د سترو قدرتونو ترمنځ د سیالۍ ډګر ګرځېدلی دی او ان ځینې وختونه خبره د بهرنیانو تر اشغال هم رسېدلې ده. په اوسنیو شرایطو کې د افغانستان سیمه ییزې اړیکې د تېرو ادبیاتو پر بنسټ نشو مطالعه کولای، نو ځکه نننې شرایط د سیمه ییزو او نړیوالو تمایلاتو په اړه نوي درک ته اړتیا لري، چې سیمه ییز اتصال کولای شي د یوې پرانېستونکې دروازې په توګه د هېواد د موقعیت په اړه نوی پوهاوی رامنځته کړي. په پای کې ویلای شم چې د دغه ډول علمی – څېړنیزو سېمینارونو دایرول او له دې لارې د پوهانو د نظرونو وړاندې کول به افغانستان ته دا فرصت په لاس ورکړي، ترڅو له ټکر او سیالۍ څخه تعامل او همکارۍ ته او له جغرافیوي او اقتصادي انزوا څخه د اسیا څلورلارې ته بدلون ومومي او په سیمه کې به مهم ځای ترلاسه کړي. چې په دې علمي څېړنیز سیمینار کې د افغانستان د پوهانو له خوا په دې اړه علمي څېړنې شوي ، چې ددې سیمینار مقالې په دې اثر کې راټولې شوي دي.

زه ستاسو نور وخت نه نیسم په پای کې یو ځل بیا د دې علمي ـ څېړنیز سیمنار د جوړېدولو له امله د افغانستان اسلامي امارت د مشرانو ، د سیمینار دتدویر دکمېسون دغړو او ټولو هغو کسانو څخه چې له موږ سره یې د دې سیمینار د تدویر او تدارک د ښېلا ښېلو چارو په تر سره کولو کې مرسته کړې، مننه کوم ، کور ودانی ورته وایم او بریالتوب یې غواړم. د یو آباد، سوکاله او پرمختللي افغانستان په هیله.

څېړنپوه دکتور عبدالظاهر شکیب

د سیمه ییزو مطالعاتو د مرکز رئیس

## د (افغانستان او سیمه ییز اتصال: فرصتونه او ننګونې) تر سرلیک لاندې علمي سیمینار ته د ا.ا.ا. د بهرنیــو چارو وزیـــر، مولوي امیر خان متقي پېغام

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

د افغانستان د علومو اکاډمۍ له مشرتابه او مشرانو څېړونکو د زړه له تله مننه کوم چې د وخت له اړتیا سره سم یې د (افغانستان او سیمه ییز اتصال: فرصتونه او ننګونې) ترسرلیک لاندې د دې علمي سیمینار تابیا نیولې ده. د علومو اکاډمۍ دا ګام د دې هیله پنځوي چې د هېواد دا معتبره اداره هغه مؤثر رول ته ورګرځي چې د هېواد په لویو پالیسیو کې خپل نظر له پالیسي جوړونکو ادارو سره شریک کړي.

(افغانستان او سیمه ییز اتصال:...) سیمینار یو مهم، مفید او د وخت له اړتیا سره سم نوښت بولم. افغانستان اوس تر بل هر وخت په سیمه ییز اتصال کې د رول لوبولو ښه مناسب فرصت موندلی دی.

افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د وریښمو د لرغونې لارې پر مسیر پروت هېواد ګڼل کېږي. د وریښمو لار نه یوازې له چین څخه اروپا ته د وریښمو تولیداتو په لېږد کې رول درلود، بلکې دا لاره افکارو، فلسفو، تجربو او شرقي او غربي تمدنونو ترمنځ هم د راکړې ورکړې یو مسیر ګڼل کېږي.

سره له دې چې افغانستان پر داسې یوه مهم مسیر پروت دی، خو له بدمرغه په وروستیو پېړیو کې د دې پرځای چې دا موقعیت په افغانستان

کې د اقتصادي ښېرازۍ او ابادۍ لامل شي، افغانستان يې د استعمارګرو هدف وګرځاوه. په نولسمه پېړۍ کې په شمال کې د تزاري روسې او په سویل کې د برتانوي هند ترمنځ سیالي چې په (سترې لوبې) يې شهرت موندلی، پر افغانستان خپل منفي اغېز درلود، په دې پړاو کې افغانستان درې ځلې د برتانوي استعمار له يرغل سره مخ شو. د شلمې پېړۍ په دوهمه نیمايي کې افغانستان د پخواني شوروي اتحاد د يرغل قرباني شو او دا هېواد يې له اوږدې بې ثباتۍ او جګړې سره مخ کړ. د یوویشتمې پېړۍ په پيل کې د امريکا متحده ايالاتو او ناټو یرغل ددغو جيوپولیټيکي سیالیو د بدمرغې لړۍ بله کړۍ وه.

په دغو تاريخي دورو کې له یوې خوا افغانستان په کور دننه ونتوانېده چې له خپل مهم جغرافیايي موقعيت څخه ښه ګټه پورته کړي او له بلې خوا د سیمې او نړۍ استعماري ځواکونو فغانستان ته د جيوپولیټيکي سیالۍ د ډګر په سترګه کتلي وو.

د امريکايي اشغال له پای او خپلواک اسلامي نظام له رامنځته کېدو وروسته اوس د دې ښه فرصت برابر شوی چې د افغانستان له ځانګړي جيواکانوميک موقعيت څخه د دې وطن د ثبات او اقتصادي ښېرازۍ لپاره ګټه پورته کړو. د جګړې پای، د خپلواکۍ ترلاسه کېدل او د سیمه ییز اتصال پر مرکز بدلېدو لپآره د نوي حکومت ټينګ عزم هغه دلايل دي چې موږ ته د دې زېرې راکوي چې افغانستان به ان شاء الله اوس په دې توانېږي چې له خپل موقعيت څخه په خپله ګټه په سیمه کې د مثبت رول لپاره استفاده وکړي.

د افغانستان نوی بهرنی سیاست یوه اساسي ستنه اقتصادي محوري ده. موږ غواړو چې د افغانستان له هغه فرصت څخه ګټه پورته کړي چې په تېر کې نه یوازې دا چې ګټه ترې پورته شوې نه ده، بلکې لا د افغانستان د بې ثباتۍ او ګډوډۍ رول ولوبوي. له دې لارې به هم زموږ ثبات او امنيت تأمين شوی وي او هم به د افغانستان د ټرانزيټ له درکه د پام وړ کلني عايد څښتن شوی وي.

د دې هدف د ترلاسه کولو لپاره موږ په تېر يوه کال کې هيله بښونکې مزل کړی دی. په دې موده کې د مرکزي اسيا د ځينو هېوادونو او جنوبي اسيا سوداګريز توکي د افغانستان له لارې يوه او بل لوري ته ولېږدول شول، د مزارشريف- کابل- پېښور، ريل پټلۍ سروې په بشپړېدو ده. د رېل پټلۍ په دې پروژه کې روسيه او قزاقستان هم لېواله دي. په دې ډول به روسيه له سويلي اسيا سره د افغانستان له لارې وصل شي. همداراز، د ټاپي پروژې د عملي پيل کار پر وړاندې ډېر خنډونه لمنځه وړل شوي دي. تېره اوونۍ د چين سوداګريز توکي د قرغزستان او بيا ازبکستان پر لار د رېل پټلۍ پرمټ د حېرتان پر لور خپل ازمايښتي مزل پيل کړ. توقع ده چې پر دې لار به چينايي توکي د کراچۍ له بندر په پرتله نيم په نيمه په لنډ وخت کې کابل ته ورسېږي. همداراز افغانستان چمتو دی چې د چين د لارې او کمربند سترې پروژې برخه شي.

دا ټولې هغه پروژې دي چې د افغانستان په محوريت په سيمه ييز اقتصادي اتصال کې مهم رول لري. په تېره يوه کال کې د سيمې نږدې ټولو هېوادونو سره مو ګټور مجالس درلودل. موږ په سيمه کې د سيمه ييز اتصال په باب د پاموړ لېوالتيا وينو او هڅه کوو چې د ټولې سيمې په ګټه ترې استفاده وشي. په دې ډول به هم په سيمه کې اقتصادي ښيرازي رامنځته شي، هم به ثبات سره مرسته وکړي او هم به سيمه کې يوه اقتصادي اجماع رامنځته کړي. په دې ټول بحث کې به افغانستان مرکزي حيثيت ولري.

په دې ټولو پرمختګونو کې مرکزي رول زموږ د متوازن او اقتصاد محوره بهرنۍ سياست و او وي به، ځکه موږ نه غواړو چې افغانستان د سيمې او نړۍ د منفي رقابتونو ډګر وي، بلکې غواړو چې افغانستان د تفاهم، همکارۍ ا اقتصادي راکړې ورکړې مرکز وي چې د ټولو په ګټه وي. موږ په لنډه موده کې وتوانېدو چې د افغانستان او سيمې ترمنځ د تېرو شلو کالونو

بې باوري لمنځه یوسو او د سیمې هېوادونو سره مثبتې اړیکې جوړې کړو. همداسې د نړۍ له هېوادونو سره هم ورته سیاست پرمخ وړو او همدا ستراتیژي د سیمې په اتصال کې د افغانستان رول بارز کوي او لاره ورته خلاصوي.

په دې هیله چې دا پړاوونه ژر ووهو او د یوه ښېرازه او پر خپلو پښو ولاړ اقتصاد څښتنان شو.

ستاسې له پاملرنې ډېره مننه
مولوي امیر خان متقي
د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر

## د اوبو او انرژۍ وزارت پیغام

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم.

اما بعد! افغانستان او منطقه یی اتصال:

منطقه یی اتصال د نني عصر یوه مهمه سیاسي او اقتصادي موضوع ده. تېر یونیم سل کاله افغانستان د شرق او غرب، شمال او جنوب ترمنځ یوه حائله منطقه وه چې نړیوالو بفر زون په نامه یادوله. له ټولې نړۍ د اورګاډي پټلۍ زموږ تر سرحداتو رارسیدلي دي (په شمال کې له جنوبي کوریا او چین څخه زموږ تر شبرخان بندر پورې؛ په اروپا کې له اوسلو، هلسنګي او ماسکو څخه زموږ تر حیرتان، آقینه او تورغنډۍ پورې په غرب کې له پاریس، مادرید، استانبول او تهران څخه زموږ تر اسلام کلا او سیستان پورې. په شرق کې له سینګاپور، تایلند، مالیزیا، بنګله دېش، هند او پاکستان څخه زموږ تر تورخم او سپین بولدک پورې). ټولې دغه لارې چې زموږ حدودو ته را رسېدلي دي، نورې دلته بندې دي. زموږ په خاوره کې د اوسپنې پټلۍ او نړیوالې معیاري لارې نشته. زموږ دغه حالت د نړۍ تجارت او نړیوال اتصال متضرر کړی دی، د بهرنیانو د یرغلونو له امله په دې لړ کې له افغانستان سره ستره ظلم شوی، افغانستان دې ته نه دی پرېښودل شوی چې دغه څلور لاری د ځان او نورو په خیر فعال کړي، د دنیا غټو طاقتونو او ګاونډیانو پر دغه څلور لارې د مسلسلو تهاجمونو او تخریب په سبب جفا کړي او موږ ټولو ته په کار ده چې افغانستان د حائل(بفرزون) پرځای د اتصال مرکز (هب آف کونیکتیویټي) وګرځوو چې اول یې موږ او بیا یې سیمې او نړۍ ته لوی خیر ورسیږی، دا به زموږ او د سیمی د امنیت او ثبات په تامین او اقتصادي پرمختګ کې لوی کردار ادا کړي.

د اورګاډی پټلۍ له مرکزي اسیا څخه زموږ له لارې جنوبي اسیا ته غځول ډېر ضرور دي، تر څو وکولای شو د مرکزي اسیا د انرژۍ پراخې منابع له تیل او ګاز د جنوبی اسیا ګنمېشتو سیمو ته چې ډېره اړتیا ورته لري زموږ له لاري ورسیږي، همدا ډول دجنوبی اسیا د کار ماهره قوه زراعتي او صنعتي تولیدات زموږ له لاري مرکزی اسیا ولسونوته رسیږي، په هیواد کې د اورګاډي د پټلۍ یو حلقوي سړک جوړول او ایران ورسره نښلول. په دغه منظور د هېواد په د ننه کې د ډبرو د سکرو او اوسپنې د معادنو استخراج او د سمنټ تولید ته وده ورکول چې د ریلګاډي د پټلیو او معیاري سړګونو په جوړولو او غځولو کې مهم نقش لري. د څلور لارې په توګه زموږ د هېواد جغرافیایي موقعیت داسې تنظمول په کار دي چې د سیمې هېوادونه او نړیوال وربانده مطمئن وی، فعال ساتل یې ټول خپل وګنې، د هیوادونو تجارت او اقتصاد وربانديې وده وکړي.

د ترانس هندوکش، نوري فایبر، تاپي، کاسا ۱۰۰۰، د اورګادي پټلۍ او د چین د یو سړک او یو کمربند لویه پروژه او نور داسې وصل کونکې نړیوال ابتکارات شته چې زموږ هېواد یې تر دقیق غور وروسته مهه برخه کیداي شي.

د علومو اکاډمۍ څخه مننه کوو او د یادې مسألی د لا څېړلو او بنسټیزه کولو په پار د همکارۍ، تخصص او تجربو شریکولو وعده کوو.

په درنښت

ملاعبدالطیف منصور

د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست

## ۱.۱.۱ پیام محترم الحاج قاری دین محمد حنیف وزیر اقتصاد پیرامون (افغانستان و اتصال منطقه یی، چالش ها و فرصت ها)

بعد از روی کار امدن نظام امارت اسلامی در افغانستان، برای توسعه و تقویت همگرایی های منطقه یی در ابعاد مختلف به ویژه در بعد اقتصادی تلاش های را در این راستا روی دست گرفته است.

کنفرانس های ازبکستان و روسیه روی مسایل تجاری و ترانزیتی از جمله امضای موافقتنامه همکاری های دوجانبه کشور روسیه و افغانستان مبنی بر خریداری نفت و گاز، سرعت در کار پروژه تاپی، کار روی وصل شدن افغانستان به خطوط آهن، افتتاح کانال قوش تیپه و افتتاح بند کجکی از جمله دستآوردهای مهم و عمده امارت اسلامی میباشد.

حمایت و استقبال سیاست های همگرایی افغانستان توسط کشورهای منطقوی ثابت میسازد که در این زمینه و بستر مناسب برای تحقق برنامه های همگرایی منطقه یی متحقق می گردد.

دید مشترک امارت اسلامی افغانستان اینست که بدون همکاری با همدیگر نمی توانیم بر چالش ها و فرصت های منطقوی موفق باشیم زیرا اتصال و همکاری های منطقه یی فرصت های را در رشد، رفاه، آسایش و آرامش تمام کشورهای منطقه ایجاد می کند و این فرصت ها حقیقتاً موثر و اثرگذار میباشد.

توسعه اقتصادی و تأمین رفاه زندگی به باور امارت اسلامی افغانستان بدون داشتن روابط دوستانه بین دولت های منطقه، تحول اقتصادی در هیچ کشوری رخ نخواهد داد با توجه به این نکته امارت اسلامی تأکید بر همگرایی در سطح منطقه و جهان دارد.

با در نظر داشت فقر و بیکاری در افغانستان این کشور معتقد است که سران کشورهای منطقه زندگی مردم را بصورت اساسی تغیر دهند بدین لحاظ چالش ها و موانع که فراراه کشورهای منطقه به ویژه شهروندان افغانستان قرار دارد با ایجاد فضای همکاری رهبران حکومت های منطقه از میان برداشته شود چون همگرایی عمیق به خاطر رشد و توسعه اقتصادی یک امر الزامی تلقی میشود.

پس به خاطر فایق آمدن بر چالش ها و تهدیدات منطقوی به یک استراتیژی مشترک منطقوی نیاز است.

چالش های که اکنون امارت اسلامی افغانستان با آن مواجه است این چالش ها بدون شک در سطح منطقه و جهان تهدیدات و خطرات جبران ناپذیر ایجاد می کند که ذیلاً به آن میپردازم:

**۱ـ داعش:** بدون شک وجود این پدیده ثبات و امنیت افغانستان و کشورهای منطقوی را به خطر مواجه میسازد و با توجه به این خطر تنها تلاش متمرکز، آگاهانه و سیستماتیک میتواند ما را به پیروزی نزدیک ساخته و باعث امن شدن افغانستان و دولت های منطقوی گردد.

**۲ـ جرایم اقتصادی:** مرتکبین جرایم اقتصادی متکی به مواد مخدر و قاچاق آن و سایر فعالیت های غیر قانونی که باعث فراهم نمودن بستر مناسب برای سیاست های جرمی میگردد که خوشبختانه امارت اسلامی افغانستان در این راستا گامهای موثری را برداشته است آز انجائیکه این پدیده تهدید بزرگ برای ثبات تمام کشورهای منطقه می باشد لازم است برای از بین بردن آن اقدامات لازم اتخاذ گردد.

**۳ـ فقر:** فقر گسترده در افغانستان و کشورهای منطقه یکی از چالش های مهم محسوب میشود با وجود ذخایر سرشار در افغانستان و سطح منطقه هنوز هم شهروندان افغانستان و کشورهای منطقه با فقر رو به رو هستند با درک این فاجعه امارت اسلامی افغانستان معتقد است که رهبران قاره آسیا در امر مبارزه با گرسنگی و کاهش فقر اقدامات لازم و عملی را روی دست بگیرند.

**موقعیت جغرافیایی و استراتیژیک افغانستان در سطح منطقه:**

موقعیت جغرافیای افغانستان در واقع حیثیت پل ارتباطی میان کشورهای آسیای مرکزی و جنوب آسیا را دارد در شمال آن کشورهای سرشار از منابع انرژی گاز، برق، نفت و دیگر مواد خام آسیای مرکزی همچون ترکمنستان، تاجکستان، ازبکستان، قزاقستان و قرغیزستان قرار دارند و در جنوب شرق آن دوکشور پاکستان و هند که سخت نیازمند انرژی و مواد خام اند، قرار گرفته اند این موقعیت برای افغانستان اهمیت ژئوپلتیک ویژه بخشیده است.

این موقعیت استراتیژیک که می بائیست عوامل توسعه و شگوفایی افغانستان را به ارمغان آورد ولی متأسفانه در طول تاریخ به میدان تاخت و تاز قدرت های جهانی مبدل گردیده و نگذاشته اند که مردم این سرزمین از آسایش و آرامش حقوقی خویش برخوردار باشند.

با توجه به این موقعیت ژئبو پلتیک و جغرافیایی، امارت اسلامی افغانستان در ایجاد روابط دوستانه و احترام متقابل به دولت های منطقه و جهان مصمم به آوردن صلح و ثبات دایمی و رفاه برای خود و منطقه میباشد و متقابلاً از کشورهای منطقه نیز چنین انتظاری را دارد:

همانطوریکه امارت اسلامی افغانستان هرگز به کسی اجازه نخواهد داد که از قلمرو اش علیه دولت های منطقه و جهان استفاده شود در عوض از رهبران کشورهای منطقه و جهان نیز عین توقع را دارد.

احترام به استقلال و حاکمیت امارت اسلامی افغانستان: با وجود تحول سیاسی، انجماد ذخایر ارزی افغانستان و فقر بیکاری که اکنون مردم ما با آن دست به گریبان است اما دولت افغانستان احترام به استقلال و حاکمیت کشورهای منطقوی را داشته و توقع میرود تا کشورهای منطقه نیز احترام متقابل را در حوزه های مختلف به خصوص در رابطه به استقلال و حاکمیت افغانستان رعایت نمایند.

در اخیر امارت اسلامی افغانستان از تلاش های سازنده در راستای همکاری های منطقه یی و تعهد این کشور جهت ایجاد فضای اعتماد و اطمینان در منطقه قدردانی نموده و پشتیبانی خویش را با کشورهای منطقه و جهان در امر مبارزه با تروریزم، کاهش سطح فقر و توسعه اقتصادی اظهار مینماید.

و من الله التوفیق

## پیام جلالتمآب الحاج مولوی عبدالباقی حقانی سرپرست وزارت تحصیلات عالی در مورد سمینار علمی- تحقیقی «افغانستان و اتصال منطقه‌یی، چالش‌ها و فرصت‌ها»

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم اما بعد، فاعوذ بالله من الشیطان الرجیم

دانشمندان، استادان، محققان و تماماً اشتراک‌کنندگان سمینار علمی- تحقیقی «افغانستان و اتصال منطقه‌یی، چالش‌ها و فرصت‌ها»

السَّلاَمُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ.!

تدویر سمینار حاضر را در این مقطع حساس کنونی کشور به همه شما و به ویژه دست‌اندرکاران آن تبریک و تهنیت عرض می‌دارم. این سمینار درحالی برگزار گردیده است که مردم قهرمان ما پس از یک دوره مبارزات و هزاران قربانی در مقابل بزرگ‌ترین ابرقدرت جهان پیروز گردیده و یک بار دیگر آزادی و استقلال خویش را حاصل نمودند.

افغانستان به عنوان یک کشور محاط به خشکه و نقطه اتصال آسیای مرکزی و آسیای جنوبی با داشتن موقعیت بسیار خوب جغرافیایی و ایکو استراتژیک، سرزمین حاصل‌خیز از نگاه زراعتی و داشتن منابع سرشار طبیعی یکی از کشورهای منطقه است که نقش بسیار اساسی در رشد و پیشرفت اقتصادی منطقه داراست و هیچ کشوری در منطقه ما نمی‌تواند در بحث توسعه اقتصادی افغانستان را نادیده بگیرد. هرچند یورش‌های ابرقدرت‌های آزمند و جنگ‌های نیابتی طی چهار دهه این فرصت را که بتوانیم استفاده مؤثر و مثمر از این داشته‌ها نماییم از ما گرفت اما اکنون زمان آن رسیده که مردم و دولت ا.ا.ا می‌توانند در این راستا گام‌های جدی برداشته و با اتصال افغانستان به چهار راه تجارتی اقتصادی کشور را رونق بخشند و به سوی پیشرفت و رفاه سوق دهند.

با درنظر داشت برنامه‌های بزرگ منطقه‌یی مطابق به نیازمندی‌ها و رقابت‌های اقتصادی جهانی و علاقمندی کشورهای بزرگ بخاطر اتصال افغانستان به شاهراه اقتصادی بین‌المللی با بهترین موقعیت زمانی و شرایط خوب انتظار داریم که با گسترش ارتباطات و تسهیلات ترانسپورتی در حمل و نقل، توسعه تجارت، سرمایه‌گذاری و استفاده بهتر از تکنالوژی مدرن زمینه‌های بهتر همکاری و همگرایی را با همسایگان و کشورهای منطقه خویش ایجاد نماییم.

رسیدن به اهداف ذکر شده زمانی محقق می‌گردد که چالش‌های موجود در این زمینه برطرف شده و با استفاده از فرصت‌های کنونی راهکارهای مناسب ایجاد گردد. بدون شک این مسئولیت خبرگان، دانشمندان و اهل علم و دانش است که با تحقیقات علمی و اکادمیک شان افغانستان عزیز را از مشکلات کنونی نجات داده و با برنامه‌های مدون راه را برای پیشرفت اقتصادی کشور هموار سازند.

وزارت تحصیلات عالی ضمن قدردانی از تدویر این گونه سمینارها اطمینان می‌دهد که با تمام امکانات و توانایی‌های خویش در راستای عملی‌سازی نتایج و فیصله‌های این سمینار تلاش می‌ورزد و آماده هرگونه همکاری در این راستا می‌باشد.

در اخیر یک بار دیگر راه اندازی سمینار حاضر را مبارک گفته از خداوند قادر و توانا استدعا می‌نمایم تا موفقیت‌های مزید را در راه تطبیق برنامه‌های ملی و وطنی برای همه ما عنایت فرماید.

بااحترام

الحاج عبدالباقی حقانی

سرپرست وزارت تحصیلات عالی

## پیام اتاق تجارت و سرمایه گذاری افغانستان پیرامون سیمنار افغانستان و اتصال منطقه یی؛ چالش ها و فرصت ها

اعضای محترم علمی افغانستان! مهمانان نهایت معزز و اشتراک کننده گان ارجمند السَّلاَمُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ.!

اتاق تجارت و سرمایه گذاری افغانستان حضور همه شما را در کنفرانس افغانستان و اتصال منطقه یی؛ چالش ها و فرصت ها خیر مقدم گفته و از برگزار کننده گان این کنفرانس با اهمیت ابراز سپاس و خرسندی نموده و خود را خوشنود و مسرت میداند که فرصت مساعد گردید تا روی یکی از کلیدی ترین موارد در تحول افغانستان پیام خویش را ارایه نماید.

حضار گرامی؛

رسیدن به درجات بلند سطح زندگی، دسترسی به تکنالوژی پیشرفته و مروجه جهان، رشد متداوم و مفید اقتصادی برای افغانستان به مصابه آرمان است که دسترسی بدان راه ها و روش های مختلف را ممکن داشته باشد اما یکی از موثرترین راه های آن ایفای نقش موثر منطقوی افغانستان و کسب حد اکثر فرصت های موجود در منطقه می باشد.

کشور افغانستان همواره به لحاظ موقعیت جغرافیایی از کشور های محسوب می شود که در منطقه خاور میانه و آسیای میانه از موقعیت کلیدی برخوردار بوده که استفاده از این موقعیت استثنایی بعنوان گام مهمی در راستای انکشاف پایدار افغانستان محسوب می شود، توسعه ترانزیت و ترانسپورت و ایفای نقش منطقه ای می تواند از اولویتهای حیاتی برای دولت

افغانستان باشد، تحقیقات نشان میدهد که کشور های محاط به خشکه مانند افغانستان از زیان های جغرافیوی و اقتصادی رنج برده و علاوتا بازگو کننده آنست که یک کشوری قسما محاط به خشکه حدود ۴۰ تا ٦٠%  مطارف بلند تر حمل و نقل را در مقایسه یک کشوری قسما غیر محاط به خشکه باید متقبل شود، با توجه به اهمیت موضوع حکومت افغانستان توانسته است که شاهد خلق فرصت ها و دستاورد های کلیدی ذیل در عرصه اتصال منطقوی و جهانی باشد. که سکتور خصوصی افغانستان از آن تقدیر می نماید، از عمده ترین این فرصت ها و دستاورد ها میتوان به قرار ذیل یاد آور شد:

- طرح احیای راه ابریشم در افغانستان؛
- افتتاح راه لاجورد و استفاده عملی از بندر چابهار (افتتاح فاز اول بندر چابهار و ارسال محموله از طریق آن به هندوستان)؛
- تکمیل شدن بخش سوام راه آهن هرات-خواف؛
- کنترول حریم هوایی به ابتکار حکومت افغانستان و انعقاد قرار داد جدید رادار میدان هوایی بین المللی کابل؛
- افتتاح فاز اول خط آهن بین المللی آسیا (اتامرا-امام نظر-آقینه)؛
- امید واری به آغاز به کار پروژه های تاپی، کاسا ۱۰۰۰ و عملیاتی شدن پروژه تاپ ۵۰۰؛
- در همکاری با سکتور خصوصی ایجاد و استفاده از دهلیز های هوایی که توانسته است تاثیرات فوق العاده روی تجارت فرامرزی افغانستان داشته باشد؛
- تامین روابط پایدار و لازمه اقتصادی با کشور های منطقه در عرصه های تجارت وترانزیت؛
- افتتاح و صدور نخستین محموله تجارتی افغانستان در چارچوب سیستم "TIR " به کشور های مختلف جهان.

اشتراک کننده گان گرامی:

از دید سکتور خصوصی افغانستان در پهلوی اقدامات و فرصت های فوق یک سلسله موانع و مشکلات فرا اتصال منطقوی در افغانستان موجود بوده که همواره سکتور خصوصی را به چالشه مواجه ساخته است که برجسته ترین آنها بر حسب ذیل می باشد:

- در بخش راه لاجورد ( عدم موجودیت تفاهم نامه های دو جانبه و پنج جانبه ترانسپورتی و گمرکی بین کشور های عضو این مسیر، عدم همکاری لازم در بخش ویزه دریوران این مسیر، عدم موجودیت عضویت در کنوانسیون ویانا، بلند بودن هزینه های کشتی بین ترکمنستان و آذربایجان و بلند بودن هزینه گمرکی و تفاوت سوخت کشور ترکمنستان؛

- در بخش چابهار ( عدم وجود اکسری ، عدم انتقال پول برای اموال صادراتی و وارداتی، وقفه بیش از حد در ترخیص کالاهای مواد اولیه، پروسیجر مغلق و زمان بر اخذ دوباره تضمین پرداخته شده، زمان بر بودن اخذ کوالتی کنترول کشور ایران، عدم موجودیت سردخانه ها در بندر دوغارون و بندر چابهار، موجودیت خاک پولی بلند در کشور های ایران و افغانستان به ترتیب ۱۰۴ دالر و ۵۲ دالر، وضع جریمه های بلند تحت عنوان برگ سبز از طرف کشور ایران و مشکل اقامه) ؛

- در بخش دهلیز های هوایی چالش ها به دو بعد داخلی و خارجی تقسیم میگردد که در بعد داخلی میتوان از ( نبود اسکنر بزرگ در دروازه های ورودی میدان هوایی، نبود اسکنر بزرگ در داخل گدام صادرات برای چک اموال صادراتی ، نبود گدام جداگانه برای محصولات صادراتی بخصوص هنگ، مشکلات بررسی فزیکی اموال توسط اولیف گروپ و نبود یک مکان مناسب برای فومیگیشن ) و در بعد خارجی (بلند بودن نرخ (Handling Charges) در میدان هوایی دهلی، مشکلات در بخش دیمرج (demurrage) وموضوع صحی (FSSAI) یاد آور گردید؛

- در بخش (TIR) مشکلاتی چون (عدم هماهنگی بین ادارات ذیدخل در تطبیق سیستم تی، مشکلات دریافت ویزه و ورودپاس برای وسایط نقلیه افغانی، عدم اعلام نمودن گمرکات مبدا و مقصد، عدم عضویت در کنوانسیون کانتینر و کنوانسیون ترافیک جاده، مسولیت پذیری ضعیف ادارت ذیدخل در تطبیق درست این سیستم و موجودیت فساد گمرکی) می باشد؛

ارجمندان:

اتاق تجارت و سرمایه گذاری افغانستان از تلاش های اخیر حکومت در جهت اتصال منطقوی افغانستان نهایت سپاس و قدردانی می نماید وهمواره تلاش نموده تا مشکلات و موانع فرا راه این امر بزرگ را انعکاس دهد که این عمل بیانگر تعهد قوی ما در زمینه رشد این اساس مهم اقتصادی بوده و باورمندیم که با برطرف کردن چالش های مطروحه شاهد تحول عظیم در این عرصه حیاتی گردیده و راه برای رشد تجارت، سرمایه گذاری، رشد اقتصاد و رفاه همگانی هموار خواهد گردید، ما همواره در کنار حکومت افغانستان و جامعه بین المللی خواهیم بود تا بر چالش ها توفیق حاصل نماییم.

## پیام پوهنتون پولی تخنیک کابل در مورد سمینار: «افغانستان و اتصال منطقه‌یی، چالش‌ها و فرصت‌ها»

پوهنتون پولی تخنیک کابل به عنوان یک نهاد علمی (عرضه‌کننده نیروی انسانی متخصص با دانش) بحث و گفتگوی اتصال منطقه‌یی که شامل ابعاد اقتصادی، تجاری، ترانزیتی و انرژی است را به عنوان یکی از عوامل اساسی توسعه کشورهای منطقه بیان می‌کند و افغانستان به عنوان چهارراه آسیا از نقش و جایگاه ویژه در اتصال منطقه‌یی برخوردار است.

یقیناً افغانستان در چهارراه آسیای قرار دارد و در درازنای تاریخش به عنوان نقطه وصل تمدن‌ها، کشورها و فرهنگ‌ها نقش ایفا کرده است. به باور ما امروز اگر کشورهای منطقه می‌خواهند که از لحاظ اقتصادی رشد کنند، باید اتصال منطقه‌یی را هرچه بیشتر اهمیت و ارزش دهند و در اتصال منطقه‌یی نقش و جایگاه افغانستان تعیین‌کننده و قابل توجه می‌باشد.

پوهنتون پولی تخنیک کابل به این باور است که همکاری کشورهای منطقه زمینه اتصال و روابط عمیق را فراهم می‌کند که می‌توان به برخی از آنها قرار ذیل اشاره کرد:

۱- همکاری در تأمین صلح دایمی؛

۲- باز شدن شریان‌های مسدود شده آسیای مرکزی؛

۳- تقویت روابط نیک و پیوندهای انسانی؛

۴- رشد اقتصادی و تأمین رفاه زندگی؛

۵- تسهیل و تسریع روند انکشاف آسیای قدرتمند.

به باور پوهنتون پولی تخنیک کابل چالش‌هایی که منطقه با آن روبرو است، زنجیره‌یی، پیچیده و وابسته به همدیگر می‌باشد. از جمله فقر پدیده قابل توجه در قاره آسیا بوده که با وجود ذخایر سرشار طبیعی، فقر گسترده یکی از ویژگی‌های قاره آسیا قلمداد می‌شود. با توجه به حاکمیت گسترده این پدیده در منطقه و سطح آسیا، اتصال و روابط میان کشورهای منطقه را به کندی مواجه ساخته است.

در پایان پوهنتون پلی تخنیک کابل از برنامه‌های ابتکارانه و خلاقانه ریاست محترم مطالعات منطقه‌یی اکادمی علوم قدردانی به عمل می‌آورد. یقیناً برگزاری چنین سمینارهای علمی توسط شخصیت‌های متخصص، تصویر بهتر از افغانستان به عنوان نقطه وصل آسیای به نمایش می‌گذارد. از خداوند متعال برای شما آرزوی تداوم برنامه‌های علمی – تحقیقی را در راستای ترقی و شکوفایی کشور تمنا داریم.

با احترام

پوهنوال دیپلوم انجنیر عبدالرشید اقبال

رئیس عمومی پوهنتون پولی تخنیک کابل

## پیام وزیر معادن و پترولیم، امارت اسلامی افغانستان پیرامون سیمینار: افغانستان و اتصال منطقه‌یی، فرصت‌ها و چالش‌ها؛

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

با عرض سلام و احترام خدمت همه اشتراک کنندگان پروگرام امروز، رؤسا و مسوولین محترم ادارات تشکر از ریاست محترم عمومی اکادمی علوم افغانستان بابت برگزرای این سمینار علمی به لطف و مرحمت الهی افغانستان دارای منابع غنی و سرشار از منرال‌های هایدرو کاربن‌ها می‌باشد. قرار معلومات که از سروی ده فیصد منابع معدنی کشور به دست آمده، ارزش منابع طبیعی افغانستان یک الی سه تریلیون دالر امریکایی تخمین زده شده است که شامل ذخایر مس، آهن، نفت و گاز، ذغال سنگ، سنگ‌های قیمتی و نیمه قیمتی، عناصر نادره، سنگ‌های مرمر، مواد ساختمانی و غیره می‌باشد و به دلایل چند دهه جنگ و ناامنی در کشور، از آن بهره‌برداری درست صورت نگرفته است.

چنانچه مدیریت سکتور معادن نیازمند داشتن پالیسی‌ها و قوانین ستندرد می‌باشد تا بتوانیم شرایط را به طور واقعی به سرمایه‌گذاران ساده ساخته و زمینه‌سازی جهت انکشاف این سکتور نموده باشیم؛ براین اساس وزارت معادن و پترولیم روی انکشاف پالیسی‌ها و چوکات قانونی سکتور کار نموده است که هدف اساسی آن قانونمند کردن فعالیت‌های غیر قانونی معدنکاری، تشویق و جذب سرمایه‌گذاری‌های داخلی و خارجی و دسترسی آنها به معلومات ضروری، استفاده از منابع معدنی براساس اصول انکشاف پایدار، کاربرد بهترین تکنالوژی عصری و رعایت مسایل محیطزیستی، صحت و ایمنی، بلندبردن عواید دولت، کاهش فقر و استفاده از منابع معدنی کشور در جهت رفاه اقتصادی با توجه به نیازمندی‌های کنونی و آینده کشور می‌باشد.

به این منظور شرط اساسی انکشاف و بهره‌برداری از سکتور معادن طرح و ترتیب برنامه‌هایی است تا با انجام آن زیربناهای اساسی منطقه با افغانستان وصل شود و نهایتاً با معادن ربط داده شوند و از این طریق شرایط اساسی برای انکشاف و بهره‌برداری مطلوب منابع معدنی با درنظر داشت روش‌های موفق شده بین‌المللی مهیا گردد که این کار نیازمند اتصال منطقه‌ای بوده و از خواسته‌های نهایت مهم سکتور معادن می‌باشد.

چون افغانستان از لحاظ موقعیت جغرافیایی منحیث چهارراه ترانزیتی از اهمیت خاص اقتصادی برخوردار می‌باشد؛ بناءً به منظور وصل افغانستان به زیربناهای منطقه‌ای لازم است تا در این زمینه تلاش‌های بیشتر صورت گیرد و این کار می‌تواند در عملی ساختن پروژهای بزرگ معادن کمک کند. با استفاده از اتصال منطقه‌ای، افغانستان می‌تواند به کشورهای شرق دور و اروپا صادرات داشته باشد و از این طریق زمینه‌سازی برای صادرات و انتقال مواد معدنی و غیر معدنی کشور فراهم گردد.

من در ضمن اینکه تلاش‌های ریاست عمومی اکادمی علوم افغانستان در تدویر همچو سمینارهای علمی حمایت می‌کنم، با استفاده از این فرصت می‌خواهم از همکاری این وزارت با استفاده از ظرفیت های بشری که در اختیار دارد در تقویه تحقیقات علمی اطمینان دهم.

شیخ الحدیث شهاب‌الدین دلاور
سرپرست وزارت معادن و پترولیم

څېړندوی عمران زکريا

## په افغانستان کې د یوه کمربند یوې لارې پروژې د تطبیق ارزونه

**لنډيز**

د چین ولسمشر شي جېنپېنګ د یوه کمربند یوې لارې پروژې له اعلان وروسته، د کمربند او لارې نوښت تر چتر لاندې د افغانستان لپاره یو شمېر پروژې اعلان شوې چې افغانستان د چین-پاکستان په اقتصادي دهلېز پورې هم وتړل شو، خو د کمربند او لارې نوښت هېڅ دهلېز له افغانستان څخه نه تېرېږي او د څو کلونو په تېرېدو سره بیا هم په افغانستان کې د نوښت اړوند زیربنایي پروژو پلي کولو ته ځانګړې پاملرنه نه ده شوې او لاملونه يې ناامني او سیاسي بې ثباتۍ بلل شوې دي.

د یوه کمربند یوې لارې پروژه د چین هغه ستره نړیواله پروژه ده چې د پلې کولو له لارې هڅه کوي په ګاونډ او سیمه کې ثبات او اقتصادي پرمختګ رامنځته کړي. جغرافیوي موقعیت ته په پاملرنې، افغانستان کولای شي د چین-مرکزي اسیا-لوېدیځې اسیا او د چین-پاکستان اقتصادي دهلېزونه یو له بل سره ونښلوي. همدارنګه د کمربند او لارې نوښت کوچنیو او سترو پروژو تطبیق کولای شي افغانستان په سیمه ییز ټرانزیټي هېواد بدل کړي چې د صنعتي کېدو ترڅنګ به هېواد اقتصادي پرمختګ هم وکړي. خو د چین له لوري یادو پروژو ته نه پاملرنه او د افغانستان په اړه د سیمه ییزې همغږۍ او همکارۍ نشتوالی، سیاسي بې ثباتي، ناامني، کمزورې حکومتولي او د زیربناوو نشتوالی هغه لاملونه وو چې په افغانستان کې د کمربند او لارې نوښت پروژو د پلي کولو مخه ونیوله. چین کولای شي د اوسنیو شرایطو په پام کې نیولو سره د افغانستان په اړه پر خپلو پالیسیو یوځل بیا غور وکړي او د کمربند او لارې نوښت پروژو ته د ځانګړې پاملرنې له لارې د افغانستان په بېلابېلو سکټورونو کې پانګونې وکړي.

## سریزه

په پیل کې د یوه کمربند یوې لارې پروژه (One Belt, One Road) د چین او ګاونډیو ترمنځ یوازې یوه سیمه ییزه پروژه وه چې د مرکزي، جنوبي او جنوب ختیځې اسیا هېوادونه له چین سره ونښلوي، خو له تدریجي تکامل وروسته یاده پروژه په سترې نړیوالې پروژې بدله شوه. ولسمشر شي جېنپېنګ په یوه وینا کې وایي: "د یوه کمربند یوې لارې نوښت د ورېښمو په لرغونې لاره کې پروت دی چې د اسیا، اروپا او افریقا په لویو وچو تمرکز کوي، خو د نورو هېوادونو لپاره هم پرانېستی دی". نوښت دوه لارې په پام کې لري، یوه د ځمکې او بله سمندري چې دواړه د اسیا، اروپا او افریقا لویې وچې نښلوي. په یادو سیمو کې د کمربند او لارې د منطق له مخې ټول "بهرنیتوب" مساوي نه دی، بلکې تدریجي توپیر شته. په دې معنی چې په دې پروژه کې د ټولو بهرنیو هېوادونو ترمنځ مساوات نشته، بلکې ډېر اهمیت د چین ګاونډیو هېوادونو ته پکې ورکړل شوی چې دوی یې د بېجېنګ لومړۍ د "ګټو حلقه" بولي.[1]

د ۲۰۲۲ ز.کال په مارچ کې هغو هېوادونو چې د کمربند او لارې نوښت د تفاهم یادښت لاسلیک کړی، شمېر یې ۱۴۷ هېوادونو ته رسېده.[2] چینایي بانکونه او شرکتونه د کمربند او لارې نوښت تر چتر لاندې په ټوله نړۍ کې د سړکونو، برېښنا فابریکو، بندرونو، رېل پټلۍ، 5G شبکې او نوري فایبر کېبلونو د مالي ملاتړ او جوړولو هڅه کوي.[3] د ورېښمو لارې اقتصادي کمربند شپږ پراختیایي "دهلیزونه" لري چې یو هم د چین-پاکستان اقتصادي دهلېز (China-Pakistan Economic Corridor) دی، په افغانستان کې سوله او ثبات د دغه دهلېز د بریالیتوب مهم عامل دی. دا چې د چین-پاکستان اقتصادي دهلېز او په ټوله کې د کمربند او لارې نوښت ډېری بې ثباته سیمې پوښي، شونې ده امنیتي ګواښونه یې پلي کول زیانمن کړي.[4]

اروپایي لیکوال کارلوس مارټینز برانکو په افغانستان کې د کمربند او لارې نوښت په اړه داسې استدلال کوي، دا چې افغانستان ولې د چین لپاره له اقتصادي او امنیتي اړخه مهم دی، اړینه نه ده چې دغه موضوع دې د کمربند او لارې نوښت

پورې وتړو. د جغرافیې او امنیت ترکیب افغانستان د کمربند او لارې نوښت پر وړاندې د دویمې درجې لوبغاړی جوړوي. د کمربند او لارې نوښت کې د افغانستان ادغام د چین لپاره لومړیتوب نه دی او دا د حیرانتیا خبره هم نه ده، ځکه د کمربند او لارې نوښت هېڅ ځمکنی دهلیز له افغانستان څخه نه تېرېږي. تر ټولو نږدې د چین-مرکزي اسیا-لوېدیځې اسیا اقتصادي دهلېز ( China-Central Asia-West Economic Corridor) او د چین-پاکستان اقتصادي دهلېز د هېواد له شاوخوا څخه تېرېږي.[۵]

که څه هم د افغانستان او چین اړیکې د پخوا په پرتله پراخې شوي، خو چین ډېره لېوالتیا نه لري چې په افغانستان کې د کمربند او لارې پروژې د پانګونې د څرنګوالي په اړه روښانتیا ورکړي. دا چې د کمربند او لارې نوښت به د افغانستان راتلونکی بدل کړي او کنه، تر ډېره د همدې هېواد په وړتیا پورې اړه لري ترڅو داسې چاپېریال رامنځته کړي چې په سیمه ییزه سوداګرۍ او ټرانزیټ کې د افغانستان مثبت ګډون ته وړتیا ور وبخښي.

افغانستان د اسیا په څلورلارې کې پروت دی چې د سیمې هېوادونه د سیمه ییزې همغږۍ له لارې کولای شي د افغانستان له موقعیت څخه د انرژۍ د لېږد او ټرانزیټ په برخه کې ګټه واخلي. د مقالې هدف په افغانستان کې د کمربند او لارې نوښت د اړوندو پروژو د تطبیق ارزونه ده چې د چین دولت یې ژمنه کړې او په ورته مهال افغانستان د یادو پروژو د تطبیق لپاره په کومه کچه شرایط چمتو کړي دي.

د اسلامي امارت بیاځلې واک ته له رسېدو څخه وړاندې د افغان چارواکو ترمنځ د سیمه ییز ادغام موضوع ډېره ګرمه وه چې د سیمې له هېوادونو سره ډېرې ناستې هم پرې وشوې، خو عملي چارو ته یې ډېره پاملرنه ونشوه، ځکه د افغانستان او سیمې ترمنځ د همغږۍ او همکارۍ چاپېریال کمزوری و. دا چې د کمربند او لارې نوښت تر چوکاټ لاندې ټاکل شوې پروژې او په راتلونکي کې د هغو تطبیق د افغانستان لپاره څومره مهم دی، د موضوع اهمیت په ډاګه کوي.

له نورو سره د دې څېړنې توپیر په دې کې دی چې په افغانستان کې د یوه کمربند یوې لارې پروژې د تطبیق ارزونه کوي. د څېړنې په اوږدو کې هڅه شوې

چې په افغانستان کې د کمربند او لارې نوښت اقتصادي ګټو ته اشاره وشي او هغه ننګونې يې په ګوته کړي چې د پروژې تطبيق يې له خنډ او ځنډ سره مخامخ کړی دی. سربېره پر دې، په افغانستان کې د کمربند او لارې نوښت اړوند پروژو د نه تطبيق او يا هم د کارونو د ورو پرمختګ په اړه د چينايي لوري نيمګړتياوو ته اشاره شوې او د نه لېوالتيا لاملونه يې په ډاګه کړي دي.

د څېړنې په اوږدو کې به دغو پوښتنو ته ځوابونه وموندل شي چې د کمربند او لارې نوښت په چوکاټ کې چين له افغانستان سره د پروژو په پلي کولو کې څومره مرسته کړې ده او د افغانستان دولت تر کومه بريده د کمربند او لارې نوښت په پلي کولو کې خپله ونډه لوبولې؟ د کمربند او لارې نوښت کې د افغانستان ادغام کومې اقتصادي ګټې لري؟

په دې مقاله کې له تشريحي-تحليلي مېتود څخه ګټه اخيستل شوې ده. دغه علمي – څېړنيزه مقاله د جوړښت له پلوه د لنډيز، سريزې، د کمربند او لارې نوښت، د کمربند او لارې پروژه کې د ادغام له لارې د افغانستان اقتصادي ګټې، په افغانستان کې د يوه کمربند يوې لارې پروژې پر وړاندې پراته خنډونه، پايلې او وړانديزونو لرونکې ده.

**د کمربند او لارې نوښت**

د يوه کمربند يوې لارې پروژه د "ورېښمو د لارې اقتصادي کمربند او د ۲۱مې پېړۍ د سمندري ورېښمو لارې" لنډه بڼه ده چې د چين ولسمشر شي جېنپېنګ له لوري د دووويناوو پر مهال وړاندې شوه. لومړۍ، کله چې د ۲۰۱۳ ز.کال د سپټمبر پر ۷مه قزاقستان ته د سفر پر مهال په نظربايف پوهنتون کې د تګلارې د همغږۍ، د سړکونو نښلولو، بې خنډه سوداګرۍ، د اسعارو تبادلې او د خلکو ترمنځ د پياوړتيا له لارې د ورېښمو لارې د اقتصادي کمربند د جوړولو وړانديز وکړ. نږدې يوه مياشت وروسته د اکټوبر پر ۳مه ولسمشر شي جېنپېنګ د اندونيزيا په پارلمان کې د خپلې وينا پر مهال يو بل وړانديز وکړ چې چين چمتو دی د ۲۱مې پېړۍ د ورېښمو د سمندري لارې په جوړولو کې د جنوب ختيځې اسيا هېوادونو ټولنې له غړو سره کار وکړي ترڅو د اتصال پياوړتيا او د سمندري همکارۍ ملګرتيا ته وده ورکړي.

د یوه کمربند یوې لارې پروژې اصلي محتوا د پالیسۍ همغږي، د زیربناوو او تاسیساتو نښلول، بې خنډه سوداګري، مالي ادغام او خلکو سره نږدې اړیکې دي، چې په اتو برخو تمرکز کوي: زیربناوې، اقتصادي او سوداګریزې همکارۍ، د صنعتي پانګونو همکارۍ، د انرژۍ د سرچینو همکارۍ، مالي همکارۍ، کلتوري او د خلکو تر منځ تبادله، ایکولوژیکي او د چاپیریال همکارۍ او سمندري همکارۍ او موخه یې د شپږو اقتصادي دهلیزونو جوړول دي. د کتاب لیکوال زیاتوي چې د کمربند او لارې نوښت په واسطه افغانستان او پاکستان، منځنۍ ختیځ او چین سره نښلوي.[٦]

د وریښمو د لارې اقتصادي کمربند او د ۲۱مې پېړۍ د وریښمو سمندري لارې ته د یوه کمربند، یوې لارې (One Belt, One Road) نوم هم ورکړل شوی دی. په ۲۰۱۵ ز.کال کې د چین له لوري "د وریښمو د لارې اقتصادي کمربند او د ۲۱مې پېړۍ د وریښمو د سمندري لارې په ګډه جوړولو باندې د نظر او عمل" سند کې د دغې پروژې هدف وړاندې شو. په ۲۰۱۷ ز.کال کې تر بیاکتنې وروسته یادې پروژې ته "د یوه کمربند او یوې لارې نوښت یا د کمربند او لارې نوښت ( Belt and Road Initiative)" نوم ورکړل شو. د چین د وریښمو نوې لار (New Silk Road) د ځمکې او سمندر دواړو دهلیزونو بیا ژوندي کولو ته اشاره کوي چې یو مهال یې خلک او تمدنونه سره نښلول. د چین دولت د دغې سترې پروژې د پلي کولو په برخه کې د نړیوال ځواک په توګه خپل اعتبار ډېر په پام کې نیولی چې د بهرني سیاست یو له مهمو هدفونو څخه دی او موخه یې د چین د مثبت انځور خپرول دي.[٧] لکه څرنګه چې له نوم څخه په ډاګه کېږي، د کمربند او لارې نوښت دوه برخې لري: په وچه کې د وریښمو د لارې اقتصادي کمربند او په سمندر کې د ۲۱مې پېړۍ سمندري د وریښمو لار. د "یو" کلمه ځکه ترې لېرې شوه ترڅو وکولای شي د کمربندونو او لارو بېلابېل اړخونه په ځان کې راونغاړي چې یاد نوښت ته شاملېږي.

پټه دې پاتې نه وي چې دغه نوښت یوازې د زیربنا او سوداګرۍ لپاره نه دی. جرمني څېړونکی په دې اړه داسې وایي: د کمربند او لارې نوښت یو پراخ کلتوري، اقتصادي او د سیاسي شبکې جوړښت دی چې د وریښمو لارې په سر کې د پرتو

هېوادونو، سیمو او ښارونو ترمنځ نښلېدو ته وده ورکوي چې منځنی ختیځ، لوېدیځه اروپا، لوېدیځه اسیا، شمالي افریقا، جنوبي اسیا، جنوب-ختیځه اسیا، د کامن وېلت خپلواک هېوادونه، د روسیې فدراسیون او منګولیا پکې شاملېږي. د کمربند او لارې دهلېزونه په اروپا کې د روټردام، هامبورګ، پراګ او ماډرېډ تر ښارونو رسېږي او همدارنګه ختیځه او شمالي افریقا سره نښلوي او د لوېې وچې د لارو، رېل او بندرونو ترمنځ شبکه رامنځته کوي.[8] د یادونې وړ ده چې د دغې پروژې بشپړتیا کېدای شي لسیزې وخت ونیسي. د ځینو سرچینو پر بنسټ، کېدای شي دا پروژه پنځه دېرش کلونه شاوخوا وخت ونیسي داسې چې د چین ولسي جمهوریت د رامنځته کېدو له سلمې کلیزې سره برابر بشپړه شي.[9]

د ۲۰۲۲ ز.کال په لومړۍ نیمایي کې د کمربند او لارې نوښت د ۱۴۷ هېوادونو ترمنځ د مالي پانګونې او قراردادي همکارۍ له لارې د چین ونډه څه باندې ۲۸،۴ ملیارده امریکایي ډالره وه. په ۲۰۱۳ ز.کال کې د پروژې له اعلان راهیسې د کمربند او لارې نوښت مجموعي ښکېلتیا ۹۳۲ ملیارده امریکایي ډالر دي، چې شاوخوا ۵٦۱ ملیارد یې په ساختماني تړونونو کې او پاتې ۳۷۱ ملیارد یې په غیر مالي پانګونه کې دي. د کمربند او لارې نوښت پانګونې لپاره د لویو لوبغاړو په توګه د چین دولتي شرکتونه دي.[10]

په ټوله کې، د یوه کمربند یوې لارې پروژه شپږ ځمکني اقتصادي دهلېزونه لري:

۱- د چین – منګولیا – فدراتیفې روسیې اقتصادي دهلېز؛

۲- د نوي یورېشیا ځمکنی پل؛

۳- د چین – مرکزي اسیا – لوېدیځې اسیا اقتصادي دهلېز؛

۴- د چین – هندو چین ټاپووزمې اقتصادي دهلېز؛

۵- د چین – پاکستان اقتصادي دهلېز؛

٦- د بنګله دېش – چین – هند – میانمار اقتصادي دهلېز.

له شپږو دهلیزونو څخه یوازې د چین-پاکستان اقتصادي دهلېز تر ټولو ډېر پام ځانته اړولی دی چې د کمربند او لارې نوښت لویه پروژه ده. همدارنګه د لیکوالانو ریچارډ غیاسي او جیا ژو په وینا، د چین حکومت باور لري چې د دې

هیواد اقتصادي وده له پولو څخه اخوا د بازارونو په پراخولو سره ساتلای شي. د یادو لیکوالانو په باور، د چین د انرژۍ ۸۰ سلنه له ملاکا تنګي څخه چې د متحده ایالاتو د سمندري ځواکونو له لوري کنټرولېږي، تېرېږي. د چین حکومت په پام کې لري چې د هند سمندر او ملاکا تنګي کې پر خپلو سوداګریزو لارو کنټرول پیاوړی کړي ترڅو د انرژۍ رسولو امنیت ډاډمن کړي، په داسې حال کې چې د بدیلې لارې په توګه د چین–پاکستان اقتصادي دهلېز جوړولو پلان هم لري.[11]

په چین کې د فوډان پوهنتون د نړیوالو مطالعاتو انسټیټوټ پروفیسور جاو هواشنګ پر دې باور دی چې د کمربند او لارې نوښت درې دوه اړخیز سیاسي-اقتصادي ملاتړي هدفونه لري. لومړی، له سیاسي پلوه د چین او په نوښت پورې د اړوندو هیوادونو ترمنځ د اړیکو پراختیا ده. دوهم، په نړیوالو اقتصادي شرایطو کې، په اړوندو سیمو کې د لا پراخو ټرانسپورټي او ارتباطي شبکو او زیربناوو جوړول دي. دریم، د کورني اقتصادي پرمختګ په موخه، د چین د بهرنۍ پانګونې ملاتړ او د تولیدي ظرفیت لوړول او د چین په لوېدیځ کې سیمه ییز پرمختګ ته وده ورکول دي.[12]

داسې ښکاري چې چین غواړي د یوه کمربند یوې لارې په واسطه د ټرانسپورټ شبکې او بازارونه یو له بل سره ونښلوي؛ د یوریشیا تولیدي ظرفیت لوړ کړي او د توکو، پانګې، انرژۍ، خامو موادو او تر یوه بریده د معلوماتو، خلکو او کلتور د لېږد اسانتیاوې برابرې کړي. دغه پروژه په پام کې لري چې له برېښنا شبکې، انرژۍ نللیکو او چټک فایبر اپټیک کېبلونو سره مل په سړک، رېل، بندر او هوایي لارو کې د پام وړ پانګونې وکړي چې په دې سره به په سیمه او نړۍ کې د چین سیاسي او اقتصادي نفوذ لاپسې پراخ شي او کېدای شي چې په راتلونکي کې متحده ایالاتو ته ورته د نړۍ په کچه د مهمو مسایلو په اړه پرېکړې وکړي.

**د کمربند او لارې پروژه کې د ادغام له لارې د افغانستان اقتصادي ګټې**

له جغرافیوي پلوه، افغانستان د جنوبي اسیا، مرکزي اسیا، چین او منځنی ختیځ تر منځ پروت دی چې کولای شي یادې سیمې یو له بل سره ونښلوي. له تاریخي اړخه، افغانستان د ورېښمو لرغوني سړک له لارې د تمدنونو د نښلوونکي په توګه شهرت درلود. دا چې افغانستان یوځل بیا د ځمکني پل په توګه یادو ورځو ته د ورستنېدو هیله لري، نو جیوستراتیژیک موقعیت یې خورا مهم دی.

د کمربند او لارې نوښت یو اقتصادي لید دی چې موخه یې د کمربند او لارې اوږدو کې د پرتو هېوادونو ترمنځ همکاري او د ګډ کار له مخې د ګډو ګټو او ګډ امنیت لور ته حرکت دی. د کمربند او لارې نوښت له اعلان راهیسې، دغهستره پروژه د چین ولسمشر شي جېنپېنګ د بهرنۍ پالیسۍ مرکز ګرځېدلې. د ۲۰۱۷ ز.کال مې کې د افغانستان په ګډون د څه باندې سلو هېوادونو استازو د یوه کمربند یوې لارې فورم کې ګډون وکړ، چې ٦٨ هېوادونو او نړیوالو سازمانونو له چین سره د همکارۍ تړونونه لاسلیک کړل.

افغانستان په سیمه ییزه سوداګرۍ او ټرانزیټ کې د ستر رول لوبولو وړتیا لري چې د منابعو بډایه هېواد په توګه کولای شي سیمه ییزو او نړیوالو بازارونو ته لاسرسی ومومي او په سیمه کې په یوه مهم ټرانزیټي مرکز بدل شي، خو په هېواد کې د معیاري سړکونو او اورګاډي شبکو نشتوالي له سیمه ییزې او نړیوالې سوداګرۍ څخه د ګټې اخیستنې مخه نیولې ده. اټکل کېږي چې د سوداګرۍ او ټرانزیټ له لارې به افغانستان له سیمه ییز اقتصاد سره د نښلېدو په موخه ٦٠٦ ملیون ډالر کلني عواید لاسته راوړي، چې کولای شي د وارداتو د لګښتونو په کمولو کې مهم رول ولوبوي، ځکه ۹۰ سلنه سوداګریز توکي له بهر څخه واردېږي.[۱۳]

مرکزي اسیا د ګازو او برېښنا تولید پرېمانه زېرمو په لرلو سره بازار ته اړتیا لري. ورته مهال، جنوبي اسیا په ځانګړې توګه پاکستان او هند، ګاز او برېښنا ته اړتیا لري چې د مرکزي اسیا انرژۍ لپاره د پام وړ بازار جوړوي. د دې انرژۍ د سوداګرۍ او ټرانزیټ لپاره افغانستان ځانګړی ځمکنی دهلیز دی چې هیڅ هیواد یې ځای نشي

نیولای؛ همدې امله دغه اهمیت د افغان حکومتونو، د سیمې هېوادونو او نړیوالو سازمانونو لکه نړیوال بانک له لوري پېژندل شوی او ټینګار پرې شوی دی.

افغانستان له مرکزي اسیا څخه جنوبي اسیا ته د انرژۍ د لېږد سیمه ییزو نوښتونو لکه مرکزي اسیا-جنوبي اسیا د برېښنا لېږد پروژې یا کاسا زر CASA-1000 هرکلی کړی دی، که عملي شي، نو افغانستان به د انرژۍ د ټرانزیټ په مرکز بدل کړي چې له قرغېزستان څخه تاجکستان او بیا د افغانستان له لارې پاکستان ته غځېږي. د دغې پروژې تړون د ۲۰۱۵ ز.کال په اپریل کې د څلورو هیوادونو ترمنځ لاسلیک شو. همدارنګه، د ټاپي TAPI سیمه ییزه پروژه هم له ځانګړي اهمیت څخه برخمنه ده.[۱۴]

دا چې په عمومي ډول د کمربند او لارې نوښت تر ډېره د زیربناوو پر جوړولو تمرکز کوي، نو کولای شي چې د هېواد په زیربناوو کې د پانګونې له لارې د زیربناوو د ملاتړ لوی خنډ حل او د صنعتي کېدو فرصت برابر کړي؛ همدارنګه افغانستان به د چین بازارونو ته له لاسرسي هم ګټه پورته کړي چې خامو موادو ته اړتیا لري. د افغانستان منځمهاله او اوږدمهاله اقتصادي پرمختګ به د کرنې، کانونو، تېلو او ګازو سکټورونو پورې تړلې وي چې د هېواد د نفوس لویه برخه په کرنه تکیه کوي او د لوړې له منځه وړلو لپاره د دې سکټور پراختیا اړینه ده. د تېلو او ګازو په سکټورونو کې پانګونه به له افغانستان سره مرسته وکړي چې د انرژۍ سترو واردوونکو هیوادونو لکه د هند او چین نړیوالو بازارونو ته لاسرسی ومومي. سربېره پر دې، افغانستان نه یوازې د عرضه کوونکي، بلکې کولای شي چې د مرکزي اسیا هېوادونو او د چین او جنوبي اسیا د انرژۍ بازارونو ترمنځ د انرژۍ ټرانزیټ د مرکز په توګه رول ترسره کړي. همدارنګه د مرکزي او جنوبي اسیا هېوادونو کې د موسمي انرژۍ کمښت د افغانستان د انرژۍ اضافي لېږد له لارې هم هوارېدلای شي، چې له مرکزي اسیا څخه د برېښنا رسولو بې نظمي د کمربند او لارې نوښت د برېښنا لېږد شبکې سره د ادغام له لارې شونې ده باثباته شي.[۱۵]

د ۲۰۱٦ ز.کال مې میاشت کې، د همکاریو د پراختیا په موخه د کمربند او لارې نوښت تر نامه لاندې یو تفاهم لیک لاسلیک شو چې چین افغانستان د یوه

داسې شریک په توګه پېژني چې د نوښت له لارې د پراخې سیمې د نښلولو لپاره "ښه ځای" لري. سربېره پر دې، د چین-افغان اورګاډي ټرانسپورټ پروژه چې چین د حیرتان بندر له لارې له افغانستان سره نښلوي، لومړی بار وړونکی رېل د ۲۰۱٦ ز.کال په اګست کې د چین له نانتونګ څخه ترلاسه شو. همدارنګه د کابل – ارومچي لومړۍ الوتنې د ۲۰۱٦ ز.کال په نیمایي کې بیا پیل شوې.

د یادونې وړ ده چې د پنځو ملتونو رېل پټلۍ موخه د سیمه ییزو سوداګریزو اړیکو اسانتیا او د سیمه ییز ثبات ته وده ده. دغه پروژه چې ۲۱۰۰ کیلومتره اوږدوالی لري، نه یوازې دا چې افغانستان به د ایران له لارې له اروپا سره ونښلي، بلکې د مرکزي اسیا له لارې به له چین او همدارنګه چین به له ایران سره ونښلوي. دغه دهلیز د چین له کاشغر، قرغزستان، تاجکستان، شېرخان بندر (د افغانستان-تاجکستان پولې په اوږدو کې) او د افغانستان له شپږو ولایتونو (کندوز، بلخ، جوزجان، فاریاب، بادغیس، هرات) له لارې د ایران مشهد او تهران ته ولاړ شي. افغانستان به د یورېشیا اورګاډي د دې لوی دهلیز د مرکز په توګه د پام وړ اقتصادي، سیاسي او ټولنیزې ګټې ترلاسه کړي. سربېره پر دې، د اورګاډي دهلیز به د کمربند او لارې نوښت په چوکاټ کې له چین سره د افغانستان د نښلولو تعقیبونه هم بشپړه کړي.

د ورېښمو ډیجیټل سړک افغانستان ته دا وړتیا ورښې چې د سمندري او ترانزیتي اړیکو لپاره د سوداګرۍ او ټرانزیټ پر لوی مرکز بدل شي. د افغانستان په اړه د سیمه ییز اقتصادي همکارۍ کنفرانس ( Regional Economic Cooperation Conference on Afghanistan) لاندې، افغانستان هوکړه وکړه چې د سیمه ییزو اړیکو ښه والي کې به مرسته کوي او د افغان ملي نوري فایبر مزی چې ۴٦۰۰ کیلومتره اوږدوالی لري، د افغانستان حلقوي سړک شاوخوا غځول کېږي او د بامیان له لارې به کابل له چغچران او ډایکنډي سره نښلوي. دا به مزارشریف د کندز او تخار له لارې له فیض اباد سره شمال لویدیز ته ونښلوي. موخه دا وه چې بدخشان او بامیان ولایتونه د نوري فایبر له حلقوي شبکې سره ونښلي او بیا د کاپیسا او کونړ ولایتونه له پاکستان سره ونښلوي. تر ۲۰۱۷ ز.کال پورې، د ۳۴

ولایتونو څخه د ۲۳ ولایتونو مرکزونه او له ۷۰ څخه ډېرې لویې ولسوالۍ ونښلول شوې او فعاله شوې. له پاکستان سره په دوو لارو تورخم او سپین بولدک، له ازبکستان سره په حیرتان، له ترکمنستان سره د اقینې او تورغونډۍ او له ایران سره د اسلام کلا له لارې نړیوالې اړیکې ټینګې شوې دي. افغانستان او چین هڅه کوي چې د واخان دهلیز له لارې چین ته د نوري فایبر حلقوي شبکې وغځوي؛ تر ۲۰۱۷ ز.کال پورې د افغان او چینایي مخابراتي شرکتونو ترمنځ سلا مشورې روانې وې. د بدخشان ولایت فیض اباد ښار له چین سره د نښلولو لپاره ۴۸۰ کیلومتره د نوري فایبر مزي ته اړتیا ده. په تېر کې، افغان حکومت پر دې باور و چې دغه اړیکه د عامه او خصوصي مشارکت د موډل له لارې رامنځته کېدلای شي چې د تېرې سروې له مخې د ۵۰ میلیونو امریکایي ډالرو پانګونې ته اړتیا لري. د چین او افغان ټیلیکام ترمنځ د ستراتیژیکو همکاریو تفاهم لیک په ۲۰۱۷ ز.کال کې لاسلیک شوی.[۱٦]

له مریم صافۍ او بسم الله علیزاده سره په مرکه کې د افغانستان د رېل شبکې پخوانی اجرایوي مشر محمد یما شمس وایي "موږ کولای شو له څلورو لارو د چین-پاکستان اقتصادي دهلیز سره ونښلو: (الف) له چمن څخه تر سپین بولډک پورې چې رېل به له کندهار څخه تر کوېټې پورې ورځي؛ (ب) له لښکرګاه څخه تر ګوادر پورې؛ (ج) له جلال اباد څخه تر پېښوره او (د) له خوست څخه تر میرام شاه پورې".

**چمن- سپین بولډک:** دا به د ډیورنډ پر فرضي کرښه له پاکستان څخه تر کندهار ښار او له هغه ځایه کابل او د کابل شمال ته د پروان، بغلان او کندز له لارې له تاجکستان سره په پوله کې تر شیرخان بندر پورې د ریل پټلۍ د نښلولو د پیل نښه وي. دا به له ترکمنستان سره پر پوله د تورغونډۍ په سرحدي ښارګوټي کې د هرات-فراه-لښکرګاه-چمن وړاندیز شوي ریل پټلۍ له لارې هم ونښلول شي. د چمن-سپین بولدک کرښه له سارک هېوادونو سره د ټرانسپورټ او ټرانزیټ د پراختیا ظرفیت لري، په ځانګړي ډول د افغانستان، پاکستان، هند او مرکزي اسیا هیوادونو او ان د ترکمنستان له لارې د لاجوردو لار لپاره د متقابلې سوداګرۍ اسانتیاوې برابروي.

**لښکرګاه-ګوادر:** لښکرګاه-ګوادر کولای شي افغانستان له سمندر سره ونښلوي. د چین لخوا جوړ شوي ځانګړي اقتصادي زونونه به افغانستان ته د اقتصادي پرمختګ فرصت په لاس ورکړي. مرکزي اسیا په اوږدو لارو تکیه کوي او د ټرانسپورټ لګښتونه یې د پام وړ دي؛ افغانستان د مرکزي اسیا لپاره کولای شي چې په لنډ واټن کې د لښکرګاه-ګوادر له لارې سمندر ته لار برابره کړي او همدارنګه د ایران او پاکستان سمندري بندرونو ته تر ټولو مستقیمه او اقتصادي لار وړاندې کوي. د ګوادر او بهرام شاه لار د دې وړتیا لري چې د افغانستان د رېل ملي شبکې له لارې د تورغنډۍ په سیمه کې د پاکستان او ترکمنستان ترمنځ اړیکې اسانه کړي.

**جلال اباد-تورخم-پېښور او خوست- میرام شاه:** د جلال اباد- تورخم- پېښور او د خوست-میرام شاه د نښلولو نقطې د افغانستان د ملي ریل پټلۍ د پروژې یوه برخه ده چې د شمال- جنوب ټرانسپورټي سیستم ته د ننوتلو نقطه ده. د دې سیستم له لارې پاکستان کولای شي د جلال اباد، کابل، پروان، بغلان او کندز له لارې له حیرتان او شېرخان بندرونو سره ونښلي. د حیرتان او شېرخان بندرونو له لارې به پاکستان، تاجکستان او ازبکستان ته تر ټولو چټکه لار ومومي. د چین-پاکستان اقتصادي دهلېز لپاره د دې څلورو نښلوونکو ټکو اهمیت خورا ډېر دی، په ځانګړې توګه د ګوادر بندر له لارې د هند سمندر ته د ستراټیژیکې سوداګریزې لارې په جوړولو کې د چین پراخې پانګونې چې په سیمه کې خپل نفوذ پراخوي او د اقتصادي پراختیا او ثبات لپاره د پاکستان اړتیا ته ځواب وایي. سربېره پردې، یاد څلور ټکي د چین-مرکزي اسیا-لوېدیځې اسیا کمربند او د چین-پاکستان اقتصادي دهلېز ترمنځ د نښلولو امکان برابروي، چې دا په لوی لاس د ګوادر او کراچۍ بندرونو ته د مرکزي اسیا هیوادونو لاسرسی اسانوي. د سارک او شانګهای همکارۍ سازمانونو تر منځ د سیمه ییز ټرانسپورټ ادغام به افغانستان ته دا وړتیا ورکړي چې د سوداګرۍ، ټرانزیټ او ټرانسپورټ په مرکز بدل شي.

د لشکرګاه-بهرام شاه-کندهار-سپین بولدک-چمن دهلېز چې ۲۴۱ کیلومتره اوږدوالی لري، د رېل له لارې به افغانستان له پاکستان په ځانګړي ډول د چین-پاکستان اقتصادي دهلېز سره ونښلوي. همدارنګه د تورخم-جلال اباد رېل چې ۷۵

کیلومتره اوږدوالی لري، دا به د ډیورنډ فرضي کرښې له لارې د افغانستان او پاکستان ترمنځ سوداګري پراخه کړي او په ورته توګه له دې لارې به له مرکزي اسیا هېوادونو سره سوداګري هم پراخه شي.[۱۷]

په افغانستان کې د کمربند او لارې نوښت په چوکاټ کې هغه پروژې چې چین یې د تطبیق ژمنې کړې، کولای شي افغانستان د سیمې په کچه په یوه مهم ټرانزیټي او سوداګریز هېواد بدل کړي. باثباته افغانستان نه یوازې د افغانانو، بلکې د چین په ګډون د سیمې د هېوادونو په ګټه هم دی، چې چین او سیمه کولای شي د اړتیا وړ انرژي د افغانستان له لارې او د اړتیا وړ خام مواد د افغانستان په طبیعي سرچینو کې د پانګونې له لارې ترلاسه کړي.

**په افغانستان کې د یوه کمربند یوې لارې پروژې پر وړاندې خنډونه**

که څه هم د افغانستان موقعیت د سیمه ییز ادغام او اتصال لپاره اړین دی، خو دا په یوازې ځان ناشونې ده. د مرکزي اسیا، جنوبي اسیا، چین او منځني ختیځ ترمنځ د ځمکني پل او د سوداګرۍ او ټرانزیټ مرکز په توګه د افغانستان د هیلو د عملي کېدو لپاره پراته خنډونه باید له منځه یوړل شي او وړ چاپیریال رامنځته شي. په خنډونو کې امنیتي وضعیت، د زیربناوو کمښت او د پولې اخوا سوداګرۍ او ټرانزیټ د اسانتیا لپاره د دوه اړخیزو او څو اړخیزو تړونونو نشتوالی شامل دی.

**د سترو ځواکونو سیالۍ او ناامني**

جاو هواشنګ پر دې باور دی چې په سیمه کې د کمربند او لارې نوښت د پلي کولو لپاره جیوستراتیژیکه ننګونه د لوی ځواک سیالي ده، په ځانګړې ډول د چین او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ چې د چین ګاونډۍ سیمې تل د سترو قدرتونو ترمنځ د جیوپولیټیکي او جیواکونومیکي سیالیو شاهدې دي. که څه هم مرکزي اسیا تر ډېره د متحده ایالاتو تر نفوذ لاندې نه ده، خو د چین اندېښنه دا ده چې افغانستان د مرکزي اسیا هېوادونو لپاره د بې ثباتۍ تر ټولو ستر بهرنی عامل دی. د یادونې وړ ده چې افغانستان د مرکزي، جنوبي او لوېدیځې اسیا په پوله کې پروت دی او جیوپولیټیک او جیواکونومیک اهمیت یې خورا مهم دی. له منفي اړخه، افغانستان د یوه داسې قفل په څېر دی چې کولای شي مرکزي، جنوبي او لویدیځه اسیا یو له بل

څخه پرې کړي او د مثبت اړخ په پام کې نیولو سره، دا هغه کیلي ده چې د دغو ساحو ترمنځ د همکارۍ دروازه پرانېزي. هغه مهال چې د افغانستان قفل پرانیستل شي، د وربښمو لارې اقتصادي کمربند کولای شي د دغو سیمو ترمنځ په اقتصادي، مالي او ټولنیزه کچه خپلمنځي اړیکې درک کړي. که دا قفل بند پاتې شي، نو د دغه نوښت په پلي کولو کې به هر ډول پرمختګ خورا ستونزمن شي.[18]

ناامني له سیمې سره د افغانستان اتصال او ادغام له خنډ سره مخامخ کوي. لومړی، یاد هیوادونه د سوداګرۍ او ټرانزیټ لپاره د افغانستان له غوره کولو منع کوي، چې په دې سره سیمه ییز ادغام ځنډېږي. تر ټولو ښه بېلګه د تاپي د طبیعي ګازو د نللیکې پروژه ده چې له لسیزو راهیسې د امنیتي دلایلو له امله ځنډېدلې. دوهم، لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه، افغانستان د زیربنا له کمښت او د دغه سکټور د پیاوړتیا لپاره د منابعو له نشتوالي سره لاس او ګرېوان دی. نازک امنیتي وضعیت او د هېواد د اتصال او ادغام لپاره د اړینو زیربناوو نشتون، په ګډه د بهرنۍ پانګونې مخه نیسي. سره له دې چې افغانستان د سیمې هېوادونو د نښلېدو لپاره تر ټولو لنډه لاره وړاندې کوي، خو امنیتي وضعیت یې دا چاره ټکنۍ کړې ده.[19]

له ۲۰۱۲ ز.کال راهیسې، چین له افغانستان سره، له ګاونډیانو د اړیکو په چوکاټ کې د نوي ډیپلوماټیک نوښت د یوې برخې په توګه اړیکې ګړندۍ کړې دي. دا پوښتنه چې افغانستان به د کمربند او لارې له نوښت سره څرنګه ونښلول شي؟ بې ځوابه پاتې ده، ځکه دا هیواد د نوښت لپاره یوه پېچلې قضیه وړاندې کوي. له همدې امله، چین به د افغانستان په اړه د خپلو پلانونو په خپرولو کې زړه نازړه وي، تر هغې چې د هیواد امنیتي وضعیت په اړه ډاډمن شي، نو ځکه د چین-مرکزي اسیا-لوېدیځې اسیا او د چین-پاکستان اقتصادي دهلېزونه د افغانستان له شاوخوا څخه ګرځي. د چین او افغانستان تر منځ پوله غزنۍ ده او د واخان دهلیز په اوږدو کې موقعیت لري، اړینه ده چې ځانګړی دهلیز جوړ شي ترڅو افغانستان مستقیم له یوه کمربند او یوې لارې سره ونښلوي. چین د دې پروژې په چوکاټ کې د افغانستان لپاره یوازې سل میلیونه ډالر اعلان کړي، په داسې حال کې چې د پاکستان لپاره یې ۴۶ میلیارده ډالر او د مرکزي اسیا دهلېز لپاره یې ۳۱ میلیارده ډالر اعلان کړي دي.[20]

په چین کې د افغانستان پخوانی سفیر سلطان احمد بهین (۲۰۰۹ – ۲۰۱۵) په دې اړه وایي: چین افغانستان ته د نښلوونکي ټکي په سترګه ګوري، خو ورته مهال افغانستان غواړي د ټرانزیټ مرکز هم شي. نوموړی زیاتوي، افغانستان د امنیتي دلایلو له امله له چین سره د نښلېدو لپاره له هېواده بهر لکه د حیرتان بندر په ازمایښتي توګه غوره کړی او چین هغه لارې غوره کړې دي چې د ناامنیو او زیربناوو د کمښت د ننګونو له امله له افغانستان څخه بهر تیرېږي.[۲۱]

دا چې افغانستان مرکزي اسیا ته د ننوتلو عمومي دروازه ده، نو په افغانستان کې د چین امنیتي لېوالتیاوې په مرکزي اسیا کې د چین له امنیتي لېوالتیاوو سره تړلې دي.[۲۲] سربېره پر دې، فرانسوی لیکوال سېباستېین ګولارډ پر دې باور دی چې د ناامنی ترڅنګ د افغانستان اقلیم او جغرافیوي حالاتو هم د لارو جوړول ستونزمن کړي. نوموړی زیاتوي، که طالبان په افغانستان کې ثبات راوستلو کې بریالي شي، چین ښایي د کانونو په ګډون څو نورو سکټورونو کې هم پانګونې وکړي.[۲۳] په افغانستان کې هر ډول بې ثباتي کولای شي د چین لپاره ګواښ رامنځته کړي. د یادونې وړ ده چې د چین-پاکستان اقتصادي دهلېز سره د افغانستان نښلېدل او په افغانستان کې د چین-پاکستان اقتصادي دهلېز خوندیتابه لپاره، د افغان وړتیاوو لوړولو ته تر دې دمه ځانګړې پاملرنه نه ده شوې.

**سوداګریز تړونونه او دوه اړخیزه سوداګري**

د سوداګریزو اړیکو پراختیا لپاره اړتیا ده چې د افغانستان او سیمې ترمنځ سوداګریز او ټرانزیټي تړونونه رامنځته شي. افغانستان له ازبکستان سره د دوه اړخیزو او څو اړخیزو تړونونو د نه شتون له امله د سوداګرۍ او ټرانزیټ له ستونزې سره مخامخ و چې د ازبکستان له لارې چین ته د افغاني توکو د لېږد رالېږد اسانتیاوې برابرې کړي. سربېره پر دې، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ۲۰۱۰ ز.کال ټرانزیټي سوداګریز تړون په ۲۰۱۵ ز.کال کې پای ته رسېدلی چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سیاسي کړکېچ له امله تر دې دمه نه دی تمدید شوی.

افغانستان هڅه کوي د کمربند او لارې نوښت کې ځان مدغم کړي او له اقتصادي پلوه ګټه واخلي، خو له بده مرغه چې افغانستان به د کمربند او لارې

نوښت په مرکز بدل نشي، ځکه چین د بهرنۍ پانګونې په اړه خپلې اقتصادي ګټې محاسبه کوي. دا چې چین ولې د واخان دهلېز نه پرانېزي، د امنیتي دلایلو ترڅنګ یو دلیل دا هم کېدای شي چې چین له افغانستان سره ډېره سوداګریزه راکړه ورکړه نه لري، نو ځکه د واخان په دهلېز پراخې پانګونې ته زړه نه ښه کوي؛ که څه هم دغه پانګونه د چین لپاره په لوړه بیه تمامېږي، خو له دې لارې کولای شي په لنډ واټن کې له مرکزي او لوېدیځې اسیا سره سوداګریزه راکړه ورکړه ترسره کړي.

د یوې څېړنې په موخه له مریم صافي او بسم الله علیزاده سره مرکه کوونکي وايي: افغانستان د چین لپاره د پانګونې له مخې لږ زړه راښکونکی دی، ځکه دا یو کوچنی بازار دی چې کمزوری اقتصاد لري، په داسې حال کې چې د پاکستان په څېر هیوادونه ډېر نفوس لري او لوی بازار چمتو کوي. د چین سفیر د واخان دهلیز په برخه کې د چین د پانګونې د لېوالتیا په اړه چې له افغانستان سره مستقیمې اړیکې لري، ورته نظر څرګند کړ. نوموړي ووېل، د سوداګرۍ حجم شاوخوا ۴۰۰ ملیون امریکایي ډالره دی چې له چین څخه د لویې پانګونې تمه له اقتصادي پلوه اغېزمنه نه ده. همدارنګه چینایي څېړونکی یاوجینګ د افغانستان او چین ترمنځ د سوداګرۍ د حجم په اړه ورته اندېښنه لري. نوموړی وايي: "د افغانستان او چین ترمنځ سوداګري د افغانستان د اټکل له مخې یو میلیارد امریکایي ډالره ده، خو د چین د اټکل له مخې دغه سوداګري یوازې ۴۰۰ میلیون ډالره ده او دا کار زیاته پانګونه نشي توجیه کولای".[۲۴]

په افغانستان کې د چین له پانګونو په ځانګړي ډول دوه اړخیزه سوداګري او د طبیعي سرچینو را ایستل، هېڅ یو یې د کمربند او لارې نوښت سره ښکاره اړیکه نه لري. له یوه لوري، په افغانستان کې د چین خورا مهمې پانګونې د یوه کمربند یوې لارې پروژې له اعلان څخه مخکې پلان شوي او د یوې جلا ستراتیژۍ له مخې تصور شوې وې؛ له بلې خوا، د یوه کمربند یوې لارې پروژه د زیربناوو په پراختیا، د بهرنیانو په ظرفیت او د بازار په چمتو کولو تمرکز کوي، نه د طبیعي زیرمو په راایستلو، له همدې امله له ۲۰۱۳ ز.کال راهیسې له افغانستان سره د چین په اقتصادي همکاریو کې کوم ارزښتناک ستراتیژیک بدلون نه تر سترګو کېږي. د

اورګاډي پټلۍ چې په مس عینک کې باید پیل شوې وای، د جوړولو چارې یې لا نه دي پیل شوي، ترڅو د مسو د راایستلو ملاتړ وکړي؛ دا ستونزمنه ده چې دېته د کمربند او لارې نوښت تر چتر لاندې د یوې زیربنا په سترګه وګورو ترڅو د همدغه نوښت هدفونو ته خدمت وکړي.[۲۵]

د دوه اړخیزې سوداګرۍ لپاره په افغانستان کې حاکم نظام اړ دی چې د سوداګرۍ او ټرانزیټ اړوند دوه اړخیز او څو اړخیز تړونونه لاسلیک کړي، ترڅو په اسانۍ وکولای شي سوداګریزه راکړه ورکړه ترسره او رامنځته کېدونکې ستونزې د ځانګړو کمېسیونونو له لارې حل کړي.

**کمزورې حکومتولي**

په تېر کې د هیواد اقتصادي وضعیت د رهبرۍ په برخه کې د حکومت نه وړتیا هم د کمربند او لارې نوښت له ستونزو سره مخامخ کړی و. فساد، د قانون نه پلي کول، کمزورې حکومتولي او د واحدې کرنلارې نشتون هغه مسایل وو چې د کمربند او لارې نوښت تطبیق یې له خنډ او ځنډ سره مخامخ کړ او ویې نشو کړای چین دېته اړ کړي ترڅو شوې ژمنې عملي کړي. همدارنګه په افغانستان کې بېلابېلې پانګونې د مناسب چاپېریال د نه شتون له امله، نه دي عملي شوي. یوه بیلګه یې چینایي خصوصي شرکت Xinjiang Beixin Road and Bridge Group دی چې په ۲۰۱۳ ز.کال کې یې د ستونزمن عملیاتي وضعیت له امله د کابل-جلال اباد سړک د بیارغونې پلان بشپړ نه شو کړای.[۲۶]

د افغانستان د اورګاډي شبکې پخوانی اجرایوي مشر محمد یما شمس له مریم صافۍ او بسم الله علیزاده سره په مرکه کې وایي: د افغانستان ناسم مدیریت او کمزورې حکومتولي د سیمه ییز مرکز په توګه د افغانستان د بشپړ ظرفیت د عملي کېدو پر وړاندې یو خنډ دی. نوموړی ټینګار کوي چې افغان حکومت نشي کولای په یوازې ځان یادې ننګونې حل کړي، بلکې سیمه ییز چلند ته اړتیا ده ترڅو له هېواد سره مرسته وکړي او دغه کمزورۍ په وړتیاوو بدلې کړي.[۲۷]

په ۲۰۱۳ ز.کال کې د چین او پاکستان ترمنځ د ۴۷ ملیارد ډالرو دوه اړخیز تړون پر بنسټ د چین- پاکستان اقتصادي دهلېز پیل شو، چې د چین په مالي

ملاتړ د ټرانسپورټ شبکې، د انرژۍ پروژې او ځانګړي اقتصادي زونونه رامنځته کوي. د اټکل له مخې، د دغه اقتصادي دهلېز پانګونه ٦٢ مليارد ډالرو ته لوړه شوې چې د چين-پاکستان اقتصادي دهلېز به افغانستان ته هم وغځول شي.[۲۸] د ۲۰۱٦ ز.کال مې مياشت کې د افغانستان او چين ترمنځ د کمربند او لارې نوښت لاندې د همکارۍ بېلابېلو برخو کې تفاهم ليک لاسليک شو، چې د ۲۰۱۷ ز.کال مې مياشت کې چين د چين-پاکستان اقتصادي دهلېز له لارې افغانستان د کمربند او لارې نوښت په پلانونو کې شامل کړ.[۲۹] د ۲۰۱۷ ز.کال ډسمبر کې د چين، افغانستان او پاکستان بهرنيو چارو وزيرانو، افغانستان ته د چين-پاکستان اقتصادي دهلېز پر غځولو هوکړه وکړه چې له دې لارې به ياد دهلېز د چين-مرکزي اسيا-لوېديځې اسيا اقتصادي دهلېز سره ونښلول شي.[۳۰]

په ټوليزه توګه، نړيواله سيالي او د زيربنا نشتوالی د کمربند او لارې نوښت د پلي کولو پر وړاندې اصلي ننګونې دي.[۳۱] د نورو ننګونو ترڅنګ ناامني، د دوه اړخيزو او څو اړخيزو هوکړه ليکونو نشتوالی چې له پولو دباندې سوداګرۍ ته لار هواروي، د کمربند او لارې نوښت پر وړاندې خنډونه دي، چې ناامني تر ډېره د سيمې او نړۍ قدرتونو د ناسالمو سياستونو له امله رامنځته کېږي.[۳۲] که چين غواړي په سيمه او افغانستان کې د کمربند او لارې نوښت پروژې پلې کړي، نو اړ دی چې د افغانستان په اړه سيمه ييزه همغږي او همکاري رامنځته او د زيربناوو په جوړولو کې اړينه مرسته وکړي. همدارنګه چين کولای شي د افغانستان د بشري سرچينو پراختيا په ځانګړي ډول د تخنيکي ظرفيتونو په لوړولو کې چې د سختو زيربناوو په پراختيا کې لکه ريل پټلۍ، سړکونو، بندونو او اقتصادي زونونو په جوړولو کې کارول کېږي، ځانګړې پاملرنه او مرسته وکړي.

## په افغانستان کې د کمربند او لارې نوښت راتلونکی

سېباسټين ګولارډ پر دې باور دی چې ځينې وختونه په لوېديځ کې د طالبانو پر وړاندې د چين پاليسي ناسم تعبيرېږي، خو دا په مرکزي او جنوبي اسيا کې د کمربند او لارې نوښت لپاره د چين عملي سياست او لوړه هيله په ډاګه کوي. د بېجېنګ او کابل نوې اړيکې کولای شي چې د نويو زيربناوو له جوړلو سره مل د چين سيمه ييز اتصال لاپسې پياوړی کړي.[۳۳] حقيقت دا دی چې له اسلامي امارت سره د چين نږدېوالی په

سیمه کې د کمربند او لارې نوښت او نورو سیمه ییزو پروژو د پلي کولو په اړه د چین ژمنتیا ښیي، چې نه غواړي افغانستان هم له پامه وغورځوي. له دې امله چین اړ دی چې د سیمه ییز ثبات په موخه لومړی د سیمې له هېوادونو سره د ګډ اقتصادي پرمختګ له لارې په افغانستان کې سیاسي او امنیتي ثبات رامنځته کړي.

څېړونکی مایکل کلارک پر دې باور دی چې د افغانستان په اړه د بېجېنګ کړنلاره په حقیقت کې په بېلابېلو پړاوونو کې د دواړو په سینکیانګ کې د امنیت او د جیوپولیټیکل ګټې لپاره جوړه شوې ده. له ۱۹۹۱ تر ۲۰۰۱ ز.کال پورې، د بېجېنګ د سینکیانګ محاسبه د افغانستان په اړه د چین د چلند په ټاکلو کې خورا مهم و، په داسې حال کې چې له ۲۰۰۱ ز.کال وروسته پراخه جیوپولیټیکل محاسبه رامنځته شوه. وروستی عامل د ولسمشر شي جېنپېنګ په یوه کمربند یوې لارې ستراتیژۍ کې ځای پر ځای شوی چې په اصل کې د سینکیانګ د یو ځای کولو او د چین متمرکز یوروشیا جیواکونومیکي سیستم د اسانتیا لپاره د دغې سیمې له ځانګړي جیوپولیټیک موقعیت څخه د ګټنې لپاره د بېجینګ د لسیزو اوږدې اجنډا یوه برخه ده. د سرې جګړې له پای ته رسېدو وروسته په نویمه لسیزه کې د افغانستان په اړه د چین تګلاره تر ډېره د سېنکیانګ په خوندي کولو او د مرکزي اسیا له جمهوریتونو سره د رغنده اړیکو په پراختیا کې د خپلو مخکښو ګټو یوه دنده وه. د سپټمبر یوولسمې پېښې وروسته، بېجېنګ د مرکزي اسیا او افغانستان پر وړاندې د درېیو بنسټیزو ګټو پر بنسټ کړنلاره جوړه کړه: امنیت، پراختیا او د سیمې د انرژۍ سرچینو ته لاسرسی. دغو ګټو نه یوازې د سیمې هېوادونو ته د بېجینګ د دوه اړخیزو هڅو خبر ورکړ، بلکې د شانګهای همکاری سازمان د پروسو په بڼه یې څو اړخیزه ډیپلوماسي هم څرګنده کړه. د سپټمبر له پېښې وروسته، چین په افغانستان کې تر ډېره په اقتصادي ډګر کې ښکېل شو او د امنیت په ډګر کې یې له مستقیمې ښکېلتیا څخه ډډه وکړه.[۳۴]

له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته، چین ښایي د کمربند او لارې نوښت په چوکاټ کې افغانستان ته پاملرنه زیاته کړي. په وچه کې د راایسار دولت په توګه، افغانستان د چین-پاکستان اقتصادي دهلېز یو مهم سوداګریز کانال ګڼل کیږي. له همدې امله د ۲۰۱٦ ز.کال په لومړیو

کې د افغانستان حکومت له چین سره د کمربند او لارې نوښت په برخه کې د همکارۍ تفاهم لیک لاسلیک کړ. اسلامي امارت، افغانستان ته د چین-پاکستان اقتصادي دهلېز د غځولو اراده څرګنده کړې او پاکستان ته یې ډاډ ورکړی چې د افغانستان له لوري به له کوم ګواښ سره نه مخامخ کېږي.[۳۵]

په افغانستان او سیمه کې د چین سیاسي او اقتصادي ښکېلتیا په ځانګړي ډول د کمربند او لارې نوښت تطبیق کولای شي په چین کې د سینکیانګ د بېلتونپالنې مخه ونیسي او په ورته ډول چین ته به د سیمې په راتلونکي امنیت او د خلکو په هوساینه کې د پام وړ ونډه ورکړي.[۳۶]

چین له ۲۰۰۱ ز.کال په ځانګړي ډول له ۲۰۱۴ ز.کال وروسته په افغانستان کې خپله ښکېلتیا زیاته کړې، خو د کمربند او لارې نوښت له اعلان وروسته د همدغه نوښت په چوکاټ کې د افغانستان په اړه کوم ځانګړی بدلون نه دی رامنځته شوی. اوسنیو شرایطو ته په کتو، شونې ده چې په راتلونکي کې چین په افغانستان کې خپله ښکېلتیا زیاته کړي او کېدای شي د کمربند او لارې نوښت په چوکاټ کې د هغو پروژو په اړه چې ژمنه یې کړې، پلې او یو شمېر نورې پروژې هم اعلان کړي.

**پایله**

د افغانستان لپاره د چین د یوه کمربند یوې لارې پروژې لاندې او په ورته توګه د چین-پاکستان اقتصادي دهلېز سره د نښلېدو په موخه یو شمېر پروژې اعلان شوې، چې د بېلابېلو لاملونو له مخې یادې پروژې نه دي عملي شوي.

یوویشتمه پېړۍ د اسیا ده او په دې کې به د چین رول څرګند وي، د یوه کمربند یوې لارې پروژه د چین له هغو سترو اقتصادي نوښتونو څخه ده چې غواړي په سیمه او نړۍ کې خپل اقتصادي، سیاسي او کلتوري نفوذ پراخ کړي. افغانستان کولای شي د چین له اقتصادي ظرفیت څخه ګټه پورته کړي؛ چین هم کولای شي چې په افغانستان کې د اقتصادي پرمختګ له لارې سیاسي ثبات ټینګ او د کمربند او لارې نوښت اړوند پروژې په سیمه او افغانستان کې پلې کړي. د کمربند او لارې نوښت د دې وړتیا لري چې افغانستان د سیمه ییزې سوداګرۍ پر مرکز بدل کړي، په دې سره به اقتصادي پرمختګ

ته لاره هواره شي او دا به پخپل وار د صادراتو په لوړولو او د وارداتو د لګښتونو په کمولو کې د سوداګرۍ توازن ښه کړي.

د یوه کمربند یوې لارې پروژې په تطبیق سره به په افغانستان کې د زیربناوو جوړولو ته زمینه برابره او د لویو لارو او رېل شبکو په جوړېدو سره به افغانستان د سیمې په یو مهم ټرانزیټي مرکز بدل شي. همدارنګه په سیمه کې د انرژۍ او برېښنا اړتیا ته په کتو، افغانستان به د انرژۍ د انتقال او برېښنا لېږد پر یوه مهم مرکز هم بدل شي. سربېره پر دې، د سرچینو د بډایه هېواد په توګه د سیمې هېوادونه په ځانګړې ډول چین کولای شي د اړتیا وړ خامو موادو ته د لاسرسي په موخه د افغانستان په طبیعي سرچینو کې پراخې پانګونې وکړي، چې له دې لارې به افغانستان د صنعتي کېدو ترڅنګ اقتصادي پرمختګ ومومي. دا ټول هغه مهال شونې دي چې افغان حکومت په کور دننه پیاوړې همغږي رامنځته کړي او له دې لارې د کمربند او لارې نوښت کې د افغانستان ګډون فعال او د ځانګړي میکانیزم په ترځ کې د یوې ټاکلې کمېټې له لارې د چین له دولت سره په ګډه اړوندې چارې دوامداره تعقیب کړي.

په افغانستان کې د څه باندې څلورو لسیزو راپه دېخوا نامني، سیاسي بې ثباتي، کمزورې حکومتولي او د زیربناوو نشتوالی هغه لاملونه دي چې په دې وروستیو کې یې په کور دننه د کمربند او لارې نوښت پروژو تطبیق له خنډ او ځنډ سره مخامخ کړی دی. د بهرني فکټور په توګه، په افغانستان کې د سیمې او نړۍ د سترو قدرتونو سیالي، د سیمه ییزو همکاریو او همغږیو نشتوالی هغه لاملونه دي چې په کور دننه د کمربند او لارې نوښت په ګډون د بلې هرې سیمه ییزې پروژې تطبیق یې ځنډولی دی. نو که چین غواړي په افغانستان او سیمه کې د کمربند او لارې نوښت پروژې عملي کړي، په افغانستان کې دې د ثبات او اقتصادي پرمختګ لپاره د سیمې د هېوادونو ترمنځ واحده سیمه ییزه همغږي رامنځته کړي.

چین دې په خپل نوښت په افغانستان کې د حاکم نظام پیوستون رامنځته کړي. په دې معنی، افغانستان دې له سیمې او سیمه دې له افغانستان سره ونښلوي او دا هغه مهال شونې ده چې په افغانستان کې اقتصادي پرمختګ وده وکړي.

**وړاندیزونه**

۱ . د کمربند او لارې نوښت هېڅ دهلېز د افغانستان له خاورې نه تېرېږي، د افغانستان دولت دې له چينايي چارواکو سره خبرې وکړي او د واخان دهلېز دې مستقیم د کمربند او لارې نوښت سره یوځای کړي. په دې سره به چین وکولای شي په لنډ واټن کې له مرکزي او لوېديځې اسیا سره نږدې سوداګریزې اړیکې هم ټینګې کړي.

۲. د افغانستان دولت دې د کمربند او لارې نوښت پروژو د پلي کولو لپاره ځانګړی میکانیزم او له چین سره ګډه کمېټه رامنځته کړي، چې له یوه لوري په اړوندو برخو کې افغان متخصصین وروزي او له بل لوري اړوندې چارې دوامداره تعقیب او ملت ته د یادو پروژو له پرمختګ څخه راپور ورکړي.

۳. د تولیدي سکټور د پیاوړتیا لپاره اړتیا ده چې د هېواد په کچه ځانګړي اقتصادي زونونه رامنځته شي. په سیمه ییزه سوداګرۍ کې د افغانستان د صادراتو ظرفیت د لوړولو په موخه، هېواد باید له ګاونډیو او د سیمې له هېوادونو سره اړیکې پراخې کړي، ترڅو د پولې پورې غاړې سوداګرۍ او ټرانزیټ په اړه مسایل حل شي.

۴ . افغانستان د مرکزي او جنوبي اسیا او چین او منځني ختیځ ترمنځ پروت دی او کولای شي د سوداګرۍ مرکز په توګه رول ولوبوي، خو بیا هم د کمربند او لارې نوښت کې د افغانستان د ادغام په اړه د اړتیا وړ علمي – څېړنیز کار نه دی شوی ترڅو هغه نیمګړتیاوې راوسپړي چې په افغانستان کې د کمربند او لارې نوښت پروژې یې له خنډ او ځنډ سره مخامخ کړې دي. نو د علومو اکاډمي له مقام څخه هیله کېږي چې د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز په چوکاټ کې د چین انسټیټوټ تر چتر لاندې چې یوازې یو بست لري، د څو نورو بستونو په ورکړې سره تشکیل پراخ کړي ترڅو د کمربند او لارې نوښت اړوند څېړنیزه تشه ډکه او پراخې څېړنې وشي.

### اخځلیکونه

1. Building a community of shared destiny: The Belt and Road Initiative in the political speeches of Xi Jinping. (2020). In C. A. Mendes (Ed.), China's New Silk Road: An Emerging World Order (p. 24). Routledge.

2. Christoph Nedopil (2022): "Countries of the Belt and Road Initiative"; Shanghai, Green Finance and Development Center, FISF Fudan University. Retrieved https://greenfdc.org/countries-of-the-belt-and-road-initiative-bri/?cookie-state-change=1658904225640

3. David Sacks. (2021, March 19). Countries in China's Belt and Road Initiative: Who's in And Who's Out. Council on Foreign Relations. Retrieved https://www.cfr.org/blog/countries-chinas-belt-and-road-initiative-whos-and-whos-out

4. The China-Pakistan Economic Corridor: Lessons for the New Silk Road. (2020). In C. A. Mendes (Ed.), China's New Silk Road: An emerging world order (p. 112). Routledge.

5. Afghanistan and the Belt and Road Initiative. (2020). In C. A. Mendes (Ed.), The Belt and Road Initiative: An Old Archetype of a New Development Model (p. 491). Routledge.

6. Shang, H. (2019). The Belt and Road Initiative: Key Concepts (pp. 1-6). Springer.

7. China's New Silk Road. (2020). In C. A. Mendes (Ed.), China's New Silk Road: An Emerging World Order (p. 1). Routledge.

8. Nadine Godehardt. (January 2016). Not End of History: A Chinese Alternative Concept of International Order? Stiftung Wissenschaft und

erlin.org/en/publication/no- Politik (p. 1). Retrievedhttps://www.swp-end-of-history/

9. Godement, F and Kratz, A. (2015, June 10). "One Belt, One Road": China's Great Leap Outward. European Council on Foreign Relations (p. 7). Retrieved https://ecfr.eu/publication/one_belt_one_road_chinas_great_leap_outward 3055/

10. Christoph Nedopil (July 2022): "China Belt and Road Initiative (BRI) Investment Report H1 2022". Green Finance and Development Center, FISF Fudan University (p. 5). Retrieved https://greenfdc.org/china-belt-and-road-initiative-bri-investment-report-h1-2022/

11. Richard Ghiasy and Jiayi Zhou. (2017). The Silk Road Economic Belt: Considering Security Implications and EU-China Cooperation Prospects. Stockholm International Peace Research Institute (pp. 2-6). Retrieved http://www.bit.ly/2kHVNTT

12. Zhao Huasheng. (2016) Afghanistan and China's new neighborhood diplomacy. International Affairs 92 (4), 896.

13. Nivedita Jayaram. (2016, September 28). Economic Impact of OBOR on Afghanistan. Mantraya Analysis#10. Retrieved https://mantraya.org/economic-impact-of-obor-on-afghanistan/

14. Mariam Safi and Bismellah Alizada. (2018). Integrating Afghanistan into the Belt and Road Initiative: Review, Analysis and Prospects (p. 16). Retrieved http://library.fes.de/pdf-files/bueros/kabul/15587.pdf

15. Jayaram, 2016.

16. Safi et all., 2018, 21-37.

17. Ibid, 50-51.

18. Huasheng, 2016, 899-901.

19. Safi et all., 2018, 44.

20. Jayaram, 2016.

21. Safi et all., 2018), 47.

22. Olcott, M. B. (2006, August 4). Is China a Reliable Stakeholder in Central Asia? Carnegie Endowment for International Peace. Retrieved https://carnegieendowment.org/2006/08/04/is-china-reliable-stakeholder-in-central-asia-pub-18606

23. Sebastien Goulard. (2021, August 21). Does the Belt and Road Have a Future in Taliban-ruled Afghanistan? The Diplomat. Retrieved https://thediplomat.com/2021/08/does-the-belt-and-road-have-a-future-in-taliban-ruled-afghanistan/

24. Safi et all., 2018, 44-47.

25. Franz J Marty. (2018, April 16). Project to exploit Afghanistan's giant copper deposit languishes. The Third Pole. Retrieved https://www.thethirdpole.net/en/regional-cooperation/project-to-exploit-afghanistans-giant-copper-deposit-languishes/

26. Martina, M., and Harooni, M. (2015, November 22). Slow Road from Kabul highlights China's challenge in Afghanistan. Reuters. Retrieved https://www.reuters.com/article/us-afghanistan-china-road-idUSKBN0TB0X520151122

27. Safi et all., 2018, 17.

28. Zofeen Ebrahim. (2022, September 14). Extension of CPEC to Afghanistan could link infrastructure across continent. Retrieved

https://www.thethirdpole.net/en/regional-cooperation/extension-of-cpec-to-afghanistan-could-link-infrastructure-across-continent/

29. Safi et all., 2018, 46.

30. China Daily. (2017, December 27). China, Pakistan, Afghanistan agree to discuss extending economic corridor. Retrieved http://www.chinadaily.com.cn/a/201712/27/WS5a430c29a31008cf16da3b5a.html

31. Safi et all., 2018, 22.

32. Dkhar, A., Tamim, M. A., and Walid, S. S. (2021). Perspectives and Obstacles for Afghanistan to be a Part of the China's Belt and Road Initiative. Advances in Social Science, Education and Humanities Research, 580, 171.

33. Goulard, 2021.

34. Clarke, M. (2016). 'One Belt, One Road' and China's emerging Afghanistan dilemma. Australian Journal of International Affairs, 70 (5), 2-8.

35. Niu, H., and Huang, Y. (2022). China's Alternative Prudent Approach in Afghanistan, Global Policy, 13 (1), 135. Retrieved https://doi.org/10.1111/1758-5899.13057

36. Clarke, 2016, 12-13.

محقق زهره محمدزی

# بررسی جایگاه جیوپولیتیک افغانستان

**چکیده**

جغرافیا به مثابه عامل طبیعی بر سرنوشت و تاریخ ملت ها تاثیر گذار بوده، گاهی منجر به جلال و شگوفاهی سرزمین ها گردیده و زمانی هم باعث اضملال و افول ملت ها گردیده است. این پدیده با قرار گرفتن در متن تیوری های سیاسی، جهان را شاهد تاخت و تاز قدرت های توسعه طلب نمود و سرزمین های زیادی به دلایلی امتیازات طبیعی آن ها مانند در اختیار داشتن معادن، زراعت، بنادر و ... تحت استعمار قرار گرفتند. افغانستان نیز بنابر موقعیت جغرافیایی که در منطقه دارد، در گذر تاریخ منجر به اتصال و ایجاد پیوندهای اقتصاد- اجتماعی شده و گاهی هم قربانی سیاست های توسعه طلبانه قدرت های بزرگ گردیده است. به این دلیل در بحث حاضر به بررسی جایگاه معاصر جیوپولیتیکی این کشور پرداخته و مزایا و اضرار موقعیت جغرافیایی آن را به کنکاش می‌گیریم.

**مقدمه**

موقعیت جغرافیایی افغانستان در طول تاریخ این سرزمین به عنوان مسیر و معبر طبیعی برای فعالیت‌های اقتصادی، تجاری، تبلیغ و گسترش ادیان و آیین‌های مذهبی، جهان‌گشایی و فتوحات قدرت های توسعه طلب دارای اهمیت بوده و این جغرافیا به مثابه عامل پیوند دهنده منجر به اتصال کشورهای منطقه گردیده است. این کشور به یُمن موقعیت و شکل جغرافیایی توانسته که مناطق شرق، غرب، شمال و جنوب آسیا را با هم وصل نماید. از سویی هم در گذر تاریخ با توجه به موقعیت حساس جغرافیایی به مثابه نقطه تقابل و یا مسیر رسیدن به اهداف توسعه طلبانه بارها مورد تهاجم و تاخت و تاز قدرت‌های بزرگ قرار گرفته

است؛ به گونه مثال می‌توان از اسکندر مقدونی یاد کرد که در ۳۲۹ ق. م (۳۳) این سرزمین را به عنوان مسیری برای گسترش فتوحات و توسعه سرزمین‌های تحت سلطه و راه رسیدن به اهداف بزرگ خود برگزیده بود. بعدها همچنان افغانستان به مثابه راه رسیدن قدرت‌های بزرگ به اهداف شان مورد توجه قرار گرفت و آسیب‌های را در ابعاد مختلف محتمل گردید. ولی در عصر حاضر جغرافیای این کشور به عنوان کریدور و راه وصل مناطق مختلف آسیا اهمیت استراتژیک و ترانزیتی داشته و نقطه اتصال میان کشورهای آسیایی می‌باشد. بدین ترتیب، موقعیت جغرافیایی در طول تاریخ سیاسی افغانستان عامل تاثیرگذار بر سیاست، اقتصاد، حوادث و واقعات نظامی- امنیتی بوده و مولفهٔ مهمی در شکل‌دهی و موضع‌گیری‌های سیاسی، اقتصادی و اجتماعی دولت‌های منطقه و فرامنطقه در قبال افغانستان نیز می‌باشد. ولی متاسفانه بحث جیوپولیتیک و اهمیت تأثیرگذاری جغرافیا بالای سیاست در مباحث و محافل علمی، اکادمیک و عرصه اجرایی سیاست خارجی کمتر مورد توجه و بررسی قرار گرفته است.

این پژوهش به بررسی موضوع جایگاه جیوپولیتیکی افغانستان پرداخته است و پرسش تحقیق را این گونه مطرح می‌نماید: که موقعیت جغرافیایی افغانستان در منطقه دارای چگونه جایگاه بوده و این عامل چه تاثیراتی را بالای سرنوشت سیاسی، اقتصادی و اجتماعی این کشور گذاشته است؟ در پاسخ می‌توان گفت که جغرافیای افغانستان دارای موقعیت برجسته جیوپولیتیکی بوده که توانسته است بالای وضعیت سیاسی، اقتصادی و اجتماعی کشور در طول تاریخ تاثیرات مثبت و منفی گذارد و بخش عمدهٔ از سرنوشت این کشور تحت تاثیر این عامل قرار داشته است.

**هدف:** پژوهش حاضر به منظور تبیین نقش و جایگاه جیوپولیتیکی افغانستان انجام می‌گردد، تا نقاط ضعف و قوت موقعیت جغرافیایی کشور در ابعاد سیاسی، اقتصادی و اجتماعی مطالعه گردیده و برای مدیریت بهتر آن برنامه‌ریزی گردد.

**مبرمیت:** با توجه به این که جایگاه جیوپولیتیکی و موقعیت جغرافیایی افغانستان در شکل‌دهی و موضع‌گیری‌های سیاست خارجی این کشور در قبال کشورهای منطقه و جهان و بلعکس آن دارای اهمیت می‌باشد؛ بناءً نیاز است تا این مورد به صورت همه جانبه مورد بررسی و تحلیل قرار گیرد.

سازماندهی: در ابتدا جهت وضاحت موضوع به شناخت و بررسی مفهوم و عصر شکل‌گیری جیوپولیتیک پرداخته شده و به ترتیب به بررسی جایگاه جیوپولیتیکی افغانستان در نظریات جهانی، جایگاه جیوپولیتیکی کشور در اعصار و نظم‌های مختلف بین المللی و اهمیت جایگاه آن در اتصال منطقه‌یی بحث صورت گرفته است و در نهایت با نتیجه‌گیری ختم می‌گردد.

در ابتدا جهت وضاحت و شناخت بهتر موضوع به بررسی مختصر از مطالعه تاریخی شکل‌گرفتن و تعاریف دانش جیوپولیتیک می‌پردازیم تا دریابیم که مولفهٔ مذکور در دیدگاه اندیشمندان چگونه تداعی شده و پردازش یافته است:

## جیوپولیتیک

جغرافیا همواره در تعیین هویت، سرشت، تاریخ، توسعه سیاسی، پیشرفت اقتصادی و شکل‌گیری حکومت‌ها نقش داشته، گاهی منجر به پیشرفت ملت‌ها و گاهی هم مانع توسعه آن‌ها گردیده است. این مولفه از زمانه‌های قدیم در تفکر اندیشمندان وجود داشته و نقش مهمی را در شکل‌دهی مناسبات بین‌المللی دولت‌ها بازی کرده است. به این دلیل می‌توان گفت تأثیر عوامل جغرافیایی و اقلیمی بر رفتارهای سیاسی دارای ریشه و قدمت تاریخی می‌باشد. مثلاً، به اعتقاد ارسطو، مردم و محیط آن‌ها جدا ناپذیر اند و مردم همواره از شرایط جغرافیایی تأثیر پذیرفته اند. (۹:ص۱۰۳) ژان بُدن به این باور بود که شرایط جغرافیایی بر روحیات ملی و سیاست خارجی کشورها تأثیر می‌گذارد. (۸:ص۱۳۸) با توجه به این اظهارات در رابطه به پیوند جغرافیا با سرنوشت سیاسی، اقتصادی دولت- ملت‌ها می‌توان نشانه‌های از تفکرات مربوط به دانش جیوپولیتیک را در ادوار پیشین جست و جو کرد؛ طوری که موضوع اثر گذاری جغرافیا بالای سیاست در تفکر اندیشمندان یونانی، مصری، بابلی و غیره مانند: سنت اگوستین، آکویناس، ابن

خلدون و دیگران نیز وجود داشته است. (۱۱:ص۱) می‌توان این نظریات را از جمله قدیمی‌ترین بحث‌ها در این رابطه دانست.

قسمی‌که در قرن پنجم پیش از میلاد، سقراط رساله‌ای در باب "هوا، آب و مکان‌ها" نوشته بود و ارسطو در کتاب هفتم (سیاست) خود، نظریه‌ای را در خصوص روابط میان اقلیم و آزادی ارائه کرد. (۱۲:ص۳٦) ابن خلدون در کتاب مقدمه خود به تاثیر اقلیم و جغرافیا بالای زندگی بشر می‌پردازد که به اساس نظریه او طبع انسان از حوادثی که در اطراف او رخ می‌دهند تاثیر پذیر بوده و سرشت‌ها و طبایع انسان در نتیجه عادات و اموری که به آن‌ها الفت می‌گیرد، تکوین می‌شوند.(۳۱:صص۱۵۵-۱۵۷) یعنی فطرت بشر متأثر از جغرافیا بوده و تاثیرات آن در عملکرد سیاستگذاران نیز نقش داشته و بالای تصمیمات آن‌ها تاثیر می‌گذارد. منتسکیو در کتاب "روح القوانین" اثر شرایط جغرافیایی ناشی از محیط طبیعی را در امور اجتماعی و رفتار افراد بررسی کرده است. به اعتقاد او آب و هوا و شرایط اقلیمی و جغرافیایی بالای پدیده‌های اجتماعی اثرگذار است. (۲۱:ص۴۸۱)

پس بدین ملحوظ باید گفت که دانش جیوپولیتیک به عنوان مکتب مطالعهٔ روابط میان پدیده های سیاسی با اوضاع جغرافیایی دارای تاریخ طولانی بوده؛ در ابتدایی ترین مراحل خود از یونان قدیم توسط ارسطو آغاز و بعداً در نظریات اندیشمندان چون مونتسکیو و کانت ادامه پیدا کرد و به صورت علمی در آلمان توسط فردریک راتزل به رسمیت شناخته شد و دانشمندانی چون هاوس هوفر، مکیندر، اسپایکمن، گاتمن، کوهن و دیگران آن‌را در جهان گسترش دادند.

به این ترتیب با توجه به نظریات اندیشمندان؛ دانش جیوپولیتیک در برگیرنده مطالعه و بررسی تأثیر عوامل و جنبه‌های جغرافیایی بر رفتار سیاسی حکومت‌ها بوده و به دنبال مطالعه، کشف و اثبات اثرات موقعیت مکانی، اقلیمی، منابع طبیعی و جمعیت دولت ها بالای سیاست خارجی و جایگاه آن ها در تعاملات جهانی می‌باشد. طوری که به باور منتسکیو مردمان جزیره نشین به علت نداشتن همسایه و جدا بودن شان به وسیله خلأها با دیگر مردمان، از امنیت بیشتری برخوردار هستند....جدا بودن جزایر از امپراتوری‌های بزرگ، مانع دست‌اندازی خودکامه‌گان به طرف آن‌ها می‌گردد و دریا به

مثابه سدی در مقابل جهانگشایان عمل می نمایند؛ بدین لحاظ مردمان جزایر بیشتر از مردمان قاره ها آزادی را تجربه کرده اند. (۱۲:صص۴۷-۴۸)

اندیشمندان عرصه جیوپولیتیک، با پذیرفتن این مورد که عواملی مانند آب و هوا، حرارت، تغییرات فصلی و جریان‌های زیرزمینی، معادن، پدیده جاذبه زمین، جریان دریاها و ابحار که طبیعی و قاعدتاً جغرافیایی هستند عواملی اند که به عنوان عناصر اصلی و سازنده محیط جغرافیائی تأثیر قاطع و تعیین‌کننده‌ای در سرنوشت تمدن‌ها، پیدایش تاریخ، چگونگی رفتار بشر، سازمان‌های اجتماعی و فعالیت‌های انسانی دارند. (۳:ص۳۳) در رابطه به آغاز شکل‌گیری رشته جیوپولیتیک باید گفت که برعلاوه قدمت تاریخی مطالعات این عرصهٔ علمی که مبیین وجود رابطه میان جغرافیا و سیاست می‌باشد، به گونه یک رشتهٔ مجزا از اواخر قرن نوزدهم آغاز یافت. (۲۲:ص۸) مطالعه علمی این رشته توسط فردریک راتزل دانشمند آلمانی، بنیان نهاده شده و او در کتاب جغرافیای سیاسی خود برای نخستین‌بار حکومت را از دید جغرافیا مورد مطالعه قرار داد.(۱۹:ص٦٨) به این ترتیب جیوپولیتیک وارد مباحث اکادمیک گردید و در زمان آلمان هیتلری، آموزش جغرافیا و جیوپولیتیک به‌عنوان اساسی‌ترین درس، اجباری شد در حالی که در شوروی استالینی تدریس آن ممنوع گردیده بود. (۳۸) اما با گذر زمان؛ مطالعه روابط بین الملل، تحقیقات استراتیژیک و به خصوص مباحث مربوط به جیوپولیتیک در سیاست‌گذاری و تصمیم‌گیری دولت ها به خصوص قدرت های بزرگ از اهمیت ویژه ای برخوردار گردیدند.

هدف جیوپولیتیک، تبیین نقش عوامل جغرافیایی در سیاست کشورهاست؛ زیرا وقایع سیاسی همیشه در یک محیط جغرافیایی اتفاق می افتند و عوامل مذکور بالای پدیده های سیاسی اثر می‌گذارد؛ از طرفی هم در عرصه روابط بین الملل، دولت ها متأثر از عوامل جغرافیایی می‌باشند؛ چون وقایعی که در عرصه سیاست و روابط بین‌الملل در طی سده گذشته رخ داده است مانند جنگ‌های جهانی، بلوک بندی جهان به شرق و غرب، تک قطبی شدن جهان، شکل‌گیری نظم نوین جهانی و غیره بیانگر اثرات ارزش‌های جغرافیایی در ایجاد قدرت‌های منطقه‌ای و جهانی می‌باشد. از

طرفی هم دولت‌ها با داشتن موقعیت جیوپولیتیکی و استفاده از آن می‌توانند تولید کننده یا سلب کننده قدرت رقبا و تأمین‌کننده منافع خود باشند. در نگاه دیگر گفته می‌توانیم که بستر و زمینه‌های تهدیدها و برعکس امنیت و ثبات دولت‌ها متأثر از موقعیت‌جغرافیایی یا محیط بین المللی آن‌ها می‌باشد. طوری که گریفتس و کالاگان استدلال می‌کنند که: «در علم روابط بین‌الملل جغرافیا سرنوشت را رقم می‌زند». (۴۰:ص۱۲۲)

**ب- کاسا- ۱۰۰۰ (CASA- 1000) د برېښنا پروژه:** د برېښنا دغه پروژه په ۲۰۱٦ز. کال کې د قرغېزستان، تاجکستان، افغانستان او پاکستان ترمنځ لاسلیک شوه.[۱۵] د دې پروژې ټوله بودیجه ۱,۲ میلیارده ډالر اټکل شوې او تمه وه چې د ۲۰۱۹ز. کال تر پای د برېښنا انتقال پیل شي.[۱٦] د دې پروژې له لارې به له قرغیزستان څخه برېښنا تاجکستان، له تاجکستان څخه افغانستان او د افغانستان له لارې به د پاکستان پېښور ته انتقالیږي. د دې پروژې له لارې به افغانستان ۳۰۰ میګا واټه* او پاکستان ۱۰۰۰ میګاواټه برېښنا ترلاسه کړي، خو کارونه یې تر دې دمه هم بشپړ شوي نه دي.[۱۸]

درېیم شکل: د کاسا ۱۰۰۰ پروژې له لارې د برېښنا د انتقال نقشه[۱۹]




**ج- د ټاپ- ۵۰۰ (TAP- 500) برېښنا پروژه:** د ۲۰۱۵ز. کال په ډسمبر میاشت کې ترکمنستان، افغانستان او پاکستان د برېښنا دغه پروژه لاسلیک کړه، چې له دې لارې به ۲۰۰۰ میګا واټه برېښنا له ترکمنستان څخه افغانستان او له افغانستان څخه پاکستان ته انتقال شي. پر دې پروژه ۱۵۰ میلیونه ډالره لګښت راځي چې د اسیا پراختیایي بانک یې د پور په ډول د ورکړې ژمنه کړې ده. تمه وه چې د ۲۰۱۸ز. کال په لومړۍ ربعه کې د پروژې کار پیل شي، خو لا هم نیمګړې پاتې ده.[۲۰]

**د- د چابهار ( The International Transport and Transit Corridor) پروژه:** دغه پروژه په ۲۰۱۶ز. کال کې د افغانستان، ایران او هند ترمنځ لاسلیک شوه. دا پروژه د دغو دریو هېوادونو ترمنځ د ترانسپورت او ترانزیت یوه بحري لار ده چې له لارې یې افغانستان له هند سره نښلېږي او له دې لارې به دغه هېوادونه خپل مالونه او خدمات یو بل ته انتقالوي.[۲۱]

څلور شکل: د چابهار پروژې نقشه[۲۲]




**هـ - د پنځو ملتونو د ریل پټلۍ دهلېز ( The Five Nations Railway Corridor):** دغه پروژه افغانستان له سیمې سره نښلوي چې د پنځو هېوادونو چین، تاجکستان، قرغیزستان، افغاستان او ایران ترمنځ په ۲۰۱۴ز. کال کې لاسلیک شوه، خو په افغانستان کې د ناامنۍ له امله یې کارونه تر دې دمه نه دي بشپړ شوي. د دې پروژې موخه دا ده چې د ریل پټلۍ له لارې دغه پنځه هېوادونه یو له بل سره ونښلي او خپل مالونه او خدمات یو بل ته انتقال کړي. پر دې پروژه باندې دوه میلیارده ډالره لګښت راځي چې اوږدوالی یې ۲۱۰۰ کیلو متره دی.[۲۳]

پنځم شکل: د پنځو ملتونو د ریل پټلۍ د دهلېز نقشه[۲۴]




**و- د لاجوردو لار (Lapis-Lazuli Corridor):** دغه لار په ۲۰۱۸ز.کال کې پرانېستل شوه چې افغانستان د ترکمنستان، اذربایجان، گرجستان او ترکیې له لارې له اروپا سره نښلوي. دغه دهلېز له سړکونو، ریل پټلۍ او سمندري لارو څخه جوړه ده چې له سیمې او نړۍ سره افغانستان نښلوي.[۲۵]

شپږم شکل: د لاجوردو لار نقشه[۲۶]



**ز- د یوه کمربند یوې لارې ( One Belt One Road) پروژه:** دا د چین هغه ستره پروژه ده چې غواړي د بېلا بېلو دهلېزونو (Corridors) په واسطه ځان له نړۍ سره وصل کړي. افغانستان د دې پروژې برخه ده او په دې اړه د چین او افغانستان ترمنځ د ۲۰۱٦ز. کال په مې میاشت کې هوکړه لیک هم لاسلیک شوی چې له ګټې اخیستنې وروسته د همدې کال په سپتمبر میاشت کې د سوداګرۍ لومړنۍ جوپه له چین څخه د قزاقستان او ازبکستان له لارې افغانستان ته په ۱۴ ورځو کې راورسېده.[۲۷]

لنډه دا چې د افغانستان د سیمه ییز اتصال لپاره مخکې له مخکې لاسلیک شوې، خو نابشپړې پروژې یو فرصت دی چې د سیمې د هېوادونو په مرسته یې بشپړې کړي او افغانستان له سیمې سره ونښلوي.

**۳- بې طرفه بهرنۍ سیاست**

د افغانستان اسلامي امارت بهرنۍ سیاست بې طرفه او د نورو هېوادونو په چارو کې پر نه لاسوهنې ولاړ دی.»[۲۸]

د افغانستان سیمه ییز اتصال لپاره د بې طرفه بهرني سیاست شتون یو فرصت دی او دغه ډول بهرني سیاست ته باید دوام ورکړل شي. که تېرو شلو کالونو ته پام وکړو، نو بهرنی سیاست بې طرفه نه و او د امریکا متحده ایالاتو په اتحاد ولاړ و، چې دا پخپله د افغانستان د سیمه ییز اتصال پر وړاندې یوه ننګونه وه، ځکه روسیه، چین او ایران چې مهم سیمه ییز هېوادونه ګڼل کېږي، د افغانستان د بهرني سیاست له امله یې نه غوښتل او یا د امریکا متحده ایالاتو نه پرېښودل چې له افغانستان سره داسې سیمه ییز پیوستون رامنځته کړي چې دواړو لورو ته یې ګټه ورسېږي. دا چې اوسمهال اسلامي امارت خپل بهرنی سیاست بې طرفه او متوازن اعلان کړی دی، نو دا یو لوی فرصت دی چې افغانستان د سیمې له هېوادونو سره وصل شي. د همدې

بې طرفه سیاست لاسته راوړنه ده چې چین دلته پانګونې ته زړه ښه کړی، له ایران سره سوداګریزې اړیکې پراخې شوې دي، روسیې د افغانستان پر صادراتو تعرفه ختمه کړې او لا هم د ښو سوداګریزو اړیکو غوښتونکې ده. په ورته توګه هند هم د خپل سفارت ودانۍ پرانیستې او تخنیکي ټیم یې له اسلامي امارت سره په خبرو بوخت دی او پاکستان هم له اسلامي امارت سره په اقتصادي اړیکو کار کوي. اسلامي امارت کولای شي چې له دغه ډول بې طرفه بهرني سیاست څخه نور هم د سیمې په کچه ډېره ګټه واخلي.

**۴- په سیمه ییزو سازمانونو کې غړیتوب**

سیمه ییز سازمانونه په اوسنۍ نړۍ کې د پرمختګ، پراختیا، سولې او ثبات لپاره هغه بنسټونه دي چې هېوادونه په کې د پولو او جغرافیایي مشترکاتو پر اساس یوځای کېږي او په ګډه د معلومو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره هڅه کوي.

په سیمه ییزو سازمانو کې د ګډون ګټه دا ده چې هېوادونه په کې په ګډه اختلافات حل کوي او د خپلو وګړو د ستونزو لپاره په کې حللارې لټوي چې د دغه ډول سازمانونو له لارې کېدلای شي د غړو هېوادونو اقتصادي، سیاسي، امنیتي او نورې ستونزې حل شي.

افغانستان په ۱۹۹۳ز. کال کې د ایکو سازمان( Economic Cooperation (Organization(ECO)، په ۲۰۰۷ز. کال کې د سارک سازمان ( South Asian (Association for Regional Cooperation (SAARC) او په ۲۰۱۲ز. کال کې د شانګهای همکارۍ سازمان ((Shanghai Cooperation Organization (SCO) غړیتوب ترلاسه کړی دی، چې په لومړنیو دوه سازمانونو کې یې غړیتوب دایمي او په شانګهای همکارۍ سازمان کې ناظر غړی دی.[۲۹]

اوسني افغان حکومت لپاره دا یو فرصت دی چې په دې ډول سیمه ییزو سازمانونو په ځانګړې ډول په ایکو او سارک کې چې تر ډېره یې اهداف اقتصادي

دي، د غړیتوب له لارې له یوې خوا خپلې اقتصادي ستونزې حل کړي او له بلې خوا افغانستان له سیمې سره وصل کړي، ځکه که په دغو سازمانونو کې پر سوداګریز لارو او اقتصادي پروژو هوکړه کېږي، دا چې افغانستان یې غړی دی، نو افغانستان به له دغو پروژو څخه ګټه ترلاسه کوي او له دې لارې به له سیمې سره وصل شي.

## ۵- د امنیت شتون

د افغانستان جغرافیایي موقعیت، پراخې طبیعي زېرمې، پریمانه اوبه او مناسبه هوا، ټول د پرمختګ او ترقۍ لپاره غوره نښګنې دي؛ خو بیا هم افغان ملت په تېرو څلورو لسیزو کې د نړۍ د پرمختګ له کاروانه ډېر وروسته پاتې دی، چې له ټولو ستر لامل یې د ثبات او ډاډمن امنیت نه شتون و.[۳۰] د یوه هېواد د اقتصادي پیاوړتیا لپاره د امنیت شتون لومړنۍ او مهمه اړتیا ده، په تېرو وختونو کې افغانستان ته د سیاحت لپاره سیلانیان نه راتلل او نه هم په داخل کې افغانان د سیاحت لپاره په ولایتونو ګرځېدل، لویې اقتصادي پروژې لکه تاپي او کاسا ۱۰۰۰ د امنیت د نه شتون له امله نیمګړې پاتې دي، د اقتصادي پرمختګ لپاره سوداګري مهم لامل دی او د سوداګرۍ لپاره اړینه ده چې یو هېواد د ټرانسپورټ لپاره پیاوړې زېربنا، پاخه سړکونه او لویې لارې ولري چې له بده‌مرغه د امنیت د نه شتون له امله د هېواد ډېری سړکونه خام او زیربنایي ټرانسپورټي سیستم یې خراب دی. د اقتصادي پیاوړتیا لپاره بله اړینه موضوع په هېواد کې بهرنۍ پانګونه ده چې متأسفانه بهرنیان د ډاډمن امنیت د نه شتون له امله افغانستان ته نه راتلل او دلته یې پانګونه نه کوله. لنډه دا چې د یو هېواد د اقتصادي پیاوړتیا لپاره لویې اقتصادي پروژې، صنعت، سوداګري، ټرانسپورټي سیستم، بهرنۍ پانګونه، سیاحت او داسې نور... موضوعات اړین دي، خو له بده‌مرغه دا ټول شیان د امنیت د نه شتون له امله نه دي عملي شوي چې له امله یې افغانستان له اقتصادي بحران سره مخامخ شوی دی.

ثبات او امنیت د پرمختګ مهم لاملونه دي او اوس له بل هر وخت څخه د افغانستان د پرمختګ شرایط ښه برابر دي، ځکه امنیت تأمین شوی، هر څوک په خلاص مټ کار کولای شي او د هېواد ټولو سیمو ته په ازاد ډول او له هر ډول وېرې پرته سفر کولای شي. لنډه دا چې په افغانستان کې د اسلامي امارت په راتګ سره امنیت قایم شوی او دا د افغانستان د سیمه ییز اتصال لپاره یو فرصت دی چې باید اسلامي امارت ترې ګټه واخلي او دا طلایي فرصت له لاسه ورنکړي، د سیمې له هېوادونو سره اړیکې ښې او پیاوړې کړي، د دښمنۍ پر ځای له دوستۍ او د تقابل پرځای له تعامل څخه کار واخلي. په حکومتي کچه دې د سیمه ییز اتصال لپاره پالیسي جوړې شي او د تطبیق لپاره یې منظم میکانیزم رامنځته او د ټولو هغو ننګونو مخنیوی وکړي چې د افغانستان د سیمه ییز اتصال پر وړاندې پراته دي.

**د افغانستان سیمه ییز اتصال پر وړاندې ننګونې**

سره له دې چې د افغانستان سیمه ییز اتصال په اړه ډېر فرصتونه شته چې پورته ورته اشاره وشوه، خو د دغو فرصتونو ترڅنګ ځینې ننګونې هم شته چې کېدای شي د افغانستان سیمه ییز اتصال ټکنی کړي او یا هم که بدیلې حللارې ورته پیدانشي، نو کېدای شي د افغانستان سیمه ییز اتصال رامنځته نشي. دغه ننګونې په لاندې ډول دي:

**۱- د سیمې د هېوادونو له خوا د اسلامي امارت په رسمیت نه پېژندل**

رسمیت پېژندنه تر ډېره یو حقوقي بحث دی، کله چې یو نوی دولت رامنځته کېږي او نور دولتونه یې د رسمیت پېژندنې لپاره اقدام کوي، دې ته د دولتونو په رسمیت پېژندنه وایي او کله چې یو نوی حکومت په غیر عادي ډول (له ټاکل شویو اصولو پرته) رامنځته شي او دغه حکومت د نورو دولتونو له خوا په رسمیت وپېژندل شي دې ډول رسمیت پېژندنې ته د حکومت رسمیت پېژندنه وایي. په افغانستان کې هم د اسلامي امارت حکومت په غیر عادي ډول منځته راغلی ځکه عادي شکل

یې ټاکنې وي، نو اوس اړتیا ده  چې دغه نوی حکومت باید د نورو دولتونو له خوا په رسمیت وپېژندل شي، خو دا چې د حکومت د رسمیت پېژندلو لپاره کوم معیارونه ډېر مهم دي په دې اړه په نړیوالو حقوقو کې څلور ډوله دکتورین موجود دي:

**۱: توبار دکتورین (TOBAR DOCTRINE):** دغه دکتورین په ۱۹۰۷ز. کال کې د کارلوز توبار له خوا چې د ایکوادور د بهرنیو چارو وزیر و رامنځته شول. دا دکتورین وايي: « No Recognition for Unconstitutional Governments» نوی منځته راغلی حکومت باید هغه وخت د نورو دولتونو له خوا په رسمیت وپېژندل شي کله چې په قانوني بڼه په ځانګړي ډول د نافذ اساسي قانون پر بنسټ رامنځته شوی وي.

**۲: بېټن کورټ دکتورین (BETANCOURT DOCTRINE):** دغه دکتورین په ۱۹۵۹ز. کال کې رامنځته شوي دي او وايي: « No Recognition for Military Rules» هغه حکومتونه چې د نظامي کودتاه له لارې منځته راغلي، باید په رسمیت ونه پېژندل شي.

**۳- سټېمسن دکتورین (STIMSON DOCTRINE):** دا دکتورین د امریکایي سټېمسن له خوا په ۱۹۳۲ز. کال کې رامنځته شوي دي او ددغو دکتورینو له مخې کله چې یو حکومت د زور له لارې د بل دولت خاوره له ځان سره یوځای کړي او هغه د خپل دولت برخه وګرځوي، نو په داسې حالت کې نور دولتونه باید دغه حکومت په رسمیت ونه پېژني.[۳۱]

**۴: ایسټراډه دکتورین (ESTRADA DOCTRINE):** دغه دکتورین د مکسیکو د بهرنیو چارو وزیر جینارو ایسټراډه له خوا په ۱۹۳۰ز. کال کې رامنځته شو. د دغو کتورین پربنسټ کله چې نوی حکومت رامنځته کېږي، دولتونه باید رسمیت پېژندنه یې د خپل مثبت یا منفي قضاوت پر بنیاد ونکړي، ځکه دا د هغه دولت د حاکمیت د اصل ماتول او د هغوی په کورنیو چارو کې لاسوهنه ده. د رسمیت پېژندنې لپاره د

نړیوالو حقوقو دوه اصله باید په پام کې ونیول شي: لومړی په پرېکړو کې د حکومت خپلواکي ( Self-determination) او دویم د هغه حکومت له خوا د نورو دولتونو په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه(Non-intervention)،[۳۲] په دې معنی چې د دې دکتورینو پر بنسټ که د رسمیت پېژندل شوي دولت په داخل کې داسې حکومت رامنځته شي چې هغه پخپلو پرېکړو کې خپلواک وي او د نورو دولتونو په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي، نو هغه باید په رسمیت وپېژندل شي. له دې بحث څخه موخه دا ده چې اوسنی افغان حکومت کولای شي د ایسټراډه پر دکتورینو استناد وکړي او له نړیوالو څخه د همدغه دکتورینو په رڼا کې د رسمیت پېژندنې غوښتنه وکړي.

رسمیت پېژندنه پخپل وار په ضمني او صریح او ډیفکټو (مؤقتي) او ډیژور (دایمي) وېشل شوي دي چې دلته دا مقاله پرې د بحث حوصله نه لري. د دولتونو ترمنځ په ډیپلوماتیکه او رسمي کچه د اړیکو ټینګولو لپاره رسمیت پېژندنه اساس دی. که افغان حکومت غواړي د افغانستان سیمه ییز اتصال رامنځته کړي، نو اړتیا ده چې د سیمې د هېوادونو له خوا په رسمیت وپېژندل شي، خو له بدهمرغه د افغانستان اسلامي امارت د هېڅ یو هېواد له خوا په رسمیت نه دی پېژندل شوی، نو ویلای شو چې د افغانستان سیمه ییز اتصال پر وړاندې د سیمې د هېوادونو له خوا د اوسني حکومت په رسمیت نه پېژندل، یوه ننګونه ده او که دا ستونزه حل نشي، نو کېدای شي هغه لویې اقتصادي پروژې چې افغانستان له سیمې سره نښلوي، همداسې تړلې پاتې شي او د افغانستان سیمه ییز اتصال به رامنځته نشي.

**۲- د ښخو او معیاري سړکونو او لارو نشتوالی**

د لویو او معیاري سړکونو او لارو موجودیت د سیمه ییز اتصال لپاره اړین دي. که افغانستان غواړي له سیمې سره ونښلي او سیمه ییزې پروژې له افغانستان څخه تېرې شي، نو که پراخ او معیاري سړکونه او یا هم معیاري او پراخ هوایي ډګرونه

موجود نه وي، طبيعي ده چې د سيمې هېوادونه به پر بديلو لارو فکر وکړي چې دا کار د افغاستان د سيمه ييز اتصال مخه نيسي.

نړيوال بانک په ۲۰۱۸ز. کال کې په جنوبي اسيا کې د ټرانسپورټي اسانتياوو د موجوديت په اړه سروې وکړه او له مخې يې غړو هېوادونو ته نمرې ورکړې، همدارنگه د نړۍ له درجه بندۍ سره له پرتلنې وروسته يې غړو هېوادونو ته درجې هم ورکړې، چې تر ټولو ډېرې نمرې هند ( له ۵ نمرو څخه ۳٫۱۸ ) او تر ټولو ټيټې نمرې افغاستان( له ۵ نمرو څخه ۱٫۹۵) ترلاسه کړې.[۳۳]

اووم شکل: د ټرانسپورټي سهولتونو د موجوديت له مخې د جنوبي اسيا هېوادونو




نمرې[۳۴]

همدرانگه د ټرانسپورټي اسانتياوو له اړخه د نړيوال بانک له سروې سره سم افغانستان په نړۍ کې په ۱٦۰ نمبر کې راغی،[۳۵] نو معلومېږي چې د افغانستان ټرانسپورټي اسانتياوې په ډېره ټيټه کچه کې دي چې دا پخپله د افغانستان د سيمه ييز اتصال لپاره ننگونه ده.

اتم شکل: د ټرانسپورټي سهولتونو د موجوديت له حېثه په نړيواله کچه د جنوبي اسيا هېوادونو درجه بندي[۳٦]

| | |
|---|---|
| Afghanistan | 160 |
| Bangladesh | 100 |
| Bhutan | 149 |
| India | 44 |
| Nepal | 114 |

### ۳- د ځمکنیو او سرحدي اختلافونو شتون

په سیمه کې د ځینو هېوادونو ترمنځ سرحدي اختلافونه او د ځمکو پر سر شخړې بله هغه ننګونه ده چې سیمه ییز اتصال یې ټکنی کړی دی، د بېلګې په ډول، په جنوبي اسیا کې د هند او پاکستان، د نیپال او هند، د بوتان او چین، د هند او میانمار، د بنګله دېش او هند او د چین او هند سرحدي شخړې. په مرکزي اسیا کې د ازبکستان او قزاقستان، د تاجکستان او قرغیزستان، د ازبکستان او قرغیزستان، د تاجکستان او ازبکستان او د ترکمنستان او اذربایجان شخړې. په منځني ختیځ کې د ایران او متحده عربي اماراتو، د ایران او عراق، د ایران او کویټ، د ایران او اذربایجان، د ترکیې او سوریې او د ترکیې او یونان سرحدي او ځمکنی شخړې د یادولو وړ دي.[۳۷] افغانستان هم هغه هېواد دی چې له پاکستان سره د ډیورنډ فرضي کرښې پر سر ځمکنۍ شخړه لري او له ایران سره د هلمند د اوبو پر سر کله نا کله ناندرۍ راپورته کېږي، که څه هم د ۱۹۷۳ز. کال(۱۳۵۱ هـ.ل) د هلمند د اوبو تړون[۳۸] دغې شخړې ته د پای ټکی ایښی، خو بیا هم ایران په یوه او بله پلمه په اوبو کې د تصرف له امله له افغانستان سره جنجال راپورته کوي، نو په عمومي ډول په سیمه کې په ځانګړي ډول له پاکستان او ایران سره د افغانستان د سرحدي او اوبیزو سرچینو په اړه اختلافونه هغه ننګونې دي چې د افغانستان د سیمه ییز اتصال پر وړاندې شته او دغه اتصال یې ټکنی کړی دی.

### ۴- د سیمې د هېوادونو نامتجانس سیاسي- اقتصادي نظامونه

د افغانستان سیمه ییز اتصال پر وړاندې بله ننګونه د سیمې د هېوادونو یو شان سیاسي- اقتصادي نظامونو نشتون دی. که د سیمې د هېوادونو سیاسي- اقتصادي نظامونه له افغانستان سره ورته وی، نو افغانستان به په ډېرې اسانۍ کولای شول چې د سیمه ییز اتصال پر لوري ګامونه واخلي، خو په سیمه کې د

نامتجانس سیاسي- اقتصادي نظامونو شتون یوه ننګونه ده. د بېلګې په ډول، هند د نړۍ د لویو دیموکراتیکو نظامونو په ډله کې راځي چې له امله یې سیاسي نظام پر دیموکراسۍ او اقتصاد یې په ازاد بازار ولاړ دی، خو په افغانستان کې سیاسي نظام دیموکراتیک نه، بلکې اسلامي دی چې له امله یې له یوې خوا ازاد بازار په خپل حال نشي پاتې کېدای او له بلې خوا په اقتصادي مسایلو او تړونونو کې هغه موارد هم کنټل کېږي چې هغه له اسلام سره په ټکر کې وي. همدارنګه په پاکستان کې ډیموکراتیک نظام دی، خو له هند سره یې توپیر په دې کې دی چې د دوی نظام تر ډېره له پوځ څخه اغېزمن دی، نو په سیمه کې هغه لویې پروژې چې د پاکستان پوځي ګټې ګواښي، پاکستان حکومت یې مخالفت کوي چې د سیمه ییز اتصال لپاره یوه ننګونه ده. بل خوا په ایران کې بیا په بشپړ ډول بېل نظام دی، د ایران روحاني نظام او د دوی واکمن ارګانونه لکه د نګهبان شورا، د نظام د مصلحت د تشخیص مجمع، سپاه پاسداران او نور... په هغو مسایلو کې مستقیماً لاس لري چې هغه بهرنۍ اړخ ولري، نو په اقتصادي مسایلو کې د دوی لاسوهنه چې له یوې خوا یې د لویو پروژو د تطبیق پروسیجر اوږد کړی او له بلې خوا هرې پروژې ته د مصلحت له عینکو ګوري، دا خپله د سیمه ییز اتصال پر وړاندې ننګونه ده. په ورته توګه پر ایران لګېدلي نړیوال بندیزونه هم یوه ننګونه ده چې په سیمه کې یې د لویو پروژو چې سیمه ییز اتصال رامنځته کوي، مخه نېولې ده.[۳۹]

په مرکزي اسیا کې دوه هېوادونه ترکمنستان او ازبکستان تراوسه پورې د نړیوال سوداګریز سازمان ناظر غړي دي[۴۰] (ترکمنستان د ۲۰۲۱ز. کال د نومبر میاشتې پر ۲۴مه نېټه د دایمي غړیتوب لپاره غوښتنلیک وړاندې کړ، خو تراوسه یې دایمي غړیتوب نه دی ترلاسه کړی.[۴۱]) چې په دې سازمان کې د دوی نه غړیتوب هم یوه ننګونه ده چې کېدای شي سیمه ییز اتصال ټکنی کړي.

## ۵- په سیمه کې د لویو قدرتونو ترمنځ سیالۍ

د افغانستان سیمه ییز اتصال پر وړاندې بله ننګونه په سیمه کې د لویو قدرتونو ترمنځ سیالۍ دي او په هغه سیمه کې چې لوی قدرتونه سیالۍ ولري طبیعي ده چې هلته د هغوی ترمنځ همکارۍ او اقتصادي سیمه ییز اتصال ستونزمن دی. پوتین د جیمز مونرو له دکتورینو څخه په الهام اخیستو فکر کوي چې د شوروي اتحاد پخوانی قلمرو اوس هم باید د روسیې تر نفوذ او اغېز لاندې وي. همدارنګه د امریکا متحده ایالاتو د وروستیو نوې لار پروژه رامخې ته کړه چې د دې پروژې له لارې به د مرکزي اسیا زېرمې جنوبي اسیا ته انتقال شي، خو روسان ګومان کوي چې دا پروژه به په مرکزي اسیا کې د روسیې اغېز راکم کړي. دا چې امریکا متحده ایالات له سیمې وتلې، خو غیر مستقیم جنوبي او مرکزي اسیا هېڅکله له لاسوهنو پرته نه پرېږدي، چې دا یوه ننګونه ده. همدارنګه په اسیا کې د چین د یوه کمربند یوې لارې لویه اقتصادي پروژه هم د روسیې او د امریکا د متحده ایالاتو لپاره د تشویش وړ ده، ځکه هر څومره چې د چین اقتصاد پیاوړی کېږي هغومره د روسیې او په ځانګړي ډول د امریکا متحده ایالاتو نفوذ په نړۍ او په ځانګړي ډول په اسیا کې کمېږي، نو امریکایان به د دې پروژې د ناکامولو هڅه کوي چې د امریکا متحده ایالاتو له خپلو نورو متحدینو سره په ګډه د ۲۰۲۲ز. کال په جون میاشت کې د جي اوه (G7) په ناسته کې شپږسوه میلیارده ډالره (600 Billion $) بودیجه تصویب کړه تر څو د چین د یوه کمربند یوې لارې پروژې مخه پرې ونیسي، [۴۲] چې دا خپله د سیمه ییز اتصال لپاره یوه ننګونه ده.

همدارنګه په سیمه کې نور لوی اتومي قدرتونه شته لکه چین، روسیه، پاکستان او هند. همدارنګه ایران هم د اتومي وسلې د جوړولو په هڅه کې دی، نو پورتني هېوادونه د امریکا متحده ایالاتو د راتلونکې رهبرۍ لپاره ګواښ دي، همدرانګه په جنوبي اسیا کې هند له چین او پاکستان سره سیالۍ لري چې دغه سیالۍ د سیمه ییز اتصال لپاره ننګونه ده او کله چې سیمه ییز اتصال له ننګونو سره مخامخ شي، نو طبیعي ده چې افغانستان به هم له سیمه ییز اتصال څخه لرې پاتې کېږي.

**پایله**

د شته فرصتونو او ننګونو له څېړلو وروسته داسې څرګندېږي چې افغانستان کولای شي سیمه ییز اتصال رامنځته کړي. اوسنی افغان حکومت بې طرفه او متوازن بهرنی سیاست لري او دغه ډول سیاست د سیمه ییز اتصال لپاره یو مهم فرصت دی، همدارنګه له سیمې څخه د امریکا متحده ایالاتو وتل، د امنیت شتون او د سیمه ییزو سازمانونو او پروژو غړیتوب د افغانستان د سیمه ییز اتصال لپاره فرصتونه دي چې اسلامي امارت باید ترې ګټه واخلي.

دا چې اسلامي امارت د نړۍ او سیمې هېوادونو تراوسه په رسمیت نه دی پېژندلی، نو د افغانستان سیمه ییز اتصال لپاره دا غټه ننګونه ده او د دغې ننګونې د حللارې لپاره باید اسلامي امارت د تقابل پرځای له تعامل څخه کار واخلي. همدارنګه د پخو سړکونو او لارو نه موجودیت، په سیمه کې د لویو قدرتونو ترمنځ سیالۍ، د نامتجانسو سیاسي – اقتصادي نظامونو شتون او سرحدي شخړې هغه ننګونې دي چې د افغانستان سیمه ییز اتصال پر وړاندې پرتې دي. لنډه دا چې د افغانستان د سیمه ییز اتصال په اړه د ننګونو په پرتله فرصتونه ډېر او پیاوړي دي، خو ننګونې هم باید له پامه ونه غورځول شي او باید حللارې ورته ولټول شي.

**وړاندیزونه**

د افغانستان سیمه ییز اتصال پر وړاندې د فرصتونو او ننګونو له څېړلو وروسته په دې اړه اسلامي امارت ته لاندې وړاندیزونه کوو:

۱- د افغانستان سیمه ییز اتصال یوه حیاتي موضوع ده او په دې اړه باید حکومت د اسلامي شریعت په چوکاټ کې له انعطاف پذیرۍ څخه کار واخلي، یعنې د سیمې د هېوادونو د غوښتنو په اړه له تعامل کار واخلي، ځکه د افغانستان راتلونکی اقتصادي او سیاسي نظام تر ډېره د افغانستان په سیمه ییز اتصال پورې تړلی دی.

۲- افغانستان په وچه کې راایسار هېواد دی سمندر ته لار نه لري او پاکستان د مرکزي اسیا انرژۍ ته اړتیا لري، نو اسلامي امارت باید مرکزي اسیا ته د لارې په بدل کې له پاکستان څخه سمندر ته لار وغواړي.

۳- د سیمې د هېوادونو له خوا په افغانستان کې لاسلیک شوې سیمه ییزې پروژې (تاپي، کاسا- ۱۰۰۰، تاپ ۵۰۰، د پنځو ملتونو د ریل پټلۍ، د سړکونو او ریل پټلۍ جوړول...) باید پلي شي، په دې اړه اسلامي امارت باید له اړوندو هېوادونو سره خبرې پیل کړي، هغوی خپلو ژمنو ته متوجې کړي او د پروژو د تطبیق په اړه د هر ډول اسانتیاوو د برابرولو ډاډ ورکړي.

۴- اسلامي امارت باید په سیمه کې د هند او پاکستان، روسیې او امریکا متحده ایالاتو، چین او امریکا متحده ایالاتو، روسیې او چین، ایران او امریکا متحده ایالاتو، چین او جاپان، چین او هند او نورو هغو هېوادونو پر وړاندې متوازن بهرنی سیاست ولري چې هغوي خپلمنځي اختلافات او سیالۍ لري.

۵- د رسمیت پېژندنې لپاره باید ژر تر ژره یو لړ داسې اقدامات ترسره شي چې هغه له اسلامي شریعت سره په ټکر کې نه وي، یعنې د نړیوالو هغه شرطونه چې د اسلامي شریعت او د افغانستان ملي ګټو سره په ټکر کې نه وي، ومني، تر څو د سیمه ییز اتصال پر وړاندې هر ډول ننګونې لەمنځه لاړې شي.

٦- د سیمه ییز اتصال لپاره اړینه ده چې افغانستان پاخه او معیاري سړکونه او لارې ولري، نو اسلامي امارت باید د تعمیراتي کارونو په لړ کې دې برخې ته لومړیتوب ورکړي تر څو د سیمه ییز اتصال پر وړاندې دغو ننګونو ته د پای ټکی کېښودل شي.

## مأخذونه

1-Mohammad Yonus Noorzi, Afghanistan: Regional Connectivity Hub, researchgate.net, January 2021, Access link: (PDF) Afghanistan: Regional Connectivity Hub (researchgate.net)

۲- فرهاد قاسمی، نظریه‌های روابط بین الملل و مطالعات منطقه‌یی، تهران، نشر میزان.- گروه نویسندگان ابرار معاصر، ۱۳۹۰ هـ.ل، ۲۹ مخ.

۳- عزت الله عزتی، ژئوپلتیک، انتشارات سمت، تهران، ۱۳۸۰ هـ.ل، ۳ مخ.

۴- محمد اعظم طارق، موقعیت جغرافیایی افغانستان از چشم انداز تئوری های جیوپولیتیکی، مجله سیمه ییز مطالعات، مرکز مطالعات منطقه ای اکادمی علوم افغانستان، ۱۳۹۹ ربع سوم، شماره مسلسل ۵۸، ص ۹٦ و ۹۷.

5-Panuswee Dwivedi and Uday Turaga, Regional spotlight: Oil & Gas in Central Asia, ADI Analytics, May 28, 2021, Access link: https://adi-analytics.com/2021/05/28/regional-spotlight-oil-gas-in-central-asia/

6-Ibid.

7-Umbreen Javaid & Azhar Rashid, “Oil and Gas Potentials of Central Asian Republics and Relations with Pakistan.” South Asian Studies, 30(1), (2015), P. 143-144. Access Date: 27/Jan/2021, Available at: http://journals.pu.edu.pk/journals/index.php/IJSAS/article/viewFile/2988/1201

8-Hashmatullah Khan, Op. Cit., P. 23.

9- Ibid, P.24.
10-Amina khan, AFGHANISTAN AND REGIONAL CONNECTIVITY, INSTITUTE OF STRATEGIC STUDIES ISLAMABAD, Aug 6, 2019, P. 3.
11- Roman Muzalevsky, REGIONAL CONNECTIVITY FRAMEWORK AND PERFORMANCE OF LOCAL ECONOMIES, Strategic Studies Institute, US Army War College, 2014, P. 71, Access link:http://www.jstor.com/stable/resrep11955.7
12-Amina khan, Op. Cit., p. 4.
۱۳- عبدالصبور مبارز، د افغانستان په اړه د هند او پاکستان د بهرني سیاست پرتلیزه څېړنه، د سیمه ییز مطالعات مجله، افغانستان علومو اکاډمي، ۱۳۹۹ هـ.ل کال دریمه ربعه، پرله پسې گڼه: ۵۸، ۱۳۵ مخ.
14-https://blacksea-caspia.eu/en/construction-tapi-gas-pipeline-schedule
15-Amina khan, Op. Cit., p. 3.
16-M. Azim Wardak, Infrastructure Connectivity in Afghanistan, Ministry of Foreign Affairs of Afghanistan, 2017, P. 12.
* یو میگاواټ ۱۰۰۰ کیلو واټ کېږي.
۱۸- عبدالصبور مبارز، د افغانستان په اړه د هند او پاکستان د بهرني سیاست پرتلیزه څېړنه، مخکینی مأخذ، ۱۳۵ مخ.
19-https://www.casa-1000.org/
21- (…), Work on TAP-500 to start in Q1 2018, Economist Intelligence, 2017, Acess link: Work on TAP-500 to start in Q1 2018 (eiu.com)
21-M. Azim Wardak, Op. Cit., P. 17.

22-https://iranprimer.usip.org/blog/2019/oct/08/broken-promise-chabahar
23-M. Azim Wardak, Op. Cit., P. 15.
24-https://www.cacianalyst.org/publications/analytical-articles/item/13670-iran-and-afghanistan-inaugurate-cross-border-railway.html
25-M. Azim Wardak, Op. Cit., P. 16.
26-https://agenda.ge/en/news/2018/2654
27- Azim Wardak, Op. Cit., P. 18.
28-Kristian Berg Harpviken, The Foreign Policy of the AfghanTaliban, Peace Research Institute Oslo (PRIO), 2021, Access link for Pdf:
https://www.prio.org/download/publicationfile/2278/Harpviken%20-%20The%20Foreign%20Policy%20of%20the%20Afghan%20Taliban,%20PRIO%20Policy%20Brief%202-2021.pdf

۲۹- محمد اصف مهاجر، عضویت افغانستان در سازمانهای منطقهای؛ فرصتها و چالشها، روزنامه انیس، اگست ۷، ۲۰۲۱، د لاس رسی ور لېنک: عضویت افغانستان در سازمانهای منطقه ای؛ فرصتها و چالشها – روزنامه انیس(dailies.gov.af)

۳۰- ډاډمن امنیت او د پرمختګ هیلې...!، هېواد ورځپاڼه، ۲۰۲۲ز. کال د جولای ۲۳، د لاس رسي ور لېنک: ډاډمن امنیت او د پرمختګ هیلې...! – روزنامه هیواد(dailies.gov.af)

31- (…), Doctrines for state recognition of government, eBooksheir.org, Access link: Doctrines for state recognition of government | eBook (sheir.org)

32- (…), Estrada Doctrine, sensagent dictionary, Access link: Estrada Doctrine : definition of Estrada Doctrine and synonyms of Estrada Doctrine (English) (sensagent.com)

33 -Bipul Chatterjee and Surendar Singh, Regional Connectivity in South Asia, Sustainable Development Policy Institute, 2020, P. 185. Access link: http://www.jstor.com/stable/resrep24374.20

34-Ibid.

35 -Ibid.

36-Ibid, P. 186.

۳۷- ضیاالحق ضیا، د بین المللي حقوقو له نظره د سرحدونو حقوقي رژیم، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۹۴ هـ.ل، ۹۳- ۱٦۷ مخونه.

38-Glen Hearns, The Helmand River and the Afghan-Iranian Treaty of 1973, international water law, July 23rd, 2015, Access link: International Water Law Project Blog » Blog Archive The Helmand River and the Afghan-Iranian Treaty of 1973 - International Water Law Project Blog.

۳۹- متین امین، افغانستان و چالش‌های فراراه هم‌گرایی منطقه‌ای، هشت صبح ویبپاڼه، ۱۳۹۹ هـ.ل، د لاس رسي وړ لینک: افغانستان و چالش‌های فراراه هم‌گرایی منطقه‌ای | روزنامه ۸صبح(8am.af)

۴۰- د سوداګرۍ نړیوال سازمان رسمي ویبپاڼه، د ناظرو او دایمي غړو لست، د لاس رسي وړ لینک: WTO ¦ Members and Observers

41-WTO | 2020 News items -Members endorse Turkmenistan’s WTO observer status.
42-Andrea Shalal, G7 aims to raise $600 billion to counter China's Belt and Road, reuters.com, 27 June, 2022, Access link: https://www.reuters.com/world/refile-us-aims-raise-200-bln-part-g7-rival-chinas-belt-road-2022-06-26/

معاون سرمحقق عبدالشکور سالنگی

# نقش سیاست خارجی بی‌طرف و متوازن افغانستان در اتصال منطقه‌یی

## مقدمه

معمولاً کشورها برای تأمین اهداف، احراز نقش‌ها و استیفای منافع ملی خود به فراخور ظرفیت وضعیت و امکانات در دست داشته ابزارهای متعددی را مورد استفاده قرار می‌دهند. در میان همه ابزارها اولین و مهم‌ترین موردی که دولت‌های می‌باید مورد توجه قرار دهند، اتخاذ نوع خاصی از سیاست خارجی است. در واقع، سمت‌گیری یا سیاست خارجی که کشورها برمی‌گزینند نشان می‌دهد که چه نوع اهداف، نقش‌ها و منافع را از رهگذر سیاست خارجی خود دنبال می‌کنند. مثلاً اگر کشوری بخواهد از طریق ایفای نقش رهبری منطقه‌ای منافع ملی خود را دنبال کند باید مجموعه اقداماتی مثل افزایش توان نظامی، همسوساختن دولت‌هایی از طریق تطمع و تهدید و یا ایجاد ائتلاف با یک قدرت برتر جهانی را نجام دهد.

در خصوص افغانستان که از دیر باز یکی از اهداف ملی آن تبدیل شدن به مرکز اتصال منطقه‌یی است کدام نوع سیاست خارجی مناسب می‌باشد؟ در پاسخ می‌توان این فرضیه را مطرح کرد که افغانستان از طریق کاربست سیاست خارجی بی‌طرفانه و متوازن می‌تواند به مرکز اتصال منطقه‌یی تبدیل شود.

برای اثبات و درستی فرضیه مزبور در این جستار تلاش می‌شود تا ضمن ارائه تعریفی از سیاست خارجی بی‌طرفی و برشمردن مختصات آن، فاکتورهایی که از طریق سیاست خارجی بی‌طرفی زمینه را برای تبدیل شدن افغانستان به مرکز اتصال منطقه‌یی فراهم می‌کند، بررسی شوند. به عبارت دیگر هدف اصلی این جستار بررسی زمینه‌هایی می‌باشد که امکان تبدیل شدن افغانستان را به مرکز ثقل اتصال و ترانزیت منطقه‌یی مهیا می‌کنند.

## چیستی سیاست خارجی بی‌طرفی

از سیاست خارجی تعاریف بسیاری صورت گرفته اما کی جی هالستی ( K.G. Holsti) دانشمند روابط بین‌الملل تعریف تقریباً جامعی از سیاست خارجی ارائه کرده است. وی در کتاب «مبانی تحلیل سیاست بین‌الملل» سیاست خارجی را چنین تعریف می‌کند: سیاست خارجی پدیده‌هایی که فراتر از مرزهای یک دولت در قالب، سمت‌گیری (استراتژی)، نقش‌ها، اهداف و اعمال می‌رود.[1] مطابق به این تعریف سیاست خارجی از مجموعه تصمیمات و اقدامات متوالی ترکیب شده است که نشان‌دهنده ایستارها و تعهدات کلی یک دولت در برابر محیط خارجی و دولت‌های دیگر بنابه مقتضیات داخلی و خارجی* می‌باشد. دو عنصر اساسی تقریباً هم‌پوشان که این مجموعه اقدامات، ایستارها و تعهدات را هدایت می‌کند، هدف‌های ملی و منافع ملی است*

در اینکه یک دولت چه نوع سیاست خارجی را برای تأمین هدف‌ها و منافع ملی خود برمی‌گزینند بستگی به شرایط داخلی آن دولت و نوع نظام حاکم در محیط

*. معمولاً دو نوع عوامل بر سیاست خارجی دولت‌ها اثرگذار است: عوامل داخلی و عوامل خارجی. عوامل داخلی به دو دسته متغیر و ثابت تقسیم می‌شود که عوامل ثابت شامل متغیرهای فردی، نهادهای ذی‌ربط، ارزش‌ها،اعتقادات و افکار عامه، زمینه‌های تاریخی، قدرت اقتصادی و نظامی، جمعیت (به لحاظ کیفی و کمی)، ساختار و نوع حکومت و منابع طبیعی و معدنی بوده و عوامل ثابت را موقعیت جغرافیایی، اندازه و شکل سرزمین و توپوگرافی و اقلیم در برمی‌گیرد. عوامل خارجی مؤثر بر سیاست خارجی ساختار نظام بین‌الملل و ساختار نظام منطقه‌ای می‌باشد.

*. هدف‌های ملی عبارت است از خواست‌ها و نیازهای کشورها در سطوح امنیتی- نظامی، اقتصادی، سیاسی، فرهنگی که به صورت مستقل و وابسته، ظاهری و واقعی سازگار و ناسازگار، انفرادی و متحد، کوتاه مدت، میان‌مدت و بلندمدت تعقیب می‌شوند. در خصوص تعریف منافع ملی دیدگاه‌های زیادی وجود دارد اما در تعریفی عملیاتی و عینی می‌توان منافع را اینگونه تعریف کرد: منافع ملی عبارت از صیانت از استقلال و تمامیت ارضی، حفظ ارزش‌های اعتقادی و اجتماعی و تأمین رفاه و آسایش شهروندان می‌باشد. بااینکه به‌لحاظ نظری هدف‌های ملی و منافع ملی را دو عنصر متفاوت تعریف می‌کنند، اما در عمل این دو عنصر هم‌پوشان بوده و ماهیت یک‌سانی دارند. مثلاً اگر هدف ملی یک کشور را دستیابی به سلاح‌های هسته‌ای در نظر بگیریم، همین هدف خود به تحقق هدف دیگری یعنی ایجاد بازدارندگی می‌انجامد که منجر به تأمین منافع ملی می‌شود.

بین‌المللی دارد که یکی از انواع آن سیاست خارجی بی‌طرفی است.* سیاست خارجی بی‌طرف را نوعی از سیاست خارجی تعریف می‌کنند که براساس آن یک دولت توانایی‌های نظامی و گاه حمایت‌های دیپلوماتیک خود را برای مقاصد دولتی دیگر به‌کار نمی‌گیرد. سیاست خارجی بی‌طرفی معمولاً به دو شکل سیاست عدم تعهد (غیرمنسلک) و سیاست بی‌طرفی حقوقی خود را تبارز می‌دهد. مهم‌ترین تفاوتی که میان عدم تعهد و بی‌طرفی وجود دارد در این است که عدم تعهد معمولاً از سوی یک دولت [یا مجموعه از دولت‌ها مانند جنبش عدم انسلاک]* اتخاذ می‌شود اما هیچ‌گونه تضمینی وجود ندارد که دیگران به موضع‌گیریش احترام گذارند در حالیکه سیاست خارجی بی‌طرفی آن است که در اثر اعمال دیگران به‌وجود میاید به این معنا که بی‌طرفی توسط دیگران به عنوان یک وضعیت حقوقی برای دولت بی‌طرف به رسمیت شناخته می‌شود.[۲]

## مختصات سیاست خارجی بی‌طرفی

درکنار اینکه سیاست خارجی بی‌طرفی از دو وجه اساسی بی‌طرفی و عدم تعهد برخوردارد است که به نحوی چنین سمت‌گیری را دو پهلو و دارای ابهام می‌سازد، موارد دیگری نیز وجود دارد که سیاست خارجی بی‌طرفی را سرشکن کرده و مسئله‌دار می‌سازد. این موارد که در هنگام نظام دوقطبی خود را خیلی برجسته نشان داد به‌خصوص در وضعیت‌های خاصی که امریکا و شوروی برای خود تعریف

*. دو نوع دیگر سیاست خارجی یکی سیاست خارجی انزواگرایی که عبارت است از «سطح نازل درگیری در بیشتر زمینه‌های موضوعی مطرح در نظام، قلت مراودات دیپلماتیک یا تجاری با دیگر جوامع و واحدهای سیاسی و تلاش برای بستن دروازه‌های کشور بر روی شکل‌های گوناگون نفوذ خارجی.» و سیاست خارجی ائتلاف‌سازی دیپلوماتیک و اتحادگرایی نظامی که تعریف آن از این قرار است: «یک دولت تعهداتی از جمله نظامی را با دولت‌های دیگر برای تأمین مقاصد مشترک پذیرفته و در اتحاد نظامی یا ائتلاف سیاسی می‌پیوندد.

* . در تاریخ روابط بین‌الملل، تعداد کثیری از دولت‌ها در یک اقدام دسته جمعی در کنفرانسی در باندونگ در سال ۱۹۵۵م. موضع عدم تهعد/عدم انسلاک را در برابر دو قطب اتحادشوروی و متحدانش و ایالات متحده و متحدانش برگزیدند. این جنبش که اکنون نیز کماکان وجود دارد، به صورت عملی ناموفق بوده و نتوانست عملاً موضع خود را حفظ کند. افغانستان نیز یکی از اعضای جنبش عدم تعهد است اما این کشور نتوانست در طول جنگ سرد بی‌طرفی خود را از طریق پیوستن به غیر متعهدها تقویت کند.

کرده بودند،[۳] درحال حاضر نیز کماکان وجود دارند که اهم آنها از این قرار اند: نقض بی‌طرفی در هنگام بروز جنگ‌های بزرگ، عدم قطعیت در خصوص وفاداری قدرت‌های بزرگ نسبت به بی‌طرفی یک کشور بی‌طرف و به‌وجود آمدن وضعیت خاص در یک منطقه که کشور بی‌طرف در آن قرار دارد و امکان نقض وضعیت بی‌طرف آن از سوی دیگر کشورها متصور می‌باشد.

مع‌الوصف، این نوع سیاست خارجی را ویژگی‌های چندی است که در این جا به‌صورت مختصر بیان می‌شود. اولین ویژگی یک سیاست خارجی بی‌طرفی این است دولت بی‌طرف در زمان جنگ دارای حقوق و تعهداتی معینی است که به دولت‌های متحارب تعمیم نمی‌یابد. دیگر خصوصیت یک دولت بی‌طرف این است که نمی‌تواند اجازه دهد که سرزمینش به عنوان پایگاهی برای عملیات نظامی یکی از طرف‌های متحارب مورد استفاده قرار گیرد و همین‌طور نمی‌تواند کمک نظامی در اختیار طرف‌های متخاصم قرار دهد اما این دولت می‌تواند از آزادی عبور کالاهای غیر نظامی خود از آب‌های آزاد و حتی تحت برخی از شرایط از محدوده محاصره دریایی دولت‌های متحارب بهره‌منده شود. از خصوصیت دیگر یک دولت بی‌طرف این است که چنین دولتی در دوران صلح نیز باید از تشکیل اتحادهای نظامی با دیگر دولت‌ها اجتناب ورزد. با این وجود یک دولت بی‌طرف می‌تواند در موارد خاصی طرف اتحاد قرار گیرد مثلاً دولت بی‌طرف (الف) می‌تواند با دولت دیگری (ب) موافقت نماید که اگر مورد حمله دولت (پ) قرار گرفت به آن یاری دهد؛ اگر به جز دولت (پ) به دولت (ب) حمله نماید دولت بی‌طرف (الف) می‌تواند بی‌طرف باقی بماند. از خصوصیت دیگر یک دولت بی‌طرف این است که چنین دولتی می‌تواند وظایفی چون فراهم‌آوری زمینه تماس و مذاکره و قرار گرفتن به عنوان پل ارتباطی به دولت‌های متخاصم، قرار گرفتن به‌عنوان حافظ منافع یک دولت در دولت متخاصم آن، مراقبت از اسیران جنگی، فراهم‌آوری ترتیباتی چون انتقال کارکنان دیپلوماتیک گیرافتاده. آخرین خصوصیت یک دولت بی‌طرف که از اقتضاءات عصر امروزی است این می‌باشد که بی‌طرفی بیشتر به مسائل نظامی محدود می‌شود و در سایر مسائل دولت‌های بی‌طرف سطح قابل قبولی از مراودات

را در سایر عرصه‌ها با دولت‌های دیگر و سازمان‌های بین‌المللی برقرار می‌داشته باشند.* حتی یک دولت بی‌طرف می‌تواند در ائتلاف‌های موقتی دیپلوماتیک حضور داشته و به سازمان‌های اقتصادی و در موارد خاص به سازمان‌های سیاسی بپیوندند.[۴] شایان ذکر است که سیاست خارجی بی‌طرفی معمولاً خود را در انواعی نشان می‌دهد که به‌صورت فهرست‌وار در این جا مورد اشاره قرار می‌گیرند: بی‌طرفی حقوقی، بی‌طرفی سنتی، بی‌طرفی موقت، بی‌طرفی پایدار (دائمی)، بی‌طرفی مثبت و بی‌طرفی منفی.[5]

به این پرسش که آیا یک دولت بی‌طرف می‌تواند نیروی نظامی داشته باشد، می‌توان پاسخ مثبت داد. هیچ دولتی در دنیا وجود ندارد که بی‌نیاز از نیروی نظامی چه به منظور استفاده داخلی و چه مقاصد خارجی باشد. تمام دولت‌ها متناسب با تهدیداتی که متوجه امنیت ملی آن است، حق دارد میزان از توانایی نظامی را برای خود به‌وجود آورد. چنین جوازی را منشور ملل متحد که دفاع مشروع را حق‌ذاتی دولت‌ها می‌داند، صادر کرده است.[٦] نکته قابل توجه در این خصوص این است که هیچ دولتی حق ندارد نیروی نظامی را به مقاصد تهاجمی گسترش و توسعه دهد. البته که به صورت اعلانی هیچ دولت چنین چیزی را مطرح نمی‌کند اما از رفتار تعداد زیادی از دولت برمی‌آید که غرض آنها از انباشت قدرت نظامی تهاجم و تحصیل منافع از طریق استفاده از زور می‌باشد. بااین وجود یک دولت بی‌طرف میزان از نیرو و قدرت نظامی را برای خود به‌جود می‌آورد که بتواند در مقابل دیگران درحد بازدارنده عمل کند.

## همبستگی سیاست خارجی بی‌طرفی و سیاست خارجی متوازن

قبل از اینکه نسب سیاست خارجی بی‌طرفی و متوازن با اتصال منطقه‌یی بررسی شود، لازم است تا رابطه میان سیاست خارجی بی‌طرفی و سیاست خارجی متوازن روشن شود. اگر سیاست خارجی بی‌طرفی را «عدم به‌کارگیری توانایی‌های نظامی و گاه حمایت‌های دیپلوماتیک یک دولت برای مقاصد دولت یا دولت‌های

*. حتی کشور بی‌طرف مانند سویس در سال ۲۰۰۲ به عضویت سازمان ملل درآمد.

دیگر» بدانیم، رابطه آن با سیاست خارجی متوازن کاملاً همبسته و نزدیک است زیرا در تعریف توازن می‌خوانیم که عبارت است از «حفظ تعادل، برابری و باهم برابر شدن». به عبارت دیگر، از ملزومات اصلی یک سیاست خارجی بی‌طرفی، حفظ تعادل و برابری در رفتار با دیگر دولت‌ها است. در واقع می‌توان گفت که یک سیاست خارجی بی‌طرفی به عنوان یک پدیده اعلانی و انتزاعی زمانی به‌خود جنبه انضمامی و عینی می‌گیرد که دولت بی‌طرف در عمل رفتار متعادل و برابر را در مقابل دیگر دولت‌ها نشان دهد. به‌صورت عینی و عملی دولتی که سیاست خارجی خود را بر اصل بی‌طرفی استوار می‌کند، در اولین گام از نزدیک شدن با ائتلاف‌های نظامی اجتناب می‌ورزد. طبیعتاً چنین اصلی موجب می‌شود که دولت بی‌طرف اصل را بر توازن قرار داده و در رفتار خود با سای دولت‌ها میانه‌روی را پیشه کند. بازخورد چنین رفتاری پذیرفتن تعهدات حقوقی برای حفظ وضعیت بی‌طرفی دولت بی‌طرف توسط قدرت‌های بزرگ و سایر دولت‌ها می‌باشد. موضوع دوم که سیاست رابطه همسبته میان سیاست خارجی بی‌طرفی و ایجاد توازن در سیاست خارجی را نشان می‌دهد، تعامل برابر با سایر دولت‌های دیگر است. همیشه یک دولت بی‌طرف در سیاست‌های اعمالی و عملی خود تلاش می‌کند تا نوع و میزان تعاملش با دولت‌های دیگر کاملاً متعادل و برابر باشد. به عنوان نمونه سیاست خارجی افغانستان که در دوران سلطنت محمدظاهر شاه بی‌طرف بود، بااینکه در سطح منطقه‌یی و جهانی تخاصمات جدی وجود داشت اما افغانستان با رفتار یکسان در برابر دیگر دولت‌ها تعادل و توازن را در نزدیکی و دوری خود با آنها به‌وجود آورد.

## چیستی اتصال منطقه‌یی

به صورت کلی و خلاصه اتصال منطقه‌یی را «به‌هم وصل شدن یا به‌هم رسیدن چند کشور یا چند منطقه را به لحاظ جغرافیایی می‌توان تعریف کرد.» با توجه به این تعریف اتصال منطقه‌یی دو وجه دارد؛ در وجه اول کشورهای یک منطقه از طریق انواع وسایل ترانسپورتی (مثل شبکه‌های ریلی، جاده‌ای و کیبلی) با یکدیگر وصل می‌شوند و در وجه دوم دو یا چند منطقه از طریق یک منطقه یا کشوری با

استفاده از طرق مزبور با هم متصل می‌شوند. در وجه اول بهترین نمونه را می‌توان اروپا در نظر گرفت. تمام کشورهای این منطقه حتی کشورهای غیر قاره‌ای چون انگلستان از طریق انواع شبکه‌های ترانسپورتی با یکدیگر متصل بوده و رفت آمدن زمینی به راحتی میان آنها وجود دارد. هرچند که امروزه بخش اعظم خشکی‌های جهان از طریق شبکه‌های ریلی و جاده‌ای با یکدیگر متصل اند اما به صورت مشخص تنها بخشی از جهان که استعداد وصل بیشتر از دو منطقه را با پیمودن کمترین فاصله جغرافیایی می‌تواند وصل کند، افغانستان است. اگر به نقشه جغرافیایی دیده شود، افغانستان کشوری است که چهار منطقه آسیای جنوبی، آسیای مرکزی، آسیای غربی و آسیای شرقی را از یکدیگر جدا کرده است. این موقعیت بی‌نظیر را نمی‌توان در هیچ جایی از جهان پیدا کرد. البته که افغانستان اگر این مناطق را از یکدیگر منفصل کرده زمینه متصل کردن آنها را نیز فراهم می‌تواند.

## نسبت سیاست خارجی بی‌طرفی و متوازن با اتصال منطقه‌ای

سیاست خارجی بی‌طرفی دو کارکرد مهم مثبت برای دولت‌ها دارد، کارکرد مثبت اول چنین سیاست خارجی که عطف به داخل دارد، باعث می‌شود که دولت‌های بی‌طرف به‌دور از دغدغه تهدیدات خارجی به استحکام ثبات داخلی خود پرداخته با خیال راحت منابع را به‌جای اختصاص بر بودجه‌های سنگین و کمرشکن نظامی در سایر بخش‌ها به‌خصوص زیربنایی و اقتصادی به مصرف رسانده و از این رهگذر توسعه و انکشاف را در کشور رقم بزند. فی‌الواقع سیاست خارجی بی‌طرفی برای یک دولت کمک می‌کند که به‌جای دنبال کردن ماجراجویی در خارج و خلق معمای امنیتی میان خود و دیگران که در نتیجه آن مجبور شود تا بخش عمده منابع را در افزایش و انباشت قدرت نظامی خود به خرج دهد، بالای استحکام ثبات از طریق توسعه زیرساخت‌های اقتصادی متمرکز می‌کند.* کارکرد

*. افغانستان تجارب تاریخی نسبتاً موفقی از سیاست خارجی بی‌طرف و متوازن در کارنامه خود دارد. بااینکه بحث سیاست خارجی بی‌طرفی افغانستان و تأثیر آن بر ثبات و توسعه داخلی در کشور، مجال و مقال

مثبت دیگری که اتخاذ یک سیاست خارجی بی‌طرف به‌بار می‌آرد، ضمن کمک به توسعه و بسط روابط اقتصادی با کشورهای دیگر به شدت زمینه را برای «اتصال منطقه‌یی» فراهم می‌کند.

حال به این موضوع پرداخته می‌شود که افغانستان چگونه می‌تواند زمینه اتصال منطقه‌یی را در دو مقیاس اولاً اتصال میان خود و دیگران و سپس از طریق خود اتصال دیگران یعنی مناطق پیرامونی خود را از طریق خود فراهم کند. چنانچه در مباحث قبلی توضیح شد، بهترین ابزاری که می‌تواند به اتصال منطقه‌یی کمک کند، اتخاذ سیاست خارجی بی‌طرفی و متوازن است. قابل ذکر است که منظور این بحث از اتصال منطقه‌یی همگرایی منطقه‌یی و یا منطقه‌گرایی نیست زیرا همگرایی منطقه‌یی و منطقه‌گرایی به نحوی می‌توانند به ائتلاف‌سازی تعبیر شوند درحالیکه فرض کلی بحث ما این است که افغانستان بیشتر از هرچیز دیگر از طریق اتخاذ سیاست خارجی بی‌طرفی که در آن منطقه‌گرایی و یا همگرایی منطقه‌یی مدنظر نیست می‌تواند به اتصال منطقه‌یی برسد. در ادامه این بحث، به مهم‌ترین عواملی پرداخته خواهد شد که یک سیاست خارجی بی‌طرف و متوازن می‌تواند به‌وجود بیاورد و در نتیجه با محقق شدن آنها اتصال منطقه‌یی فراهم شود.

## غیر امنیتی کردن فضای روابط

در منطق علم مطالعات منطقه‌یی، مفهوم امنیت و امنیتی کردن بار معنایی و مفهومی خاص خود را دارد. مطابق به نظریه مجموعه امنیتی منطقه‌یی به عنوان غالب‌ترین نظریه در مطالعات منطقه‌یی، «زمانی یک امر به موضوع امنیتی مبدل

بزرگ‌تری می‌طلبد اما به گونه خلاصه می‌توان گفت که افغانستان در دو دوره از ۱۸۸۰-۱۹۱۹ و از تاریخ ۱۹۲۹-۱۹۷۳م. در تاریخ روابط خارجی خود دوره‌های باثبات را سپری کرده است. در واقع در هر دو دوره مزبور، عامل اصلی که ثبات را در افغانستان به ارمغان آورد، اتخاذ سیاست خارجی بی‌طرفی از جانب دولت افغانستان در مقابل دیگر کشورها بود. البته اینکه ثبات به‌میان آمده در آن دو دوره منجر به توسعه شد یا نه بحث مفصل‌تر دیگری می‌خواهد اما خلاصتاً می‌توان مدعی شد که به فراخور امکانات، ظرفیت‌ها، توانایی‌ها و طول مدت دوره‌ها، گام‌های لازم در راستای توسعه به‌خصوص در حوزه اقتصادی برداشته شد. البته در حوزه سیاسی نیز تحرکات خوبی در راستای توسعه سیاسی در اواخر دوره دوم انجام یافت.

می‌شود که همچون تهدیدی اساسی برای یک دولت جلوه کند»[7] برهمین اساس امنیتی کردن به وضعیتی گفته می‌شود که در آن موضوعات از حالت عادی خارج شده و به صورت تهدیدی برجسته جلوه کند.[8] زمانی که یک موضوع میان دو کشور امنیتی شود[1] فضای روابط میان دو کشور به حالتی گراییده که حل و فصل مسائل فی‌مابین دو کشور را با استفاده از ابزارهای سیاسی (مانند مذاکره، اقناع و تفاهم) تقریباً ناممکن ساخته و آنها را به طرف استفاده از ابزارهای نامتعارفی چون زور سوق دهد. در چنین حالتی دولت‌های واقع شده در یک منطقه تلاش می‌کنند تا با افزایش قدرت نظامی و درگیر شدن در رقابت تسلیحاتی و حتی یارگیری از بیرون منطقه، امتیازات طرف مقابل را کاهش دهند.

به‌لحاظ موقعیت افغانستان در میان چهار منطقه امنیتی قرار دارد. وضعیت این مناطق که در هر کدام طیف وسیعی از الگوهای دوستی و دشمنی قرار دارد، کاملاً امنیتی یا به تعبیر الکساندر ونت (Alexander Wendt) هابزی[9] می‌باشد. مثلاً در منطقه جنوب آسیا روابط میان دو کشور قدرتمند هند و پاکستان به شدت امنیتی است. هکذا در منطقه خاورمیانه میان کشورهای زیادی روابط و تعامل امنیتی شده است. به عنوان نمونه میان ایران و عربستان، ایران و امارات و... در منطقه آسیای مرکزی نیز بااینکه آن منطقه تحت مدیریت تقریباً هژمونیک یک قدرت بزرگ (روسیه) قرار دارد، اما تعامل کشورهای این منطقه از بدو استقلال آنها امنیتی بوده است. تنها کشوری که در منطقه آسیای مرکزی تلاش کرده است تا از فضای امنیتی منطقه خود را به دور نگهدارد، ترکمنستان از طریق اتخاذ سیاست خارجی بی‌طرفی است.

برای افغانستان که در میان سه منطقه امنیتی قرار دارد، لازم است تا سیاستی را پیشه کند که اولاً با کشورهای این مناطق که با پنج تا از آنها مرز مشترک دارد، فضای روابطش امنیتی نشود و در ثانی با نزدیک شدن با یکی یا چند

[1]. مثال‌های زیادی وجود دارد که موضوعات میان کشورها امنیتی شده است مانند امنیتی شدن مذهب میان ایران و عربستان و یا امنیتی شدن قضیه کشمیر میان هند و پاکستان و تبدیل شدن آب به موضوعی امنیتی میان تاجکستان و ازبکستان.

تا از آنها خود را در رقابت‌های منطقه‌یی درگیر نکرده و فضای روابط خود را امنیتی نسازد که نتیجه آن از میان رفتن زمینه‌های اتصال منطقه‌یی باشد. آنچه می‌توان افغانستان را در نیل به چنین هدفی موفق داشته باشد، اتخاذ سیاست خارجی بی‌طرفی است. افغانستان با پیشه کردن سیاست خارجی بی‌طرفی و متوازن از امنیتی شدن موضوعات اجتناب کرده و اجازه نخواهد داد که روابطش با کشورهای مناطق پیرامونی امنیتی شود. اتخاذ چنین سیاستی می‌تواند علاوه بر جلوگیری از درگیر شدن در مسایل امنیتی منطقه‌ای موجود در مناطق پیرامون، دیگران را تشویق می‌کند که با این کشور از در همکاری وارد شوند تا رقابت. به عنوان نمونه افغانستان در دوره جمهوریت با پیشه کردن سیاست نزدیکی با هند و دوری از پاکستان، فضای روابط خود با منطقه جنوب آسیا را امنیتی کرده بود و از این رهگذر امکان تبدیل شدن به مسیر ترازیت جنوب – شمال را از میان برداشته بود. همچنین در دوره مزبور به علت اشغال افغانستان توسط ایالات متحده، روابط افغانستان با کشورهای آسیای مرکزی و ایران، تقریباً از حالت عادی خارج شده بود، زیرا حضور اشغال‌مندانه امریکا در این کشور اجازه اتخاذ سیاست خارجی بی‌طرفی را از افغانستان سلب کرده و کشورهای پیرامونی را در قبال حساس کرده بود. چنین فضای قطعاً ضمن تأثیرات مخرب زیادی که بر افغانسان گذاشته بود، امکان تبدیل شدن افغانستان به نقطه اتصال منطقه‌یی را نیز زدوده بود.

## ماهیت اقتصادمحوری سیاست خارجی بی‌طرفی (مبادله‌گرایی)

چنانچه قبلاً اشاره‌ای صورت گرفت عطف توجه سیاست خارجی بی‌طرفی و متوازن، بیشتر از هرچیز دیگری اقتصاد است. ماهیتاً نیز سیاست خارجی بی‌طرفی از طرف کشورهای اتخاذ می‌شود که اولویت را به اقتصاد داده اند. مطابق به نظریه مبادله نیز کشورهایی که اولویت را به تعاملات اقتصادی می‌دهد، به هر میزان و اندازه‌ای که حجم مبادلات اقتصادی افزایش یابد، به همان میزان به درجه همگرایی افزوده می‌شود. بااین وجود تجربه‌های تاریخی نشان داده است که گسترش مبادلات میان دولت‌ها الزاماً به همگرایی نمی‌انجامد[۱۰] چنانچه قبلاً توضیح داده شد، موقعیت افغانستان اگر به همگرایی منطقه‌یی کمک نکند، قطعاً می‌تواند به اتصال منطقه‌یی کمک کند. از چه راهی چنین امری تحقق می‌یابد؟ پاسخ در پیروی از نظریه مبادله است.

برای افغانستان نظریه مبادله می‌تواند الگوی خوبی باشد. افغانستان با اولویت قرار دادن اقتصاد مطابق به نظریه مبادله می‌تواند میان خود و کشورهای مناطق پیرامونی‌اش، سطح مبادلات اقتصادی افزایش داده و حتی خود را به مرکز مبادلات تجاری منطقه‌یی تبدیل کند. فاکتور مؤثری که در این زمینه به افغانستان خیلی زیاد کمک می‌کند، وضعیت مناطق پیرامونی‌اش به‌خصوص دو منطقه واقع شده در شمال و جنوب این کشور است. منطقه آسیای مرکزی که سرشار از منابع طبیعی است در شمال افغانستان قرار دارد و منطقه جنوب آسیا که در جنوب افغانستان موقعیت دارد، شدیداً نیازمند مواد خام و منابع طبیعی است. برای افغانستان فرصتی که وجود دارد، پیوند دادن این دو منطقه از طریق خودش می‌باشد. در اینکه چه چیزی چنین این فرصت را به طرف عملی شدن جهت می‌دهد، به یقین که اتخاذ یک سیاست خارجی بی‌طرفانه و متوازن است. در پرتو چنین سیاستی خواهد بود که کشورهای پیرامونی افغانستان تشویق می‌شوند که این کشور را معبر اصلی اتصال و مبادلات خود قرار داده و هر کدام به مقاصد اقتصادی خود دست یابند.

## تعقیب منافع مشترک و چندجانبه

مورد مهم دیگری که می‌تواند از طریق اتخاذ سیاست خارجی بی‌طرفی بدست آمده و اتصال منطقه‌یی را رقم بزند، تعقیب منافع مشترک و چندجانبه است. امروزه به سختی می‌توان کشوری را سراغ گرفت که با تعقیب منافع فردی بتواند به شگوفایی ملی دست یابد. در دنیای امروزی نیازمندی‌های دولت‌ها به حدی گسترده و چند وجهی شده که امکان ندارد به تنهایی دولتی از عهده آن موفق به‌در آید. چنانچه در سطح جهانی دیده می‌شود دولت‌ها ضمن تقویت روابط دوستانه خود را با دیگر کشورها، برای تحصیل هرچه بهتر منافع خود اقدام به تشریک مساعی در قالب ایجاد سازمان‌های بین‌المللی می‌کنند. البته عضویت در سازمان‌های منطقه‌یی و جهانی کشور را از تعقیب سیاست خارجی بی‌طرفی باز می‌دارد و احتمالاً برخی از کشورها در چنین وضعیتی نتوانند به تحصیل بهتر منافع ملی خود نایل آیند. در این میان آنچه

تقیب منافع مشترک و چند جانبه را بیشتر از هر رویکردی دیگری سهل الوصول می‌سازد، پیشه کردن سیاست خارجی بی‌طرفانه است.

برای افغانستان اتخاذ سیاست خارجی بی‌طرفانه می‌تواند از هر رویکرد دیگری مؤثر و مناسب باشد، تجربه تاریخی افغانستان هم در این زمینه مؤید این مدعا است. افغانستان از طریق سیاست خارجی بی‌طرف و متوازن بدون نزدیک شدن با طرف یا جهتی، توانایی این را پیدا می‌کند که به نقطه تمرکز منافع مشترک همه تبدیل شود. شاید تصور شود که کشورها در افغانستان بیشتر به‌دنبال تعقیب منافع متضاد هستند تا مشترک اما این تصور زمانی جنبه عملی به خود گرفته که افغانستان فرصت و زمینه لازم برای دیگران فراهم کرده است. مثلاً چنانچه پیشتر هم توضیح داده شد که افغانستان با نزدیک شدن با یک کشور حساسیت کشور دیگری را به‌وجود آورده بود. ملاحظه می‌شود که بیشتر کنش افغانستان باعث به‌وجود آمدن منافع متضاد کشورها شده است زیرا افغانستان به‌جای تعقیب سیاست خارجی بی‌طرفی در عمل بیشتر به عنوان یک مؤتلف و یا متحد عمل کرده. در صورت اتخاذ سیاست خارجی کاملاً بی‌طرفانه قطعاً افغانستان می‌تواند زمینه هر نوع مداخله و جنگ نیابتی یک کشور علیه کشور دیگر را در قلمرو خود از میان برداشته و همه را تشویق کند که هر کدام به فراخور منافع مشروع خود با افغانستان وارد همکاری شوند و از آنجاییکه افغانستان دارای مزیت جغرافیایی تبدیل شدن به نقطه اتصال را دارد، بیشتر از هر چیز دیگر در این زمینه همه سود خواهند برد. تصور کنیم که اگر شمال افغانستان با جنوب و غرب با شرق از طریق افغانستان باهم وصل شوند بیشتر از خود افغانستان منافع مناطق مزبور تأمین خواهد شد.

## ایجابات جغرافیایی

در کنار موضوعات بالا به حکم جغرافیا نیز باید افغانستان سیاست خارجی بی‌طرفانه و متوازن داشته باشد. شاید این حکم اندکی جبرگرایانه به‌نظر برسد ولی اگر با دقت مورد ملاحظه قرار بگیرد، می‌تواند به‌عنوان کلید راه حل مشکلات افغانستان باشد که در چند دهه دامنگیر این کشور بوده. چنانچه در مباحث بالا اشاراتی شد، افغانستان به لحاظ جغرافیایی ضمن قرار گرفتن میان چند منطقه مجزا در مجاروت دو قدرت بزرگ جهانی (روسیه و چین) و تعدادی از قدرت‌های منطقه‌یی قرار دارد. قرار گرفتن در چنین موقعیتی ظرافت بسیار بالایی می‌طلبد که این کشور بتواند خود را برکنار از رقابت‌ها و رفاقت‌های زیان‌آور داشته باشد. در چهار دهه گذشته به دلیل عدم درک چنین حساسیتی، افغانستان تا گلو غرق در بحران‌ها شد. چنانچه تاریخ گواه است زمانی که افغانستان سیاست خارجی بی‌طرفی خود را که در دوران محمدظاهر شاه پروریده شده و درحال تبدیل شدن به یک وضعیت دائمی برای کشور بود، کنار گذاشت جعبه پاندورای بحران‌ها را فراروی خود باز کرد. از آن زمان به بعد حکومت‌های افغانستان با جانب‌داری از یکی از قدرت‌های جهانی یا منطقه‌یی نه‌تنها ثبات داخلی خود را کاملاً از دست داد بلکه در انزوای منطقه‌یی به لحاظ ترانزیت و ترانسپورت نیز قرار گرفت. با توجه به این توضیح می‌توان گفت که افغانستان در صورت اتخاذ یک سیاست خارجی بی‌طرفانه و متوازن، از نزدیک شدن به رقابت‌ها و تخصمات منطقه‌یی و جهانی خود را دور نگهداشته ضمن جلوگیری از درگیر شدن کشورهای دیگر در خود، می‌تواند مهم‌ترین ویژگی خود را که تبدیل شدن به نقطه اتصال منطقه‌یی است بپرورد.

## نتیجه گیری

به خلاصه می توان از مجموع مباحث ارائه شده در این مقاله چنین نتیجه گرفت که کشوری که سیاست خارجی بی‌طرفی اتخاذ می کند می‌تواند خود از درگیر شدن در رقابت‌ها و مخاصمات جهانی و منطقه‌یی دور نگهداشته تمام منابع و امکانات خود را صرف توسعه و انکشاف ملی نماید. پهلوی دیگر چنین سیاستی این است که امکان هر نوع مداخله بیرونی را در کشور بی‌طرف ضعیف می‌سازد. جنبه دیگر و مثبت سیاست خارجی بی‌طرفی، حفظ توازن در تعامل با دیگر کشورها است. این مزیت نیز موجب می‌شود که هیچ کشوری تلاش نکند تا برای کاستن امتیازات رقیب خود تحرکات خصمانه در کشور بی‌طرف داشته باشد.

برای افغانستان سیاست خارجی بی‌طرف و متوازن می‌تواند ضمن تأمین مفاد مزبور، زمینه اتصال منطقه‌یی را نیز فراهم کند. افغانستان به دلیل قرار گرفتن در موقعیت خاص جغرافیایی که عبارت است از احراز موقعیت در میان چهار منطقه مجزا، می‌تواند از طریق اتخاذ سیاست خارجی بی‌طرفی به نقطه وصل تبدیل شود. زیرا چنانچه در مباحث این جستار استدلال شد، رابطه همسبته‌ای میان بی‌طرفی و توازن در سیاست خارجی و اتصال منطقه‌یی برای افغانستان وجود دارد. افغانستان می‌توان در صورت اتخاذ سیاست خارجی بی‌طرف و متوازن، کشورهای پیرامونی خود را تشویق کند که از طریق افغانستان بایکدیگر وصل شوند زیرا چنین هدفی را نیازمندی کشورهای پیرامونی افغانستان به صورت غیر قابل انکاری نشان می‌دهد.

## پیشنهادات

باتوجه به یافته‌های مستدل این جستار پیشنهادات ذیل ارائه می‌شود:

۱- حکومت افغانستان باید سیاست خارجی بی‌طرفی خود را طرح، تدوین و مورد تأیید مراجع علیای کشور برساند؛

۲- افغانستان پس از توشیح سیاست خارجی بی‌طرفی خود، اقدام به تأیید آن در مراجع بین‌المللی به‌خصوص سازمان ملل نماید؛

۳- افغانستان باید تضمینات لازم حقوقی را از قدرت‌های جهانی و منطقه‌ای برای وضعیت بی‌طرفی خود بگیرد؛

۴- در کنار عملی شدن سه پیشنهاد مزبور، افغانستان برای نشان دادن آمادگی خود به منظور تبدیل شدن به نقطه وصل منطقه‌یی، اقدامات عملی از جمله انکشاف مسیرهای جاده‌ای استاندارد را روی دست گرفته و سرمایه‌گذاری‌های لازم را در جهت تمدید خطوط ریلی انجام دهد؛

۵- افغانستان برای تأمین خاطر کشورهای پیرامونی خود، ضمن اصلاحات قوانین ترانزیتی و ترانسپورتی، موافقت‌نامه‌هایی را با آنها به امضاء برساند.

## مآخذ


۱- کی.جی‌هالستی. مبانی تحلیل سیاست بین‌الملل، ترجمه بهرام مسقتیمی و مسعود طارم سری، چاپ پنجم، مرکز چاپ و انتشارات وزارت امور خارجه: تهران، ۱۳۸۵، صص ۱۶۳-۱۶۴,

۲- همان. ص ۱۷۲,

۳- سید عبدالعلی قوام. اصول سیاست خارجی و سیاست بین‌الملل، چاپ پانزدهم، سمت: تهران، ۱۳۸۸، صص ۱۴۹-۱۵۸.

۴- هالستی. پیشین، ص ۱۷۲-۱۷۴.

۵- قوام. پیشین، صص۱۵۸-۱۶۰,

6-United Nation. "Chapter VII: Action with Respect to Threats to the Peace, Breaches of the Peace, and Acts of Aggression

(Articles 39-51)".Available at:https://www.un.org/en/about-us/un-charter/chapter-7

۷- باری بوزان. الی ویور و پاپ دو ویلد، چارچوبی تازه برای تحلیل امنیت، ترجمه غلیرضا طیب، چاپ اول، انتشارات پژوهشکده مطالعات راهبردی: تهران، ۱۳۸٦، ص ۴٦.

۸- همان، ص ۵۰.

۹- الکساندر ونت. نظریه اجتماعی سیاست بین‌الملل، ترجمه حمیرا مشیرزاده، چاپ دوم، مرکز چاپ و انتشارات وزارت امور خارجه: تهران، ۱۳۸٦، صص ۳۷۸-۳۸۴.

۱۰- قوام. پیشین، ص ۲۵۳.

څېړندوی احسان الله احسان

## په سیمه ییز اتصال کې د افغانستان ځای او رول

### لنډیز

افغانستان د جیوپولیټیکي او جیو اکونومیکي مطالعاتو له نظره د درېوو سیمو (مرکزي آسیا، سوېلي آسیا او منځني ختیځ) په منځ کې پروت دی او د دغو سیمو د اتصال مرکز ګڼل کېږي. په سیمه کې د افغانستان د ځای په هکله بېلابېل نظرونه موجود دي او نشو کولای چې دغه هېواد یوې ځانګړې سیمې پورې وتړو، بلکې درې واړو سیمو سره نږدې تړاو لري او د دې سیمو په منځ کې ځای لري. د تاریخ په اوږدو کې افغانستان له ختیځ څخه لوېدیځ ته د سوداګریزو توکو د لېږد رالېږد لپاره یوه مهمه لار ګڼل کېده، خو اوس دغه هېواد د سیمې د سوداګرۍ او ټرانزیټ پر څلور لارې بدل شوی دی، چې د ټاپي، ټاپ او کاسا زر پروژو، د لاجوردو لار، له افغانستان څخه تېرېدونکې د اوسپنې پټلۍ او نورې مهمې پروژې د دې ادعا د اثبات ښې بېلګې دي چې له لارې یې بېلابېلې سیمې له یو بل سره نښلي.

### سریزه

افغانستان د جغرافیایي موقعیت له پلوه په وچه کې ایسار، خو له یوه ځانګړي جیو پولیټیکي او جیو اکونومیکي موقعیت څخه برخمن دی، یعنې افغانستان په آسیا کې د درېوو سیمو په منځ کې چې ختیځ او سوېل لوري ته یې سوېلي آسیا، شمال ته یې مرکزي آسیا او لوېدیځ ته یې منځنی ختیځ دی، پروت دی. افغانستان ته د سیمې او نړۍ د هېوادونو د ځانګړې لېوالتیا یو لامل د افغانستان جغرافیایي موقعیت دی چې تل یې افغان دولت ته په سیاسي، اقتصادي او سوداګرۍ برخو کې لازم امکانات په لاس ورکړي دي.

د افغانستان جیوپولیټیکي او جیو اکونومیکي موقعیت ته په کتو سره په سیمه کې سوداګریز او ټرانزیټي اړخ کولای شي چې افغانستان د آسیا پر څلور لارې بدل کړي او له اروپا سره د آسیا په نښلولو کې ځانګړی رول ولوبوي. له ډېر وخت راهیسې افغانستان د بېلابېلو هېوادونو د ګټو د تقابل د مرکز په توګه پاتې شوی او دې چارې پر افغانستان ډېرې منفي اغېزې کړې دي. په سیمه کې اوږدو شخړو او دښمنیو بالاخره د سیمې هېوادونو سیاسیونو ته ثابته کړه چې د دې سیمې د هېوادونو برخلیک له یو بل سره تړلی دی او د یوه هېواد ستونزې او ننګونې د سیمې پر نورو هېوادونو باندې هم منفي اغېزې کوي او افغانستان بیا د سیمې د څلور لارې په توګه که نا امن شي، نو له شک پرته پر سیمه ییز اتصال به مستقیم اغېز ولري.

افغانستان په تېرو دوو لسیزو کې هڅه کړې چې له یوې خوا د افغانستان جیو پولیټیکي او جیو اکونومیکي موقعیت ته په کتو سره د سیمې هېوادونو ته دا قناعت ورکړي چې د سیمې د هېوادونو برخلیک یو په بل پورې تړلی دی او له بلې خوا یې افغانستان د آسیا په څلور لارې بدلولو لاره کې عملي ګامونه اخیستي دي. د همدغه سیاست په پایله کې افغانستان تر یوې کچې پورې توانېدلی چې له بین المللي انزوا او د امکاناتو له فقر څخه ځان وباسي او په سیمه ییز اتصال او همکارۍ کې مهم رول ولوبوي. د تاپي، کاسا ۵۰۰، کاسا زر پروژې، د چابهاربندر له لارې آزاد بحر ته د افغان سوداګرو لاس رسی، د لاجوردو لاره او د سیمې رېل پټلیو سره د افغانستان نښلون د دغه سیمه ییز سیاست لاسته راوړنې دي.

دا چې افغانستان په سیمه ییز اتصال کې کوم ځای او څه ډول رول لري؟ د دې څېړنې اصلي پوښتنه جوړوي. د دې څېړنې فرضیه دا ده، چې افغانستان په سیمه ییز اتصال کې ځانګړی ځای او مهم رول لري.

## څېړنې اهمیت

دا چې افغانستان له ډېرې مودې راهیسې هڅه کوي، تر څو د سیمې په اتصال کې د آسیا په څلور لارې بدل شي او په دې برخه کې مثبت رول ولوبوي، نو په سیمه ییز اتصال کې د افغانستان ځای او رول روښانه کولو ته اړتیا لیدل کېږي او په دې اړه څېړنه له شک پرته ځانګړی اهمیت لري.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه په سیمه ییز اتصال کې د افغانستان ځای او رول روښانه کول دي.

## د څېړنې مېتود او ډول

د دې علمي څېړنې په لیکلو کې د څېړنې له تشریحي- تحلیلي مېتود او د څېړنې له کتابتوني ډول څخه کار اخېستل شوی دی.

د دې له پاره چې په سیمه ییز اتصال کې د افغانستان ځای او رول ښه څېړل شوی وي او پورتنیو پوښتنو ته ځوابونه موندل شوي وي، نو دا څېړنه په دوو برخو وېشل شوې ده: په لومړۍ برخه کې په سیمه ییز اتصال کې د افغانستان ځای او په دویمه برخه کې په سیمه ییز اتصال کې د افغانستان رول څېړل شوی دی.

## لومړی - په سیمه ییز اتصال کې د افغانستان ځای

افغانستان د جغرافیایي موقعیت له پلوه په وچه کې ایسار، خو له یوه ځانګړي او حساس موقعیت څخه برخمن هېواد دی، یعنې افغانستان له ستراتېژیکي پلوه د سوېلي آسیا، منځنۍ آسیا او مرکزي آسیا سیمو په منځ کې پروت دی. افغانستان له ډېرې مودې راهیسې له ختیځ څخه لوېدیځ ته یعنې له هند څخه مرکزي آسیا او منځني ختیځ ته د سوداګرو د مالونو د لېږد را لېږد یوه مهمه لار ګڼل کېده، خو اوس مهال د سوداګریزو مالونو لپاره د لویو لارو د اتصال په مرکز بدلېدونکی دی. د

افغانستان شمال ته د مرکزي آسیا هېوادونه چې د ګاز، برېښنا او خامو موادو څخه غني هېوادونه ګڼل کیږي،[1] او په سوېل کې یې هند او پاکستان د سوېلي آسیا دوه لوی نفوس لرونکي هېوادونه چې ګاز ، برېښنا او خامو موادو ته ډېره اړتیا لري پراته دي. د افغانستان جغرافیایي موقعیت دغه هېواد ته له یوې خوا د سوېلي آسیا او مرکزي آسیا ترمنځ او له بلې خوا د لېرې ختیځ او منځني ختیځ ترمنځ د ارتباطي او ټرانزیټي پل په توګه حیثیت ورکړی دی.

دا چې افغانستان له ډېرې مودې راهیسې هڅه کوي چې خپل اقتصاد له جغرافیایي محاصرې څخه وباسي او د نړۍ له هېوادونو سره اقتصادي او سوداګریزې اړیکې ټینګې کړي، نو دا ډېر ښه فرصت دی ترڅو افغانستان له خپل جغرافیایي موقعیت څخه سمه ګټه واخلي او په دې برخه کې د سیمې هېوادونو په قانع کولو سره د سیمه ییزې همکارۍ او اتصال سرلاری شي. دې موخې ته د رسېدو لپاره اوسمهال ځینې مناسب فرصتونه هم رامنځته شوي دي چې له هغې ډلې د وربښمو نوې لارې په وسیله د لېرې ختیځ او منځني ختیځ هېوادونو اتصال، له مرکزي آسیا څخه سوېلي آسیا ته د ګاز او برېښنا لېږدول، له سوېلي آسیا څخه مرکزي آسیا ته د انټرنیټي لیکو د اتصال کانال، له تاجیکستان او قرغیزستان څخه پاکستان ته د برېښنا لېږد، د لاجوردو لار او چابهار بندر له لارې آزادو اوبو ته د افغانستان د سوداګرو لاسرسی یادولای شو.

سوېلي آسیا چې هند، پاکستان، افغانستان، بنګله دېش، سریلانکا، نیپال، بوتان او مالدیپ هېوادونه په کې شامل دي، د مخ پر ودې سیمې په توګه د خپلې اقتصادي ودې او کورنیو اړتیاوو پوره کولو لپاره انرژۍ ته اړتیا لري او د یادې سیمې هېوادونو د انرژۍ کورنی تولید یې اړتیاوې نشي پوره کولای. له همدې امله اړ دي تر څو د نړۍ د انرژۍ تولیدوونکو هېوادونو سره د تړونونو په لاسلیکولو سره د خپلې اړتیا وړ انرژي ترلاسه کړي، تر څو د اقتصادي ودې څرخ یې له لا ډېرو ستونزو سره

مخامخ نشي. افغانستان د هند لپاره منځني ختیځ او مرکزي آسیا ته د تګ دروازه بلل کېږي. هند هڅه کوي چې په مرکزي آسیا کې خپل ستراتېژیک عمق ته پراختیا ورکړي او د مرکزي آسیا هېوادونو بازارونو ته د لاسرسي په پیدا کولو سره د چین او پاکستان له سیمه ییزې محاصرې څخه هم ځان وساتي. هند د وچې له لارې یوازې د افغانستان له لارې په آسانۍ سره کولای شي چې مرکزي آسیا ته لاسرسی پیدا کړي او له همدې امله دی چې افغانستان د هند په بهرني سیاست کې ځانګړی ځای لري. په سوېلي آسیا کې هند او پاکستان د مرکزي آسیا هېوادونو په ځانګړي ډول د ترکمنستان انرژۍ ته ډېره اړتیا لري. دواړه هېوادونه هڅه کوي چې له ترکمنستان څخه د افغانستان له لارې خپله انرژۍ تأمین کړي. د سیمې په دې لویه اقتصادي معامله کې دواړه لوري افغانستان ته د سوېلي آسیا او مرکزي آسیا د وصل د مرکز په سترګه ګوري.

مرکزي آسیا چې د تاجیکستان، ازبیکستان، ترکمنستان، قزاقستان او قرغیزستان جمهوریتونه په کې راځي، د انرژۍ د تولیدوونکو له لویو سیمو څخه ګڼل کیږي. له دې ډلې ترکمنستان د ګازو د تولید په برخه کې د نړۍ د لسو لویو ګاز تولیدوونکو هېوادونو په منځ کې څلورم هېواد دی چې د طبیعي ګازو سترې زېرمې لري.[۲] په ټوله کې مرکزي آسیا د انرژۍ د تولید په برخه کې کافي بالقوه ظرفیت لري چې له هغې ډلې نفت، ګاز او برېښنا یادولای شو. له همدې امله دی چې د نړۍ نورو هېوادونو ته په ځانګړي ډول لویو ځواکونو ته په بین المللي معادلو کې د یادې سیمې ارزښت ورځ تر بلې لوړېږي. په دې برخه کې د لویو ځواکونو یعنې د روسیې او امریکا متحده ایالاتو سیالي د دې لامل شوې چې دغه سیمه د خپلې انرژۍ د تولید لپاره باثبات بازار و نه مومي. امریکا متحده ایالات هڅه کوي چې په دې سیمه کې د روسیې انحصار مات کړي او روسیه بیا په دې سیمه کې د انرژۍ په تولید د خپل انحصار دوام غواړي.

مرکزي آسیا د طبیعي سرچینو(سره زر، یورانیم، ډبرو سکاره، نفت او ګاز)، نساجي محصولاتو او صنعتي تولیداتو په قوي ظرفیت لرلو سره وچه کې ایساره سیمه ده او بین المللي اوبو ته لاسرسی نه لري. سوېلي آسیا بیا د مرکزي آسیا برعکس بین المللي اوبو ته لاسرسی لري، خو د انرژۍ له کمښت سره مخامخ ده او د انرژۍ د اړتیا پر پوره کولو سربېره غواړي چې د مرکزي آسیا بازار ته لاسرسی پیدا کړي. له بلې خوا نړۍ په راتلونکو دریو لسیزو کې آسیا ته د ځواک د لېږد په لاره کې ده او د ځواک دا لېږد به اقتصادي موضوعات جوړوي، چې د افغانستان پر محوریت د سوېلي آسیا او مرکزي آسیا سیمو ترمنځ معاملې به په کې حیاتي او مهم رول ولري.

د سیمه ییزو او نړیوالو مهمو ستراتیژیو د پلي کولو په برخه کې د جغرافیایي موقعیت فکتور اساسي رول لوبوي، یعنې همدا جغرافیایي موقعیت دی چې په سیمه کې د هېوادونو ترمنځ د سیمه ییز اتصال او تعامل او یا هم په سیمه کې د بېلوالي او ټکر د رامنځته کېدو لامل ګرځي. افغانستان چې په سیمه کې ځانګړی ستراتیژیک موقعیت لري او د مرکزي آسیا او سوېلي آسیا سیمو د اتصال لار ده، د سیمه ییز اتصال په برخه کې د ملي پراختیا ستراتېژۍ او د سیمې هېوادونو سره په هوکړه لیکونو کې سیمه ییز اتصال او همکارۍ ته د لومړیتوب په سترګه ګوري. د افغانستان حکومت په سیمه کې د همپالنې د ځواکمنتیا او پراختیا په ځانګړي ډول اقتصادي برخه کې تمرکز کړی او په دې لاره کې یې خپلو هڅو ته دوام ورکړی دی. افغانستان په سیمه ییزه ډیپلوماسۍ کې هڅه کوي تر څو له یوې خوا افغانستان د تقابل له سیاسي او امنیتي مرکز څخه د تعامل او اقتصادي همکاریو په مرکز بدل کړي او له بلې خوا د سیمې او نړۍ هېوادونو ته د افغانستان جیو اکونومیک اهمیت او ظرفیت روښانه کړي چې تر دې مهاله یې مهمې لاسته راوړنې هم لرلې دي. دغو موخو ته د رسېدو لپاره کولای شو د ریکا او استانبول پروسې کنفرانسونه او داسې نور ډیپلوماټیک فعالیتونه لکه د همکارۍ دوه اړخیز او څو اړخیز تړونونه د میکانیزمونو په توګه یاد کړو. د ټاپي او کاسا زر پروژې، له سیمې او نړۍ سره د اورګاډي په وسیله د افغانستان تړل، د افغانستان او چین ترمنځ د ریل

اړیکه، یوه لار او یو کمربند، د لاجوردو لار، د چابهار بندر او داسې نور ټول د دغه ډول سیاست لاس ته راوړنې بلل کیږي. له بلې خوا د سیمې هېوادونه هم د سیمې د پرمختګ، اتصال او ثبات په برخه کې د افغانستان ځای ته په ځانګړې اهمیت او ارزښت قایل دي او په دې برخه کې یې ځینې اغېزمن ګامونه اخیستي دي. د مثال په توګه، ۲۰۲۱ ز.کال د جولای پر ۱٦مه د ازبیکستان د ولسمشر ـ شوکت میرضیاوف په نوښت په تاشکند کې د (مرکزي آسیا او سوېلي آسیا؛ سیمه ییز اتصال، ننګونې او فرصتونه) تر سرلیک لاندې بین المللي کنفرانس جوړ شو. په دغه کنفرانس کې چې د بېلابېلو هېوادونو نږدې ۲۵۰ لوړپوړو چارواکو، د بین المللي سازمانونو استازو او د سیمې او نړۍ متخصصانو ګډون کړی و، د ازبیکستان ولسمشر وویل: مرکزي آسیا او سوېلي آسیا په خپلو کې ګډ تمدني، فرهنګي، جغرافیایي او اقتصادي مشترکات لري او اړتیا ده چې د دې سیمو بالقوه ظرفیتونه د سیمې په عملي پوتنشیل بدل شي.[۳] همدارنګه په دغه کنفرانس کې په سیمه ییز اتصال کې د افغانستان پر ځای او رول او د افغانستان له لارې د مرکزي آسیا او سوېلي آسیا تر منځ د اتصال راتلونکي باندې هم بحث او خبرې وشوې. په سیمه کې دا ډول بین المللي کنفرانسونه او هڅې د دې ښکارندويي کوي چې په سیمه ییز اتصال کې افغانستان مهم لوبغاړی او په دې برخه کې له لوړ ارزښت څخه برخمن دی، خو په سیمه کې د اتصال شته فرصتونو څخه هغه مهال ګټه پورته کېدای شي چې په افغانستان او ټوله سیمه کې امنیت ټینګ او سوله ییزه فضا حاکمه وي، کومه چې د امریکا متحده ایالاتو په مشرۍ د بهرنیو ځواکونو په ماتې او وتلو سره افغانستان ترلاسه کړې دی.

## دویم - په سیمه ییز اتصال کې د افغانستان رول

مخکې له دې چې په نویو پېړیو کې اوبیزې لارې کشف شي او هوایي لارې پراختیا ومومي، افغانستان د ختیځ او لوېدیځ ترمنځ د سوداګرۍ او لېږد را لېږد لار بلل کېده. تاریخ ته په کتو سره افغانستان په تېرو دوو پېړیو کې د ختیځ او لوېدیځ امپراتوریو ترمنځ د حایل په توګه پاتې شوی، یعنې افغانستان په ۱۹مه او د شلمې

پېړۍ تر لومړۍ نیمایي پورې د هند په نیمه وچه کې د برېتانیا د متصرفاتو او په مرکزي آسیا کې د روسیې د متصرفاتو ترمنځ حایل په توګه پاتې شوی دی. که څه هم افغانستان تر ډېره پورې د ختیځ او لوېدیځ ترمنځ د بې طرفۍ سیاست درلود او تر ډېره وخته پورې ختیځ او لوېدیځ دغه بې طرفي په یو شکل سره منلې هم وه، خو پر افغانستان د شوروي اتحاد په یرغل سره دغه بی طرفي نقض شوه او افغانستان د کورنیو شخړو او خونړیو نښتو په مرکز بدل شو. په هر صورت، که په سیمه کې عملاً اقتصادي، سوداګریز او ټرانزیټي معاملاتو او میکانیزمونو ته وکتل شي، نو په ډاګه څرګندېږي چې افغانستان د لېرې ختیځ، منځني ختیځ، سوېلي آسیا او مرکزي آسیا سیمو په منځ کې ځانګړی موقعیت لري او د سیمې په اقتصادي، سوداګریز او ټرانزیټي اتصال کې مهم رول لوبولی شي. په سیمه کې د افغانستان ځانګړی او حساس موقعیت افغانستان ته فرصت ورکوي، تر څو له یوې خوا د لېرې ختیځ او منځني ختیځ ترمنځ او له بلې خوا د سوېلي آسیا او مرکزي آسیا ترمنځ د سوداګریز او ارتباطي پل رول ولوبوي.

## ۱- د مرکزي آسیا او سوېلي آسیا ترمنځ د سوداګریز او ټرانزیټي پل په توګه د افغانستان رول.

افغانستان که څه هم تر ډېره پورې د مرکزي آسیا سیمې ته نږدې هېواد دی، خو په سوېلي آسیا کې د هند او پاکستان ترمنځ سیالي د دې لامل شوې چې افغانستان د سوېلي آسیا سیمې پورې نږدې یاد شي. د مرکزي آسیا هېوادونو افغانستان ته تر ۲۰۱۴ ز.کال پورې له ځان څخه د یوې جلا سیمې او یوه ګواښ په سترګه کتل، خو کله چې د بهرنیو ځواکونو وتل پیل شول، د مرکزي آسیا هېوادونو ورو ورو افغانستان ته د اقتصادي او امنیتي دلیلونو پر بنسټ پام واړوه او حتی اوس دغه هېوادونه افغانستان ته د مرکزي آسیا د یوې مهمې برخې په توګه ګوري.

حقیقت دا دی چې پخوا د مرکزي آسیا او سوېلي آسیا خلکو د یوه واحد سیاسي جوړښت لاندې ګډ ژوند درلود. د البیروني، خوارزمي، ابن سینا، فارابي، بابر او داسې نور بېلابېلو علمي شخصیتونو د دې سیمې د کلتوري او تمدني اړیکو په رامنځته کولو، ساتلو او ټینګښت کې ځانګړی رول لوبولی دی. په شپاړسمه پېړۍ کې د هند نیمې وچې او منځنۍ ختیځ ترمنځ سوداګریز کاروانونه د افغانستان له لارې تېرېدل او په زرګونو آسونه د کالیو په لېږد رالېږد بوخت وو. په ۱۹ مه پېړۍ کې د سوېلي آسیا او مرکزي آسیا ترمنځ اړیکې د بېلابېلو لاملونو له مخې خرابې شوې، پولې وتړل شوې او بېلابېل خنډونه رامنځته شول. په ۱۹ پېړۍ کې د برېتانیا امپراتورۍ او روس ترمنځ په مرکزي آسیا او افغانستان کې لویه لوبه پیل شوه او په دې لړ کې برېتانیا له افغانستان څخه د حایل هېواد (Buffer state) په توګه کار واخیست. برېتانیا له دې وېرې چې تزاري روسیه د هند لوري ته خپلې مستعمرې و نه غځوي او روسیه بیا له دې وېرې چې برېتانیا له هند څخه افغانستان او مرکزي آسیا هېوادونو ته خپلې مستعمرې ونه غځوي، لویه لوبه پیل شوه، یعنې کله چې په ۱۸۳۸ ز.کال کې برېتانیا پر افغانستان یرغل وکړ، د روسیې وېره په حقیقت بدله شوه او همدا لامل شو چې روسیه هم د مرکزي آسیا هېوادونه تر خپل کنټرول لاندې راولي. افغانستان چې له تاریخي پلوه یې د سوېلي آسیا او مرکزي آسیا ترمنځ د سوداګریز، علمي او کلتوري پل په توګه رول درلود، د لویې لوبې پر مهال د تزاري روسیې او لویې بریتانیا ترمنځ د حایل هېواد په توګه پاتې شو. کله چې په ۱۹۷۹ ز.کال کې شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ، یو ځل بیا سیمې هغه فرصت له لاسه ورکړ چې د افغانستان له لارې مرکزي آسیا او سوېلي آسیا سره وصل شي او خپله د شوروي ماتېدونکی اقتصاد هم په دې حالت کې نه و چې د افغانستان له لارې د شمال او سوېل ټرانسپورټي زیربنا (پایپ لاینونه، د برېښنا د لېږد لینونه، سړکونه، رېل پټلۍ) د جوړولو لپاره د اړتیا وړ لویه پانګونه وکړي. کله چې په ۱۹۹۱ ز.کال کې شوروي اتحاد

ړنګ شو او د مرکزي آسیا هېوادونو خپلواکي ترلاسه کړه، یو ځل بیا مرکزي آسیا ته له سوېلي آسیا سره د سوداګریزو، اقتصادي او کلتوري اړیکو د بیارغولو فرصت برابر شو. له بده مرغه، په افغانستان کې له لسیزو اوږدې جګړې وروسته ژوره بې ثباتي د دې لامل شوه چې په سیمه کې د همکاریو، ښو اړیکو جوړولو او سیمه ییز اتصال لپاره مناسب شرایط وړاندې نه شي. له برېتانیا او شوروي اتحاد وروسته دربیمه بدمرغي دا وه چې د سپټامبر له یوولسمې پېښې څخه وروسته امریکا متحده ایالاتو پر افغانستان یرغل وکړ او افغانستان یو ځل بیا و نه توانېد چې په سیمه کې خپل هغه تاریخي رول چې کلونه یې د مرکزي آسیا او سوېلي آسیا سیمو تر منځ د سوداګرۍ او لېږد را لېږد په برخه کې درلود، ترلاسه کړي. خو اوس چې له یوې خوا له افغانستان څخه امریکایي ځواکونه وتلي او په افغانستان کې د اسلامي امارت په راتګ سره په ټول هېواد کې امنیت ټینګ شوی او له بلې خوا نړۍ نوي عصر ته تللې او د هېوادونو ترمنځ سوداګري او اقتصادي اړیکو پراختیا موندلې، نو افغانستان د سیمې د سوداګرۍ او اتصال په برخه کې کولای شي چې د سوېلي آسیا او مرکزي آسیا سیمو ترمنځ د ارتباطي پل رول ولوبوي.[۴]

په سیمه ییز اتصال کې د تاپي پروژه د افغانستان په مرکزي رول په پام کې نیولو سره له ځانګړي اهمیت څخه برخمنه ده. د تاپي پروژه یا د ګازو نللیکه چې ۱۸ سوه کیلومتره اوږدوالی لري، له ترکمنستان څخه د افغانستان د هرات او کندهار له لارې او بیا د پاکستان له کویټې او ملتان څخه هندي پنجاب ته ګاز لېږدوي او په سیمه کې د ګاز د لېږد تر ټولو ستره پروژه ګڼل کېږي. دغه نللیکه په کال کې د ۳۳ میلیارده متر مکعب ګاز د لېږد ظرفیت لري او یادو څلورو هېوادونو ته ځانګړی اقتصادي ارزښت لري.[5] د دې پروژې چارې په ترکمنستان کې بشپړې شوې دي او ټاکل شوې وه چې تر ۲۰۱۹ ز.کال پورې دغه پروژه په افغانستان کې هم بشپړه شي خو د امنیتي ستونزو له امله یې چارې ځنډېدلې دي. په افغانستان کې اسلامي امارت ډاډ ورکړی، چې د دې پروژې امنیت ته به بشپړه پاملرنه کوي. د افغانستان لپاره د تاپي پروژې د اقتصادي ګټو په اړه ویلای شو

چې د دې پروژې په بشپړېدو سره به هر کال افغانستان د ټرانزیت په برخه کې نږدې ۴۰۰ میلیون ډالره ترلاسه کړي چې د افغانستان د ملي بودیجې په تأمینولو کې به ور ځخه ګټه واخیستل شي. پر دې سربېره افغانستان به هر کال د صفر عشاریه ٦ میلیارده متر مکعب ګازو ځخه برخمن کېږي[6] او په هغو سیمو کې چې دغه نللیکه تېرېږي خلکو ته به یې د کار زمینه برابرېږي. له شک پرته له هغو سیمو ځخه چې دغه نللیکه تېرېږي د هغې سیمې سوداګري به ورسره غوړېږي او له دې سره به د اورګاډي پټلۍ، سړکونه او د برېښنا پروژې هم پلې شي.

د سیمې په اقتصادي پرمختګ او اتصال کې د کاسا زر پروژه هم په خپل ځای له ځانګړي اهمیت ځخه برخمنه ده. کاسا زر د برېښنا او انرژۍ یوه لویه پروژه بلل کېږي، چې د قرغیزستان او تاجیکستان له اړتیا ډېره برېښنا افغانستان او پاکستان ته رسوي. د دې پروژې له مخې، قرغیزستان او تاجیکستان به د ۱۲۲۲ کیلومتره د انرژۍ لېږد لیکې پر مټ ۳۰۰ مېګاواټه برېښنا افغانستان ته او ۱۰۰۰ مېګاواټه پاکستان ته لېږدوي، چې د ۲۰۱٦ز. کال په مۍ میاشت کې پرانیستل شوه، او د نړیوالو سازمانونو مالي ملاتړ ور سره دی.[7] له دې برېښنا ځخه به د افغانستان نږدې شپږ سوو سیمو ته برېښنا ور کړل شي او د دې تر څنګ افغانستان به په کال کې ۴۵ میلیون ډالره د برېښنا د ټرانزیت له لارې عاید هم ولري چې د افغانستان په ملي بودیجه کې به ورځخه ګټه واخیستل شي. د دغې اقتصادي پروژې په پلي کېدو سره به له یوې خوا افغانستان د منځنۍ اسیا او سوېلي اسیا ترمنځ د انرژۍ د سوداګرۍ او لېږد په برخه کې مهم رول ولوبوي چې د یو ټرانزیټي هیواد په توګه به په افغانستان کې د اقتصادي ودې او ثبات لامل وګرځي او له بلې خوا به د تاجیکستان او قرغیزستان جمهوریتونو ته د یوې ثابتې عایداتي سرچینې په توګه کار ورکړي.

## ۲- د لېرې ختیځ او منځنۍ ختیځ ترمنځ د سوداګریز او ټرانزیټي پل په توګه د افغانستان رول

په افغانستان کې څه بانـدې څلوېښت کلنـه جګـړه د دې لامـل شـوې چـې د سیمې هېوادونو ترمنځ د بې باورۍ فضا رامنځته شي او د همدې بې باورۍ لـه املـه د سیمې هېوادونو خلک اړ شوي دي چې د پرېمانه طبیعي سرچینـو او شـتمنۍ پـه لرلو سربېره کلونه کلونه په بېوزلۍ کې ژوند وکړي، خـو اوس د افغانسـتان پـه اړه د سیمې هېوادونو نظر بدل شوی او په دې قانع شـوي دي چـې افغانسـتان پـه سـیمه کې د سوداګرۍ او ټرانزیټ په برخه کې د ارتباطي پل رول لري. له همدې امله دی چـې افغانسـتان د آسـیا پـه څلـور لارې بـدلولو برخـه کـې افغانسـتان او د سـیمې هېوادونو ځینې عملي ګامونه اخیستي دي. د بېلګې په ډول په لېرې ختیځ کې نـن سبا چین چې د نړۍ دویم لوی اقتصادي هېواد دی، هڅه کوي تر څو لـه یـوې خـوا خپلو صادراتو ته بازار ومومي او له بلې خوا د نړۍ د انرژۍ سرچینو ته لاسرسی پیـدا کړي. چین دې موخې ته د رسېدو لپاره له پخوا راهیسې د فارس خلـیج هېوادونـه ( ایران، عراق، کویټ، قطر، بحرین، عربي متحده امارات، سعودي عربستان او عمان ) په نښـه کـړي دي. لـه همـدې املـه د چـین دولـت هڅـه کـوي چـې د قرغیزسـتان، ازبکستان او د افغانستان له حیرتان بندر څخه اسلام کلا، د ایران چابهار بندر لوري ته د اوسپنې پټلۍ جوړولو ته پراختیا ورکـړي.[۸] د اوسـپنې دا پټلـۍ بـه چـین تـه دا فرصـت ورکـړي چـې لـه تـر ټولـو لنـډې او لـږ لګښـت لرونکـې لارې څخـه پـه ګټـه اخیستنې سره وکولای شي د فارس خلیج بازار ته لاسرسی پیدا کړي.

د وربښمو لار چې له ډېرې پخوا زمانې راهیسې یې ختیځ، لوېدیځ او سوېلي آسـیا لـه افریقا او اروپا سره د سوداګرۍ او لېرد را لېرد په موخه تړاو ورکړی و او تـر ۱۵ مـې زېږدیـزې پېړۍ پورې د نړۍ تر ټولو لویه سوداګریزه لار بلل کېده؛ اوس چین غـواړي چـې د وربښـمو

نوې لار بیا احیا کړي. د وریښمو لارې طرحه د لومړي ځل لپاره د چین د ولسمشر شي جینګ پین له خوا چې د وچې او اوبو له دوه برخو څخه جوړه ده، وړاندې شوه. چین د وچې برخې په لاره کې هڅه کوي چې ختیځه آسیا له مرکزي آسیا سره، مرکزي آسیا له لوېدیځې آسیا سره او لوېدیځه آسیا له مدیترانې او ختیځې اروپا سره ونښلوي.[9]

چین د دې لارې په احیا کولو سره غواړي چې له آسیایي، افریقایي او اروپایي هېوادونو سره خپلو اړیکو ته پراختیا ورکړي او دې موخې ته د رسېدو لپاره د لویو لارو او بندرونو جوړولو په برخه کې پانګونه کوي. چین د یوې لارې او یو کمربند اقتصادي پلان سره د پاکستان ګوادر بندر او منځني ختیځ ته رسېدل غواړي او له نورو لارو هم ځان تر اروپا رسوي. چین د لومړي ځل لپاره په ۲۰۱۳ ز.کال کې د یوې لارې او یوه کمربند (One belt one road) چې د وریښمو نوې لار په نوم هم یادیږي، د بیا رغولو هڅې پیل کړې.[10] چین دغې موخې ته د رسېدو لپاره په ۲۰۱۷ ز.کال کې د چین- پاکستان له اقتصادي دهلیز سره د افغانستان د نښلولو غوښتنه وکړه تر څو د افغانستان له لارې منځنۍ اسیا هېوادونو ته خپلې پروژې وغځوي،[11] خو په افغانستان کې امنیتي حالاتو ته په کتو سره تر اوسه په دې برخه کې د پام وړ پرمختګ نه دی شوی. د وریښمو له لارې څخه په ګټه اخیستنې سره افغانستان کولای شي چې په آسانۍ سره لېرې ختیځ او اروپایي هېوادونو ته خپل کورني تولیدات صادر کړي. د وریښمو لارې پورې اړوندو پروژو سره به د چین هېواد پانګه وال وکولای شي چې په افغانستان کې پانګونه وکړي. افغانستان به فرصت تر لاسه کړي چې د سیمې لویو بازارونو ته په آسانۍ سره خپل صادرات ترسره کړي او دا چاره به د افغانستان د سوداګرۍ د پراختیا لامل شي. همدارنګه له دې لارې څخه افغانستان کولای شي ښه ګمرکي عاید ترلاسه کړي او خپلې ملي بودجې ته د ښې سرچینې په توګه کار ترې واخلي. د افغانستان د وارداتو په لګښتونو کې به کمښت راشي او د افغانستان د مس عینکو د کان مس به په آسانۍ سره چین ته ولېږدول

شي. نو ویلای شو چې دا لار له یوې خوا چین او افغانستان دواړو هېوادونو ته ګټوره ده او له بلې خوا به دغه هېوادونه د سیمې په اتصال کې ځانګړی رول ولوبوي. د وربښمو نوي پروژې په اجرا کولو سره به افغانستان په اقتصادي، سوداګري او ټرانزیټي برخه کې یو ځل بیا خپل تاریخي ځای ترلاسه کړي او د سیمې په مهم سوداګریز او ټرانزیټي مرکز به بدل شي. د وربښمو نوي پروژې په بشپړولو سره به له یوې خوا د مرکزي آسیا او سوېلي آسیا هېوادونو ترمنځ سوداګریزې اړیکې پراخې شي او له بلې خوا به د لېرې ختیځ او لویدیځې آسیا هېوادونو ترمنځ اقتصادي راکړه ورکړه او سوداګري هم پراختیا ومومي. دا چې افغانستان د دې لارو په زړه کې پروت دی، و به کولای شي چې د سیمې اقتصادي رګونه فعاله کړي او له دې لارې به د سیمې هېوادونو ګټې له خپلو ګټو سره تړاو ورکړي او دا هېوادونه به د سیمه ییزې همکارۍ او همپالنې لوري ته بوځي.

د لاجوردو لار چې د هرات له تور غونډۍ او د فاریاب له اقینې بندرونو څخه پیلېږي او د ترکمنستان د ترکمن باشي بندر له لارې ازربایجان، ګورجستان، تور سمندرګي او ترکیې څخه په تېرېدو افغانستان له ازادو اوبو سره نښلوي، د سیمې اتصال او اقتصادي پراختیا کې مهم رول لوبوي. دغه لار چې تړون یې د ۲۰۱۷ ز.کال نومبر پر ۱۵ د افغانستان، ترکمنستان، ګورجستان،ازربایجان او ترکیې د بهرنیو چارو وزیرانو په عشق اباد کې لاسلیک کړی و، په ۲۰۱۸ ز.کال کې پرانیستل شوه.[۱۲] د لاجوردو لارې په وسیله افغان سوداګر کولای شي پرته د کراچۍ له بندر څخه آزادو اوبو ته خپل مالونه ولېږدوي او افغانستان په آسانۍ سره کولای شي اروپا ته خپل صادرات او واردات وکړي.

په پایله کې ویلای شو چې د افغانستان په مرکزي رول سره د چین اقتصادي کمربند، ټاپي او کاسا زر پروژو په پلي کېدو سره به افغانستان له یوې خوا د سیمې اقتصادي همپالنې محور په توګه رامنځته شي او له بلې خوا به دغه پروژې د

افغانستان په اقتصادي وده کې ځانګړی رول ولوبوي او افغانستان بـه د سـیمه ییـز اقتصـاد په لوري روان کړي. د یـادو لویـو اقتصـادي پـروژو پـه پـلي کېـدو سره بـه د سـویلي آسـیا او مرکزي آسیا خلک له شته اقتصادي بحـران څخـه و ابېسـتل شي او پـه سـیمه او افغانسـتان کې به د بریښنا د کموالي ستونزه تر یوې کچـې حـل شي او هـم بـه د بېکـارۍ، ترهګـرۍ، بېسوادۍ او نشه يي توکو د کاروبار په کمزوري کېدو کې مهم رول ولوبوي.

## پایله

افغانستان د جغرافیایي موقعیت له پلوه په وچه کې ایسـار هېـواد دی، خـو د سـویلي آسیا، مرکزي آسیا او منځنـي ختـیځ سیمو پـه مـنځ کـې ځـانګړی او حسـاس ځـای لـري. افغانستان چې خپله آزادو اوبو ته لار نه لري او د نړۍ له نورو هېوادونـو سره پـه اقتصـادي او سوداګریزو اړیکو ټینګولو کـې لـه سـتونزو سره مخـامخ دی، هڅـه کـوي چـې د سـیمه ییـز اتصال په رامنځ ته کېدو سره آزادو اوبو ته آسانه او نږدې لار پیدا کړي. افغانسـتان لـه خپـل جغرافیایي موقعیت څخه په سمې ګټې اخیستنې او مناسب سیاسـت پـه لرلـو سره کـولای شي دغو موخو ته ورسېږي. په سیمه کې د سیمه ییـزو لویـو اقتصـادي او سـوداګریزو پـروژو په عملي کولو سره به افغانستان د پوځي سیالیو پر ځـای د همکـاریو پـر مرکـز بـدل شي او په دې برخه کې به عمـلاً د افغانسـتان لـه جیوپولیټیـک موقعیـت څخـه سـالمه ګټـه پورتـه شي. افغانسـتان بـه د آسـیا د څلـور لارې پـه توګـه پـه عمـلي ډول سره وکـولای شي چـې مرکزي آسیا له سویلي آسیا سره ونښلوي او د سیمې په معاملاتو کې به د یوه مهـم لوبغـاړي په توګه رول ولوبوي. په سیمه کې له اقتصادي راکړې ورکړې سره بـه سـیاسي او اقتصـادي ثبات ته لار هواره شي او ورسره به د بې وزلۍ او بې باورۍ فضـا هـم لـه منځـه لاړه شي. پـه سـیمه کـې د اتصـال لـه لارې افغانسـتان کـولای شي چـې خپـل اقتصـاد لـه جغرافیـایي محاصرې څخه وباسي او ځان د آسیا د ټرانزیـټ او سـوداګرۍ د څلـور لارې پـه مرکـز بـدل کړي. همدارنګه افغانستان به وکولای شي چې د مرکـزي آسـیا او سـویلي آسـیا تـرمنځ او د لېرې ختیځ او منځني ختیځ سیمو ترمنځ ارتباطي پل په توګـه رول ولوبـوي او لـه دې لارې څخه به ډېر مادي او معنوي امتیازات هم ترلاسـه کـړي چـې دا چـاره بـه لـه شـک پرتـه پـه افغانستان کې د اقتصادي پراختیا او سیاسي او امنیتي ثبات لامل وګرځي.

## وړاندیزونه

۱ - د دې لپاره چې افغانستان د یو خپلواک، ځواکمن او باثباته هېواد په توګه په سیمه او نړۍ کې ځان مطرح او خپل شتون او ځای وساتي، نو باید افغانستان له خپل جغرافیایي موقعیت څخه د سیمې په سوداګرۍ او ټرانزیټي برخو کې سمه ګټه پورته کړي.

۲ - افغان دولت ته په کار ده چې د سیمې لویو پروژو په پلي کولو او امنیت ساتلو کې مثبت رول ولوبوي.

۳ - په سیمه ییز اتصال کې د افغانستان پر مرکزي رول او د آسیا په څلور لارې د افغانستان په بدلولو کې خپل بهرني سیاست کې ګټوره سیمه ییزه ډیپلوماسي غوره کړي. یعنې دا چې د مرکزي او سوېلي اسیا سیمې له اوږدو تاریخي اړیکو او ګډو ګټو سره تړلې دي، افغان دولت ته په کار ده چې د ګډو ګټو پر بنسټ دې د بهرنیو چارو وزیرانو په کچه د منځنۍ اسیا + سوېلي اسیا خبرو اترو او په دې برخه کې ګډو کنفرانسونو او څو اړخیزو همکاریو رامنځ ته کولو ته د یوې عاجلې اړتیا او لومړیتوب په سترګه وګوري.

۴ - په سیمه ییزه او نړیواله کچه دې د افغانستان په اړه د هېوادونو د رامنځ ته شوي باور د لا پیاوړي کېدو هڅې وشي، تر څو افغانستان د سیمې په اتصال کې خپل تاریخي ځانګړی ځای بېرته ترلاسه کړي.

۵ - د سیمې هېوادونه هم باید لومړی تر هر څه د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپېژني، تر څو په سیمه کې د دولت په دولت اړیکې پراختیا ومومي او په سیمه کې د بې باورۍ واټن لېرې شي. د سیمې هېوادونه باید د ترسره شویو تړونونو په چوکاټ کې د سیمې لویو پروژو ملاتړ ته ژمن واوسي او تېول باید یو د بل پر وړاندې د متقابل درناوي او د حاکمیت د تساوي اصل رعایت کړي او د سیمه ییز اتصال پر وړاندې د خنډونو لېرې کولو او له فرصتونو څخه په ګټه اخیستنه کې ګډه همکاري وکړي.

## مأخذونه

1- ADI Analytics, Regional spotlight: Oil & Gas in Central Asia, 2019. Online available at:
https://adi-analytics.com/2021/05/28/regional-spotlight-oil-gas-in-centralasia/#:~:text=As%20of%202019%2C%20the%20total,in%20Kazakhstan%20and%20Turkmenistan%2C%20respectively.

2- Gerald Hosp, Nzz, Is Turkmenistan an alternative to Russia? A family of natural gas oligarchs has the country in its grip, May 5, 2022. Online available at:
https://www.nzz.ch/english/is-turkmenistan-an-alternative-to-russian-gas-despite-autocrats-ld.1682443

3-Tori Macdonald, Central and South Asia:Regional Connectivity Conference - Exploring the challenges and opportunities, July 19, 2021. Online available at:
https://www.eureporter.co/world/central-asia/2021/07/19/central-and-south-asia-regional-connectivity-conference-exploring-the-challenges-and-opportunities/

۴- عمار، محمد غنی، کنفرانس بین‌المللی آسیای میانه و جنوبی؛ افغانستان بازیگر اتصال منطقه‌ای، هشت صبح ورځپاڼه، د زمري ۱۹، ۱۴۰۰.
https://8am.media/international-conference-on-central-and-south-asia-afghanistan-is-a-regional-connection-actor/

5-TAPI Project, Ministry of Mines and Petroleum, Islamic Emirate of Afghanistan, August 2022. Online available at:
https://momp.gov.af/index.php/tapi-project

6-Putz, Catherine, TAPI Moves In to Afghanistan, Taliban Promise to Protect the Project, The Diplomat, February 27, 2018. Online available at:
https://thediplomat.com/2018/02/tapi-moves-into-afghanistan-taliban-promise-to-protect-the-project/

7-ABS website, President Ghani Opens Construction Work of Casa-1000 Project in Afghanistan, August 2022. Online available at: https://main.dabs.af/News/NewsDetail/3154

۸- بهزاد، ظاهر، علیزاده، مستوره، نقش افغانستان در احیای چهارراه بازرگانی آسیا، موسسه مطالعات راهبردی شرق، ۲۹ جوزا ۱۴۰۱. د لا زیاتو معلوماتو لپاره وگورئ:
/https://www.iess.ir/fa/analysis/3158

9- Kuo, Lily and Kommenda, Niko, What is China's Belt and Road Initiative? The Guardian, Economics, July 2022. Online available at:
https://www.theguardian.com/cities/ng-interactive/2018/jul/30/what-china-belt-road-initiative-silk-road-explainer

10- Chatzky, Andrew and McBride, James, China's Massive Belt and Road Initiative, January 28, 2020. Online available at:

https://www.cfr.org/backgrounder/chinas-massive-belt-and-road-initiative

11- Chandran, Anurag Ram, Why Afghanistan Should Join CPEC, the diplomat, May 05, 2017. Online available at:

https://thediplomat.com/2017/05/why-afghanistan-should-join-cpec/

۱۲- نور، غزا، لاجورد لار؛ افغانستان له کراچۍ بندر پرته نړۍ سره نښلول کېږي، بي بي سي پښتو، لینډۍ ۱۳۹۷. د لازیاتو معلوماتو لپاره وګورئ:

https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-46548599

***Published:*** Afghanistan Science Academy (ASA)
***Chief Editor:*** Asst. Prof. Mohammad Tahir sharar
***Assistant:*** Asst. Prof. Mohammad shifa Mushfiq

***Editorial Board:***
Assoc. Prof. Dr. Rafiullah Niazi
Assoc. Prof. Abdul Shakoor Salangi
Asst. Prof. Abdul Saboor Mubariz
Asst. Prof. Imran Zakeria

***Composed Designed By:*** Sefatullah Mansoor

***Annual Subscription:***
Kabul: 320 AFS
Province: 480 AFS
Foreign countries: 20 USD
Price of each issue in Kabul: 80 AFS

- For the University Professors, Teachers and members of Academy of Sciences: 70 AFS
- For the university and school students: 40 AFS
- Other offices: 80 AFS

***Contact Numbers:*** 0202201279 - (+93) 788 000044
***Email:*** simayiz.mujala@yahoo.com
***Email:*** Info@asa.gov.af